国家级教学成果二等奖系列教材

印度语言文学国家级特色专业建设点系列教材

پښتو مطالعه

普什图语阅读教程(1)

王 静 缪 敏 何 杰◎编著

世界图书出版公司

策划编辑　刘正武
责任编辑　魏志华　熊长林
责任技编　刘上锦
封面设计　吴伟边

پښتو مطالعه

普什图语阅读教程(1)

内容简介

本教材系普什图语阅读课配套教材。通过对本教材的学习，学生可以逐步提高普什图语阅读能力，掌握普什图语阅读技巧，培养准确理解和分析归纳的能力。

本教材课文均选用普什图语书籍、报刊杂志及网站的原文资料。选材力求题材多样，内容丰富，涵盖面广。本教材分为两册，每册15课；此系第1册。每篇课文含主课文及补充读物各一篇，内容相辅相成。每课由课文、生词、注释和课后练习四个部分组成。生词部分除汉语释义外，还配有读音。注释主要包括背景知识介绍、常用短语解释和难句解释。对部分能够通过工具书查到的词语未加注释。练习部分旨在检查学生对课文大意、基本观点、基本事实等的理解情况。书后附有词汇表，方便学习者查阅。

作为普什图语专业本科教材，本书适合大学二年级学生使用。同时也可供普什图语进修者和自学者使用。

ISBN 978-7-5100-9100-1

9 787510 091001 >

定价：38.80 元

国家级教学成果二等奖系列教材
亚非语言文学国家级特色专业建设点系列教材

PUSHITUYUYUEDUJIAOCHENG (1)

普什图语阅读教程(1)

王　静　缪　敏　何　杰◎编著



世界图书出版公司
广州·上海·西安·北京

图书在版编目（CIP）数据

普什图语阅读教程. 1 / 王静，缪敏，何杰编著. —广州：世界图书出版广东有限公司，2014.12

ISBN 978-7-5100-9100-1

Ⅰ. ①普… Ⅱ. ①王… ②缪… ③何… Ⅲ. ①普什图语—阅读教学—教材 Ⅳ. ①H735

中国版本图书馆 CIP 数据核字（2014）第 281366 号

普什图语阅读教程（1）

策划编辑：刘正武
责任编辑：魏志华　熊长林
出版发行：世界图书出版广东有限公司
（广州市新港西路大江冲 25 号　邮编：510300）
电　　话：020-84451969　84459539
网　　址：http://www.gdst.com.cn
经　　销：各地新华书店
印　　刷：广东天鑫源印刷有限责任公司
版　　次：2014 年 12 月第 1 版　2014 年 12 月第 1 次印刷
开　　本：787mm × 1092mm　1/16
字　　数：198 千
印　　张：11.75
书　　号：ISBN 978-7-5100-9100-1 / H·0886
定　　价：38.80 元

版权所有　侵权必究

咨询、投稿：020-84460251　gzlzw@126.com

前 言

《普什图语阅读教程》为中国非通用语教学研究会会长、解放军外国语学院亚非语系主任、博士生导师钟智翔教授主持的国家级教学成果二等奖系列教材之一，也是国家外语非通用语种本科人才培养基地暨印度语言文学国家级特色专业点建设教材。

本教材是解放军外国语学院普什图语专业自2004年成立以来，在使用多年的阅读教材基础上，结合人才培养新需求，组织编写的一套普什图语阅读课配套教材。通过对本教材的学习，学生可以逐步提高普什图语阅读能力，掌握普什图语阅读技巧，培养准确理解和分析归纳的能力。

本教材课文均选用普什图语书籍、报刊杂志及网站的原文资料。选材力求题材多样，内容丰富，涵盖面广。在编写过程中，我们根据教学需要作了必要的修改。《普什图语阅读教程》分为两册，每册15课。每篇课文含主课文（لومړی برخه）及补充读物（دوهمه برخه）各一篇，内容相辅相成。每课由课文、生词、注释和课后练习四个部分组成。生词部分除汉语释义外，还配有读音。对部分能够通过工具书查到的词语我们未加注释。注释主要包括背景知识介绍、常用短语解释和难句解释。练习部分旨在检查学生对课文大意、基本观点、基本事实等的理解情况。书后附有词汇表，方便学习者查阅。

《普什图语阅读教程》作为普什图语专业本科教材，适合二年级学生使用，计划课时为64学时。教师在实际的教学过程中可以根据本校的具体情况加以适当的调整。

本教材在编写过程中，得到了解放军外国语学院亚非语系教材建设委员会、解放军外国语学院印度语言文学国家级特色专业建设点以及中国出版集团世界图书出版广东公司的大力支持，在此一并表示衷心的感谢！

由于编者水平有限，教材中难免会有一些错误和疏漏，希望各位专家、学界同仁不吝批评指正。

编 者

2014年9月1日

于解放军外国语学院

فهرست

لومړی لوست 1

لومړی برخه: لوی اختر 1

دوهمه برخه: کار او د نړۍ د زیار کښانو نړیوال جشن 6

دوهم لوست 12

لومړی برخه: مشیني انسان 12

دوهمه برخه: د ګرځنده ټیلیفونو زیات کارول پر اوربدو ناوړه اغېزه کولای شي 17

دریم لوست 22

لومړی برخه: د ګلالۍ علاج 22

دوهمه برخه: زما ښوونکی او ټولګیواله 27

څلورم لوست 32

لومړی برخه: د خوارې کښنو کلي 32

دوهمه برخه: د ګاونډي حق 37

پنځم لوست 42
لومړی برخه : څو پښتو متلونه 42
دوهمه برخه : د کال میاشتې او د کال لومړۍ ورځ 47

شپږم لوست 53
لومړی برخه : زه ښه شاګرد او ښه هلک یم 53
دوهمه برخه : د قوم زړور بچی 57

اووم لوست 63
لومړی برخه : د لیک اهمیت 63
دوهمه برخه : انسان لیکل څنګه زده کړل؟ 68

اتم لوست 73
لومړی برخه : هرات 73
دوهمه برخه : د پېښور سیل 79

نهم لوست 84
لومړی برخه : په غارونو کې لټول 84
دوهمه برخه : زه یو پیلوټ یم 89

لسم لوست 94
لومړی برخه : میرویس او ښوونځی 94

دوهمه برخه : ډاکوان نیول 99

یوولسم لوست 105
لومړۍ برخه : انسان دوستی 105
دوهمه برخه : غم او خوشحالی 110

دوولسم لوست 116
لومړۍ برخه : احمد شاه بابا 116
دوهمه برخه : خپل ملیت ساتل 121

دیارلسم لوست 127
لومړۍ برخه : نظر لا لا 127
دوهمه برخه : هېڅوک ونه پوهېد! 132

څوارسم لوست 139
لومړۍ برخه : زوړ سړی او د هغه جاغور 139
دوهمه برخه : کجاوه راوړه 144

پنځلسم لوست 149
لومړۍ برخه : دوې لارې 149
دوهمه برخه : نوی ژوند 154
لغتونه 160

第一课

لومړی لوست

لومړۍ برخه

لوی اختر

پلار چه د بهر نه راغی نو مسکی مسکی کېده،اواز یي وکړ:"زرغونې،میروېس، ګل څانګې، تاسو چېرته یي؟""دا یو دادا ، دا دی درغه." دې سره درې واړه راورسېدل. پلار یي وویل،"تاسو ته یو زېری درکوم، ووایي، دا به څه وی؟" زرغونې وویل،"لوی اختر راروان دی. مونږ ته به دې نوې جامې راوړې وی."

"نه...... شاباس سوچ وکړئ"، پلار یي وویل. ګل څانګې وویل،"چېرته چکر ته به مو بوځې؟ "

پلار یي وویل،"نه، دا هم ټیک نه ده".

"زه پوه شوم! جمال کاکا راځی"، میروېس وویل.

پلار وویل "ډېر اعلی میروېس! جمال تره دې د بچو سره اختر ته را راوان دی." "واه واه! د اجمل او ګلالۍ سره به اختر ډېر خوند وکړی"،زرغونې وویل.

بله ورځ هغوی راورسېدل. خوشحالی شوه.

د اختر نه یوه ورځ وړاندی نیکه، پلار او جمل کاکا د قربانۍ څاروو راوستلو ته لاړل. د وړو لارې ته سترګې وې. په دی کښی یي می می او بی بی واورېدل. په منډه بهر ور ووتل. پلار یي دټانګې نه د قربانۍ څاروی راکوزول.

" دا ښومره ښکلی برګی چېلی دی"! ګلالۍ وویل. په ملا یي ښایسته شنه کپړه وه. ګل څانګې سپین ګډوری ته اشاره وکړه او ویي ویل، " دا به زما وی". په وړی یي ژېړ او سور رنګ لګېدلی و. نیکه او پلار یي

د قربانۍ څاروی د کور په انګړ کښې په ونو پورې وتړل.

میروېس ورته د څښلو دپاره صفا اوبه راوړې او ورته یې کېښودې. اجمل ور ته د خوراک دپاره د ونو تازه پاڼې راوړې. نیا په مینه د دواړو څاروو په ملا لاس راښکله.

ماښام ټول په برنډه کښې کښېناستل.

" مونږ قرباني ولی کوو؟" ګلالۍ پوښتنه وکړه.

نیکه وویل، بچو! یو ځل حضرت ابراهیم علیه السلام خپل زوی اسماعیل علیه السلام ته وویل چه زویه، زه په خوب کښې وینم چه ته حلالوم. ووایه ستا څه خیال دی؟ هغه ور ته وویل ای پلاره! هم هغسی وکړه چه څه حکم در ته شوی دی. که خدای ته منظوره وی نو ما به صبر کوونکی ومومې. ابراهیم علیه السلام چه دا ځواب واورېد، نو خوشحاله شو.

حضرت اسمعیل علیه السلام یې صحرا ته بوت او هلته یې پړمخ څملاوه.په اصل کښې د الله د طرفه په پلار او زوی دا یو ازمیښت و چه دواړه پکښې کامیاب شول. الله تعالی د اسمعیل علیه السلام په ځای ګډه راولېږه او حلال یې کړه. د دې لویې پېښې په یاد کښې د دنیا ټول مسلمانان په لوی اختر کښې د څاروو قربانی کوي.

د اختر سهار ډېر مزېدار و. هر چا نوې جامې اغوستلې وې. د نمونځ نه وروسته قربانی وشوه او غوښه یې په خپلوانو، ګاونډیانو او غریبانو ووېشله.

مور اوچاچي یې په باور چی خانه کښې پخلی کاوه. وړو شاته غولی کښې لوبې کولې. مور یې ورته اواز وکړ. هغوی په منډه منډه راغلل. هلته په لوښو کښې د خوراک څېزونه اچولی شوی وو. د وړو خولې ور ته اوبه اوبه شوې. چاچی وویل،"شاباس بچو، دا غریبانو او ګاونډیانو کره یوسئ. بیا به مونږ ډوډۍ په یو ځای خورو. وړو زر زر لوښي اوچت کړل او په وېشلو یې شروع وکړه."

ماشومانو چه خوراک ووېشه او راغلل نو مور یې اواز وکړ: "راځئ ډوډۍ تیاره ده!" هغوی په منډه منډه

د ډوډۍ ځای ته راغلل. په دسترخوان باندې قسم قسم خوراکونه پراته وو او خوشبويي ترې ختله.

ميرويس وويل،"واه واه، نن خو مور او چاچي زبردسته ډوډۍ کړې ده، څه ښکلي بويونه دي. " ګل ځانګې وويلې،"د اختر ورځ نه ده څه! ټولو د مور د پخلي صفت وکړ. کاکا پاڅېدلو سره وويل،"بچو، مابنام له ځان تيار کړئ چه مېلې ته مو بوځم."ماشومانو چه دا واورېدل، نو د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېدل.

单词 لغتونه

好消息	[阳]	/ze'rai/	زېرى
好样的！好极了！真好！	[叹]	/'sha:ba:s/	شاباس
(表示高兴)妙极了，太好了，好极了	[叹]	/wa:h/	واه
草原，荒原，荒漠，原野，沙漠	〈阿〉[阳]	/sah'ra:/	صحرا
仰面朝天的，仰面躺着的	[形]	/pər'məkhi/	پړمخ
考验	[阳]	/azma'yəht/	ازمېښت
伯母，大娘；婶	[阴]	/cha:'chi:/	چاچي
有力的，强有力的，强大的；有权力的，威严的	〈波〉[形]	/zabar'dast/	زبردست

注释 تشريح

1 لوى اختر 宰牲节，又称古尔邦节，阿拉伯语“عيدالاضحى يا عيدقربان”，意为献身，以宰牲献祭的意思。伊斯兰教历的十二月十号，即朝觐者麦加活动的最后一天为宰牲节。

2 کوچنى اختر 开斋节，阿拉伯语“عيدالفطر”，在伊斯兰教历的十月一日，即斋月结束后第一天举行。

练习 تمرين

一、回答问题。

۱ - اختر ته د زرغونې کره څوک راتلل؟

۲ - ولې مسلمانان په لوی اختر کښې قرباني کوي؟

۳ - په لوی اختر کښې کوم کوم څاروی قرباني کولی شي؟

۴ - د زرغونې د کور خلکو اختر څنګه وکړ؟

۵ - ته اختر څنګه کوې؟

二、填空题。

۱ - ګل څانګې وویل، "چېرته چکر ته به ________ بوځې؟" پلار یې وویل، "نه، دا هم ټیک نه ده".

۲ - د اختر نه یوه ورځ وړاندې نیکه، پلار او جمل کاکا د ________ راوستلو ته لاړل.

۳ - یو ځل حصرت ________ خپل زوی اسماعیل علیه السلام ته وویل چه زویه، زه په خوب کښې وینم چه ته حلالوم.

۴ - د دې لویې پېښې په یاد کښې د دنیا ټول ________ په لوی اختر کښې د څاروو قرباني کوي.

۵ - "واه واه، نن خو مور او چاچې زبردسته ډوډۍ کړې ده، ________ ښکلې بویونه دي.

三、单项选择题。

۱ - اجمل څوک دی؟

(الف) د میروېس ورور　　(ب) د میروېس کاکا

(ج) د میروېس پلار　　(د) د میروېس اکازوی

۲ - د اختر نه یوه ورځ وړاندې څوک د قربانۍ څاروو راوستلو ته لاړل؟

(الف) نیکه، پلار او اجمل　　(ب) نیا، پلار او جمل

ج) نیکه،بابا او جمل　　　　د) بابا ،پلار او اجمل

۳- دوی د قربانۍ دپاره ځومره څاروی واخسته؟

الف) ۱　　　　ب) ۲

ج)۳　　　　د) ۴

۴- میروېس د قربانۍ څاروی ته څه راوړ؟

الف) صفا لوبه　　　　ب) د ونو تازه پاڼې

ج) خوراک　　　　د) پته نسته

۵- په لاندنی څرګندوني کښې کومه درسته وه؟

الف) حصرت ابراهیم علیه السلام د اسماعیل علیه السلام ورور و.

ب) غوښه په دري کاسان ووېشله شوه.

ج) غریبانو او ګاونډیانو د میروېس کور ته ډوډۍ وخوړله.

د) د قربانی نه وروسته نمونځ وشوه

四、翻译句子。

۱-دا یو دادا ، دا دی درغه.

۲- نیکه او پلار یي د قربانۍ څاروی د کور په انګنړ کښې په ونو پوری وتړل.

۳- یو ځل حصرت ابراهیم علیه السلام خپل زوی اسماعیل علیه السلام ته وویل چه زویه، زه په خوب کښې وینم چه ته حلالوم.

۴- که خدای ته منظوره وی نو ما به صبر کوونکی ومومې. ابراهیم علیه السلام چه دا ځواب واورېد ، نو خوشحاله شو.

۵- حضرت اسمعیل علیه السلام یي صحرا ته بوت او هلته یي پړمخ څملاوه.په اصل کښې د الله د طرفه په پلار او زوی دا یو ازمیښت و چه دواړه پکښې کامیاب شول.

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

کار او د نړۍ د زیار کښانو نړیوال جشن



د ژوند معنا کوښښ کول دي . بې کوښښه ژوند بې ثمره دي . هر څوک هڅه کوي او هر څوک په يوه کار لګيا دي . انسان کار کوي ، څاروي کار کوي ، ماشينونه کار کوي ، مور او پلار مو ستاسې د ژوند لپاره زيار کاږي . هو ، هر چېرې چې کار او کښښ دي ، هلته ژوندون ، بډايي او مدنيت دي . هغه څوک چې زيار نه کاږي په نيستي ، غم او خپګان اخته کيږي .

خپل ټولګي ته وګورئ ، هر څوک چې ډېر کوښښ کوي او خپل درسونه لولې ، پخپل ټولګي کې تر ټولو ښې نمرې اخلي . مونږ پدې باور لرو چې تاسې پخپلو لوستو کې کوښښ کوي . که تاسې پروسږ کال پخپلو درسونو کې زيار نه واي ايستلای ، دريم ټولګي ته بريالې کېدلای نه شوای . دا ستاسې د زيار او کوښښ ډېر ښه دليل دي .

د دريم ټولګي درسونو ته په سر سري نظر مه ګورئ ، په دې ټولګي کې به تاسې ډول ډول درسونه ولولئ او نوي شيان به ترې زده کړئ . تاسې بايد دا خبرې په ياد کړئ :

بې زحمته راحت نشته زما وروره

که عزت غواړې زحمت درلره بويه

د زده کړې برسيره ، مونږ انسانان بايد کار کوو ، نوکار څه شي دي او انسان څنګه کار کوي ؟

يو کارګر چې يو شي وړي ، يو اس چې بګۍ کشوي او يا موټر چې کوم بار وړي ، دوي ټولو يو کار سر ته رسولي دي . د يو ځاي څخه د شي خوځيدل او کار سرته رسول ، عمل او ځواک ته اړه لري ، که چيرې په يو

شي قوه عمل وکړي او نوموړي شي له ځاي څخه و نه خوځيږي ، نو مونږ نشو ويلاي چې کار مو سر ته رسولاي دي . بلکې که تاسوو غواړئ چې يو لوي صندق له يو ځاي څخه بل ځاي ته کش کړي او له ځايه يې بې ځايه نه کړي ، نو کار مو سر ته نه دي رسولي . کله چې مونږ يو شي له يوه ځاي څخه بل ځاي ته وړو ، نو لومړی مونږ خپل بدن د غړو د ځواک څخه کار اخلو ، په دويم ګام کې يوه اندازه وقت مو د هغه په وړلو تيريږي . په دريم پړاو کې نوموړی شی د ځاي څخه بې ځايه کيږي . نو وايو چې مونږ يو کار سر ته رسولی دي چې هغه ته جسماني کار وايي .

د کار د سر ته رسولو څخه دمخه مونږ فکر کوو چې څنګه کار وکړو او د فکر له مخې د کار د سر ته رسولو لپاره څنګه ګټه واخلو او هغه ځاي ته چې کوم شی مونږ وړو بايد و يې ټاکو ؟ هغه وسيله چې د هغه شي په وړلو کې مرسته کوي ، هغه وټاکل شي ، تر دې ځايه پورې چې مونږ د خپل فکر څخه ګټه اخيستې ده ، نو يو فکری کار مو سر ته رسولی دی .

په نړۍ کې د کارګرانو دپاره يو جشن شته . د مې لومړۍ ورځ يا د ثور يوولسمه نېټه د کارګرانو نړۍ واله ورځ ده . د ثور د مياشتې يولسمه نېټه د مې د مياشتې د لومړې نيټې سره برابره ده . دغه ورځ د نړۍ ټول زيار کښان په مارشونو ، کنفرانسونه ، جشنونو او غونډو سره لمانځي .

د کارګر ورځ د نړۍ د کارګري طبقې د پيوستون ورځ ده . په دغه ورځ د لومړي ځل لپاره د شيکاګو د ښار زيار ايستونکي ، د دولت او پانګه والو د ظلم او تيري په مقابل کې پاڅېدل او په ګډه يې ورته بد وويل ، خو پانګ والو ، د ډيرو ځمکو خاوندانو او ظالمانو په هغوي باندې وحشيانه يرغل وکړ . يو زيات شمېر زيارکښان يې په توپ او توپک ووژل . ليکن زيار ايستونکو د مقابلې او مبارزې څخه لاس وا نه خيست او لا پسې يو موټی شول . درې کاله وروسته دوي پخپلو غوښتنو بريالي شول .

له همدې نېټې څخه وروسته د نړۍ زيار ايستونکي د مې د مياشتې لومړۍ ورځ يا د ثور يوولسمه نېټه

د جشن په توګه لمانځي. دغه جشن د نړۍ د زيار ايستونکو د پيوستون او يووالي په نامه يادوي.

زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې هم دغه ورځ اوس په خاصو مراسمو سره لمانځل کيږي. بريالي او ژوندي دې وي د نړۍ ټول زيارايستونکي.

单词 لغتونه

行军；进军，长征	[阳]	\ma:rsh\	مارش
人群；阶级	〈阿〉[阴]	\taba'qa\	طبقه
野的，野蛮的，凶残的，凶猛的，残暴的	[形]	\wahshiya:'na\	وحشيانه
攻击，突击，进犯，侵犯	[阳]	\yar'ghal\	يرغل
可是，但是，然而	〈阿〉[副]	\le'kin\	لېکن
(轻便)马车	[阴]	\ba 'gəi\	بګۍ
拖，拉，拽；拔出，抽出	[及]	\kasha'wəl\	کشول
身体的，肉体的；体力的；物质的，有形的	〈阿〉[形]	\jisma:'ni:\	جسماني
家畜，牲口，牲畜	[阳]	\tsa:r'wai\	څاروی
表面上的，肤浅的；潦草的，粗心的；轻率的	〈波〉[形]	\sarsa'ri:\	سرسري

注释 تشريح

阿富汗沿用伊斯兰历（即“海杰里”、阳历）。伊斯兰历纪元是从伊斯兰教创始人穆罕默德（“先知”）自麦加迁都至麦地纳的那一年（即公元621年）开始计算的，阿富汗历新的一年是从公历的每年3月21日开始的。因此，将阿历折合成公历时需加上621年2个月零21天。例如，阿历阳历的1354年7月9日即为公元1975年10月1

日；而阿历阳历1354年其阴历即为1395年。

练习 تمرين

单项选择题

۱- د کوښښ کول د معنا په باب لاندني خبرې کومه غلطه ده ؟

(الف) د کوښښ کول معنا ژوند دی

(ب) د کوښښ کول معنا زيار ايستل دی

(ج) د کوښښ کول معنا کار کول دی

(د) د کوښښ کول معنا زده کول دی

۲- " بی زحمته راحت نشته زما وروره " څه معنا ؟

(الف) زما ورور يو بی زحمته هلک دی

(ب) زما وروره کوښښ نه کوي

(ج) زما وروره ، که ته کوښښ و نه کړې ، راحت به نه لرې

(د) زما وروه ، ته بايد کوښښ وکړې !

۳- د کار سر ته رسول څه ته اړه لري ؟

(الف) کوښښ او وخت

(ب) سړی او مرسته

(ج) عمل او دماغ

(د) عمل او قوت

۴- جسمی کار او فکری کار څه توپير لري ؟

(الف) فکری کار تر جسمی کار مهم دی

(ب) جسمی کار د مخه کېږي او فکری کار وروسته کېږي

ج) جمسی کار قوه ته اړه لري ، فکری کار فکراو هوښیاري ته اړه لري

د) هېڅ توپير نه لري

۵- د کار په باب لاندنې خبرې کومه سمه ده ؟

الف) کار ته رسول یوازې قوه او عمل ته اړه لري

ب) هر څوک باید کار وکړي

ج) کار کول یو اسان کار دی

د) جمسی کار تر فکری کار اسان دی

۶- ولی د ثور یوولسمه نېټه د نړیوالو کارګران مارشونه ، کنفرانسونه او غونډونه کوي ؟

الف) د لمانځلو دپاره

ب) د مبارزې دپاره

ج) د پوښتنو د حلولو دپاره

د) د ساعت تیرې دپاره

۷- " زیار ایستونکی " څه معنا ده ؟

الف) کارګران

ب) زیار کښ

ج) څوک چې زیار ایسي

د) د ځمکو خاوندان

۸- د زیار ایستونکی د مقابلې او مبارزې څومره وخت شوي دي ؟

الف) دری ورځې

ب) دری میاشتې

ج) دری کالونه

د) خبر نه یم

۹- ولی کارګرانو د دولت او پانګه والو په ضد مقابلې وکړې ؟

الف) ځکه چې دوی ډېر شته من وو

ب) ځکه چې دوی بد وو

ج) ځکه چې کارګران يې ووژل

د) ځکه چې په کارګرانو يې ظلم او تيری وکړل

۱۰ - د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه غلطه ده ؟

الف) جسمی کار او فکری کار دواړه مهم دي

ب) د کوښښ دليل دريم ټولګي ته تلل دی

ج) که کوښښ نه کوې ، کار سر ته نه شې رسولی

د) د مبارزې په پای کې کارګران بريالی شوي

第二课

دوهم لوست

لومړۍ برخه

مشيني انسان



دې تصوير ته په غور وګورئ. دا د يوې کار خانې تصوير دی. دې کښې موټرونه جوړيږي. دلته تاسو داسې لوی لوی مشينونه وينې چه د بنيادمو په شان په کار لګيا دی. ايا تاسو ويلی شې چه دې مشينونو ته څه وايي؟ دې مشينونو ته "مشيني انسان"وايي. مشيني انسان د کمپيوټر په مدد ډېر قسمه او واړه کارونه کولی شي. په کار خانو کښې مشيني انسان په ګاډو کښې پرزې، سيټونه او دروازې لګوي او ګاډو ته رنګ هم ورکوي.

مشيني انسان د انسان نه تېز په لږ وخت کښې ډېر کار په اسانۍ کوي. د غلطۍ نه بغېر يو کار بيا بيا کولی شي. عجيبه خبره خو دا ده چه مشيني انسان د دمې او ارام نه بغېر څليرويشت ګېنټې پر له پسی کار کوي. د مشيني انسان مالکان وايي چه مشيني انسان د يو عام ملازم نه ارزان پرېوزي، ځکه چه دی نه تنخواه اخلي، نه خوراک څښاک کوي، نه ناجوړه کېږي او نه په چټۍ ځي.

په دې تصویر کښې د یو مریض اپرېشن کېږي. خو ډاکټر نه ښکاري. د مشینی انسان په مدد په اپرېشن کوټه کښې د مریض اپرېشن کوي. د سترګو نازک اپرېشن هم د مشینی انسان په ذریعه کېږي. اوس د بدن د مصنوعی اندامونولکه د پښو، لاسونو او نورو د لګولو دپاره ډاکټر د مشینی انسان نه مدد اخلي. هغه ورځ لرې نه ده چه ډاکټر به لاندې د ښار په یو هسپتال کښې ناست وی او پاس په هوایي جهاز کښې به د ناست مریض اپرېشن کوي.

د مشینی انسان ایجاد د انسان کار ډېر اسان کړی دی. مشینی انسان په داسې منصوبو کښې هم مدد کولی شی، کومې چه د انسان د وس نه بهر وی. سائنسدان لاندې په زمکه ناست وی او د مشینی انسان په ذریعه د کائناتو د مختلفو سیارو په حقله معلومات حاصلولی شي. مشینی انسان په فضا کښې په مصنوعی

سیارو کښې پیدا شوې خرابۍ لرې کولی شي. ان تر دې چه مشینی انسان د سمندر تل ته کوزېدلی شی او ورک شوی سمندری جهازونه پیدا کولی شي.

تاسو به اکثر په سائنسی فلمونو کښې د انسان په شان مشینی انسان لیدلی وی چه په ډېرو اهمو کارونو لګیا وی. په فلمونو کښې ښودلی شوی مشینی انسان اوس رښتیا کېدونکی دی. په ترقی یافته ملکونو کښې د مشینی انسان استعمال په کورنو کښې هم شروع شوی دی. یو دوه نیم کلن ماشوم د مشینی انسان نه د الفبې حرفونه زده کړی دی. دا ماشوم مشینی انسان خپل دوست ګڼي او خبرې هم ور سره کوي. د ماشوم مور د دې مشینی انسان نه ډېره خوشحاله ده. د مور یې دا خیال دی چه مشینی انسان د یو ساتلی شوی څاروی نه ډېر ښه دی، ځکه چه دی څه نه خوري، ګند نه جوړوي. که جارو دې په لاس کښې ور کړه نو ځای در ته هم جارو کولی شی.

یو بل ماشوم د خپلو ملګرو نه په دې خبره ګیله من دی چه دوی زیاتې لوبې د مشینی انسان سره کوي،

زه يي يوازې پرېښى يم.

د سائنسي ترقۍ د دې رفتار نه دا پېشګوئي کېدلی شي چه په راتلونکو کلونو کښې به د چلوونکي نه بغېر په سړکونو ګاډي ځي را ځي او د پائلټ نه بغېر به د هوايي جهازونو هوا ته او چتېدل او راکوزېدل عام شي. کېدلی شي چه يو ورځ تاسو د يو داسې مشيني انسان سره ملاقات وکړئ چه د ګاونډي په چمن کښې به مو وابنه کوي.

مشيني انسان که هر څو يو فائده من ايجاد دی، خو دا هيڅ کله هم د انسان ځای نه شي نيولی. انسان د خپل چاپېريال د حالاتو نه متاثر کېږي. په ده کښې د غم، خوشحالۍ حيرانۍ او ويرې احساس را پيدا کېږي. هم د دغې احساس او جذبې په وجه انسان د يو بل په غم او خوشحالۍ کښې شريکېږي. د ژوند په هر اړخ کښې مشيني انسان استعمال د انساني کار په اهميت کښې کمی هم راوستلی شي. ډېر انسانان بې روزګاره کولی هم شي. که د مشيني انسان استعمال زيات شي، نو ممکنه ده چه انسانان د يو بل نه لرې باسي او انسان د انسانانو نه زيات د مشينونو محتاج شي.

لغتونه 单词

零件	〈波〉	/pur'za/	پرزه
工人	〈阿〉[阳]	/mula:'zim/	ملازم
工资，薪水	〈波〉[形]	/tan'kha:(h)/	تنخواه
细致的，精细的	〈波〉[形]	/na:'zək , na'zuk/	نازک
人造的，人工的	[形]	/masnu''i:/	مصنوعی
计划	[阴]	/mansu'ba/	منصوبه
能力；努力	[阳]	/was/	وس
宇宙，天地	〈阿〉[阳复]	/ka:yi'na:t/	کائنات
瞬间，刹那，瞬息间，顷刻间	〈阿〉[阳]	/a:n/	آن

速度	［阳］	/raf'ta:r/	رفتار
预言，预告；预报，预测	〈波〉［形］	/peshgo'yi/:, /peshgu'yi:/	پېشګوئي
受影响的	［形］	/muta'a'sir/	متأثر
急需的，需要的，有需求的	〈阿〉［形］	/muh'ta:j/	محتاج

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- روبوټ څه شی دی؟

۲- د روبوټ ایجاد د انسان کار څنګه اسان کړ؟

۳- د روبوټ نه کوم کوم کارونه اخستلی شی؟

۴- زمونږ په ژوند د روبوټ د ایجاد څه اثر کېدلی شی؟

۵- ته به د روبوټ نه څه کار واخلې؟

二、填空题。

۱- مشینی انسان د انسان نه تېز په لږ وخت کښې د هر کار په اسانۍ کوي. د غلطۍ نه ________ یو کار بیا بیا کولی شي.

۲- د سترګو نازک اپرېشن هم د مشینی انسان په ________ کېږي.

۳- سائنسدان لاندې په زمکه ناست وی او د مشینی انسان په ذریعه د کائناتو د مختلفو سیارو په ________ معلومات حاصلولی شي.

۴- په فلمونو کښې ________ مشینی انسان اوس رښتیا کېدونکی دی.

۵- که د مشینی انسان استعمال زیات شي، نو ________ چه انسانان د یو بل نه لرې باسي او انسان د انسانانو نه زیات د مشینونو محتاج شي.

三、连线题。

پرزه	حاصلول
رنګ	کول
تنخواه	لګول
د مریض اپرېشن	ورکول
معلومات	اخیستل

四、翻译句子。

١- عجیبه خبره خو دا ده چه مشیني انسان د دمې او ارام نه بغېر څلیرویشت ګېنټې پر له پسې کار کوي.
د مشیني انسان مالکان وايي چه مشیني انسان د یو عام ملازم نه ارزان پرېوزي، ځکه چه دی نه تنخواه اخلي، نه خوراک څښناک کوي، نه ناجوړه کېږي او نه په چټۍ ځي.

٢- د مور يي دا خیال دی چه مشیني انسان د یو ساتلي شوی څاروی نه ډېر ښه دی، ځکه چه دی څه نه خوري، ګند نه جوړوي.

٣- یو بل ماشوم د خپلو ملګرو نه په دې خبره ګیله من دی چه دوی زیاتې لوبې د مشیني انسان سره کوي، زه يي یوازی پرېښې یم.

۴- د سائنسي ترقۍ د دې رفتار نه دا پېشګوئي کېدلی شي چه په راتلونکو کلونو کښې به د چلوونکی نه بغېر په سړکونو ګاډۍ ځي را ځي او د پائلټ نه بغېر به د هوايي جهازونو هوا ته او چتېدل او راکوزېدل عام شي.

۵- په ده کښې د غم، خوشحالۍ حیرانۍ او ویرې احساس را پیدا کېږي. هم د دغې احساس او جذبې په وجه انسان د یو بل په غم او خوشحالۍ کښې شریکېږي. د ژوند په هر اړخ کښې مشیني انسان استعمال د انساني کار په اهمیت کښې کمی هم راوستلی شي.

五、讨论。

就机器人对我们生活的影响进行讨论。

دوهمه برخه

د ګرځنده ټیلیفونو زیات کارول پر اوربدو ناوړه اغېزه کولای شي

خو پوهان لا پدې هکله پوره ډاډمن ندي،څېړونکي وایي چې اوږدې مودې لپاره د ګرځنده ټیلیفونو کارونکي چې هره ورځ لږ تر لږه نیم ساعت په ګرځنده ټېلیفون کې خبرې کوي، ښایي د لوړې فریکونسۍ لرونکو غږونو د اوربدلو وړتیا له لاسه ورکړي.

نارش پنډا د چانډیګړ د طبي زده کړو او ریسرچ انسټیټوټ د غوږ ، پزې او ستوني ډیپارټمنټ مشر وایي چې موږ د عامو وګړو د وېرولو تکل نلرو. هغه وایي چې نوموړې څېړنه په خپلو لومړنیو پړاوو کې ده او موږ بایډ خپلې څېړنې پر ډېر شمېر ناروغانو ترسره کړو. هغه خپلې لاسته راوړنې د ۲۰۰۷ کال د سپټمبر په نولسمه نېټه په واشنګټن کې د امریکا د اوتولرنګولوجی اکاډمۍ په کلنۍ غونډه کې وړاندې کړې.

نارش پنډا او ورسره ملګري یې وایي چې هغه وګړي چې له څلورو کلو څخه ډېرې مودې لپاره هره ورځ له یوه ساعت څخه زیات یې په ګرځنده ټېلیفونو کې خبرې کوي، د لوړې فریکونسۍ لرونکي غږونو اوربدو د وړتیا له لاسه ورکولو د خطر سره مخ دي. د دې غږونو د اوربدو وړتیا له لاسه ورکولو سره د (س، ف،ت، ز) په څېر بې غږه تورو اوربدل ستونځمن کېږي او په پایله کې ناروغ نشي کولای په آسانۍ سره په خبرو پوه شي.

د اوریدو له منځه تللو په هکله څېړنې:

پانډا او د هغه ملګرو د ۸۱ او ۵۴ کلو ترمنځ په سل تنو داسې وګړو څېړنې تر سره کړې چې هغوی لږ

تر لږه يو کال لپاره ګرځنده ټېلیفونونه کارولي وو .ځېړونکو دا وګړي د ټېلیفونو دکارول پر بنسټ په درې ډلو ووېشل:

۱- ولومړۍ ۵۳ کسیزې ډلې ۱-۲ کلو پورې موبایل ټېلیفون کارولای وه .

۲- بلې ۵۳ کسیزې ډلې ۲-۴ کلو پورې ګرځنده ټېلیفون کارولای وه.

۳- دریمه دېرش کسیزه ډلې کې هغه وګړي شامل وو چې د څلورو کلو څخه یې زیات موبایل کارولای وه.

څېړونکي وايي چې موږ تر څېړنې لاندې وګړو څخه وپوښتل چې هغوې ګرځنده ټیلیفون د ورځې له یوه ساعت څخه لږ کارولای دی که له یوه ساعت څخه زیات؟ څېړونکو د څېړنې لاندې وګړي له پنځوس تنو داسې وګړو سره پرتله کړل چې هېڅکله یې ګرځنده ټېلیفون نه وه کارولای. د یادولو وړ ده چې دا څېړنه په هندوستان کې ترسره شوې ده.

هغو وګړو چې له څلورو کلو زیات وخت لپاره یې موبایل ټېلیفون کارولای وه، د لومړي ګروپ په پرتله یې په ښي غوږ کې د لوړې فریکونسۍ د اورېدو په وړتیا کې زیات کمښت منځته راغلای وه. څېړونکي وايي: ‹کله چې موږ د لومړۍ ډلې او درېمې ډلې د لوړې فریکونسۍ د اورېدو وړتیا و ارزوله، د دوې تر منځ د پام وړ توپیر وموندل شو .

لومړۍ ډلې د لوړې فریکونسۍ غږونو ۸۴.۲۱ دسیبل او دریمې ډلې ۴۵.۴۲دسیبل له لاسه ورکړې وه.

پاندا وايي چې د ګرځنده ټېلیفونو هغه کارونکي چې په غوږونو کې د تودوخې احساس، په غوږو کې د ټپېدو احساس، او یا په غوږو کې بنګېدونکي غږونو په څېر له اعراضو څخه شکایت کوي، ښايي د لوړې فریکونسۍ کڼتیا ولري.

پاندا زیاتوي: د ګرځنده ټېلیفونو اوږد مهاله کارونه ښايي د داخلي غوږ د

تخریب لامل شي چې کېدای شي د غوږ تودوخه او ټپېدل د نوموړو تخریباتو لومړنۍ خبرونکي نښې اوسي.

د ګرځنده ټېلیفونو کمپنیو غبرګون:

د ګرځنده او بې مزي ټېلیفوني کمپنیو د ټولنې ویاند جو فارن وایي چې هغه نشي کولاې د دې څېړنې په هکله څرګندونې وکړي ځکه چې هغه لا دا څېړنې په پوره ډول ندي مطالعه کړي، خو هغه څرګندوي چې پدې هکله پخوانۍ ټولې څېړنې د موبایل ټیلیفون او ناوړه روغتیایي اغېزو تر منځ د اړیکو په موندلو کې پاته راغلي دي . جو فارن زیاتوي چې دا څېړنې په هندوستان کې د جی اس ام شبکې په کارونکو ترسره شوي دي، پداسې حال کې چې په امریکا کې د جی اس ام ترڅنګ نور سیستمونه لکه سی دي ام ای هم په پراخ ډول کارول کېږي.

ښایي وواېو چې پنډا هوډ لري چې دا څېړنې وغزوي، خو د دې سره سره هغه د غوږو (اورېدو) د ساتنې لپاره لارښوونه کوي چې (ګرځنده ټېلیفون یواځې هغه وخت وکاروئ چې کارول یې په بشپړه توګه اړین وي).

单词 لغتونه

意向，意图，企图，打算	［阳］	/ ta'kal/	تکل
段，阶段	［阳］	/pa'rau /	پړاو
平衡，均衡；（秤）称；对比	［阴］	/ parta'la/	پرتله
分贝	［阳］	/disi:'bil /	دسیبل
（苍蝇，蜜蜂等的）嗡嗡声，营营声；铮铮声；絮语声	［阳］	/ bəng,bung /	بنګ
原谅，饶恕，请求；声明，申请；报告，声明，表示；报告；通知	〈阿〉［阳］	/‘arz /	عرض
聋	［阴］	/ kənti'ya: /	کڼتیا
破坏、毁坏	［阳］	/takh'ri:b /	تخریب

تشريخ 注释

1 نارش پنډا Naresh K. Panda人名。

2 د امريکا د اوتولرنګولوجی اکاډمی Otolaryngology.

3 جون فارن Joe Farren 人名。

4 جی اس ام GSM (Global System for Mobile Communication)，全球移动通信系统，是当前应用最为广泛的移动电话标准。

5 سی دي ام ای CDMA (Code Division Multiple Access)，码分多址，是在数字技术的分支——扩频通信技术上发展起来的一种崭新而成熟的无限通信技术。

تمرين 练习

单项选择题。

۱- د خبرونکو له مخې هره ورځ څومره وخت په ګرځنده ټېليفون کې خبرې کوي ، ښايي پر اورېدو ناوړه اغېزه وکړي .

(ا) له نيم ساعت نه زيات (ب) لږ تر لږه لس دقيقه

(ج) له نيم ساعت نه لږ (د) نيم ساعت

۲- د ګرځنده ټېليفون زيات کارول ښايي د ________ د اورېدلو وړتيا له لاسه ورکړي .

(ا) د ټيټې فريکونسۍ لرونکو غږونو (ب) د لوړې فريکونسۍ لرونکو غږونو

(ج) د منځنۍ فريکونسۍ لرونکو غږونو (د) د عامو غږونو

۳- د دې مقالې خپرېدو په وخت کې دا خبره په څومه پړاو کې وه ؟

(ا) لومړي پړاو (ب) دوهمه پړاو (ج) دريمه پړاو (د) اخره پړاو

۴- ښځو نکو د ښځې وګړي له چا سره پرتله کړل ؟

(ا) وګړو چې ۱-۲ کلو پورې موبایل ټیلیفون کارولای وه .

(ب) وګړو چې ۲-۴ کلو پورې ګرځنده ټیلیفون کارولای وه.

(ج) وګړو چې د څلورو کلو څخه یې زیات موبایل کارولای وه.

(د) هیڅکله یې ګرځنده ټیلیفون نه وه کارولای .

۵- په دې څېړنې کې د ګډون کوونکو عمر له کوم کلن نه تر کوم کلن پورې دی ؟

(ا) ټول **۵۳** کلن دي

(ب) د ۸۱ او **۵۳** کلو ترمنځ

(ج) **۵۳** او **۵۴** کلو تر منځ

(د) د ۸۱ او **۵۴** کلو ترمنځ

۶- په ټول څومره وګړو په دې څېړنې کې ګډون وکړ ؟

(ا) **۵۳**

(ب) **۵۴**

(ج) ۸۱

(د) ۰۰۱

۷- دا څېړنه چېرته تر سره شوې ده ؟

(ا) چین

(ب) افغانستان

(ج) امریکا

(د) هندوستان

۸- کوم ګروپ په ښی غوږ کې د لوړې فریکونسۍ د اورېدو په وړتیا کې زیات کمښت منځته راغلای وه ؟

(ا) لومړی ګروپ

(ب) دوهم ګروپ

(ج) دریم ګروپ

(د) هغه ګروپ چې له دوو کلو زیات وخت لپاره موبایل ټیلیفون کارولای وه .

۹- په لاندیو نښو کې کومه نښه د غوږو د تخریباتو لومړنی خبرونکی نښه نه ده ؟

(ا) په غوږونو کې د تودوخې احساس

(ب) په غوږو کې د ټیبېدو احساس

(ج) په غوږو کې بنګېدونکی غږونو اورېدل

(د) د لوړې فریکونسۍ غږونو د اورېدو وړتیا له لاسه ورکول

۰۱- دا څېړنه د کومې شبکې په کارونکو تر سره شوی دي ؟

(ا) CDMA

(ب) GSM

(ج) 3G

(د) 4G

第三课

دریم لوست

لومړی برخه

د ګلالۍ علاج

ادې ډېره ناجوړه وه. سهار وختي مو مور پلار هسپتال ته بوتلله. نیکه یې پېښو ته لاړه. سومبره، عدنان او وړه ګلالۍ کور کښې پاتې شول. ګلالۍ لا اوده وه. سومبره او عدنان د سکول کار کاوه. یوه شېبه پس د ګلالۍ د ژړا اواز راغله. سومبره کوټې ته ورغله او بد بوی پرې ولګېد. په ګلالۍ مچان بنېدل. سومبره ترې مچان وشړل. چه ویې کتل، ګلالۍ قی کړی و.

بستره او جامې یې هم لړلې وې، چه په تندی یې ور ته لاس کېښوده، نو ډېر ګرم و.

سومبره زر زر ګلالۍ په یوه لونده کپړه پاکه کړه. پاکې جامې یې ور واغوستې. عدنان ته یې اواز کړ چه د ګلالۍ خېټه خرابه شوې ده. هغه هم خفه شو. چای او چپاتي یې ورکوله خو هغې نه خوړله. ګلالۍ بیا قی وکړ. سومبره په وارخطایۍ وویل، "عدنانه، اوس به څه کېږي؟ په کور کښې څوک مشر هم نشته او د ګلالۍ حالت خراب دی." عدنان وویل، "وارخطا مه کېږه، ته ګلالۍ سنباله کړه. زه مامی ته ټېلیفون کوم. هغه ډاکټره ده. څه ښه دارو به را ته وښیي." عدنان زر زر

مور ته ټیلیفون وکړ.

عدنان: السلام علیکم مامی! زه عدنان یم. په ګلالۍ قی وهلی دی. حالت یې ډېر خراب دی. څه وکړو؟ په کور کښې بل څوک نشته، بس زه او سومبره یو.

مامی: داسی ښکاري چه څه بازاری څیز یې خوړلی دی.

عدنان: او جی! پرون یې د ګاډی والا نه سموسه خوړلې وې.

مامی: بس زه پوهه شوم. بازار کښې د خوراک څښاک څیزونه اکثر پاک نه وی، دې نه ځان ساتل پکار دی. خېر! وارخطا مه کېږئ. خو دا ووایه چه ګلالۍ څه خوړلی څښلی هم دی که نه؟

عدنان: ما ور ته چای ورکولې، خو هغې نه څپلې، بیا بیا یې قی کاوه.

مامی: عدنانه! ما ته غوږ شه. د قی ناجوړتیا ډېره خطارناکه ده. دې سره په بدن کښې اوبه او مالګه کمه شی. ګلالۍ ته څه ناڅه د څښلو ورکوه.

عدنان: مونږ په دې نه پوهېږو چه څه ورکړو، ډېر خفه یو.

مامی: او بچی! د خفګان خبره خو ده خو تکړه شه، داسی وکړه چه په یشېدلو اوبه کښې لږه مالګه او چینی واچوه. شربت غوندی جوړ کړه. دا به د نمکول په شان شی. ښه اوس کاغذ او پنسل راوړه. زه در ته د نمکول نسخه وایم، ته یې لیکه.

عدنان: ښه مامی وایه، زه یې لیکم.

مامی: څلور ګلاسه اوبه ویشوه، بیا یې سړې کړه. اوس په دې کښې څلور د چائیو کاشوغی چینی او نیمه کاشوغه مالګه واچوه او ښه یې حل کړه. دا شربت ساعت په ساعت ګلالۍ ته لږ لږ ورکوه.

عدنان د مامی د وینا مطابق نسخه ولیکله او شربت یې تیار کړ. ساعت په ساعت به یې ګلالۍ ته دغه شربت ورکاوه. ګلالۍ ډېره کمزورې شوې وه. شربت څښل ور ته ډېر ګران وو . خو سومبره به پرې شربت څښه.

مازیګره پورې د ګلالۍ طبیعت لږ ښه شوی و. سترګې یې وغړولې. سومبره شکر ووېست.

نیکه یې چه د پټو نه راپس راغله، نو عدنان ور ته ټوله قصه تېره کړه. نیکه وویل"بچو تاسو بلکل ټیک کار کړی دی. د ګلالۍ په بدن کښې د اوبو او مالګې کمی راغلی و. دا کمی د نمکولو شربت پوره کړی دی.
"نیکه د ګلالۍ په سر د مینې لاس راښکه. سومبره ته یې هم شاباسی ورکړ.

دوی ټوله شپه ګلالۍ ته وار په وار شربت ورکاوه. سهاره پورې د ګلالۍ طبیعت ډېر ښه شوی و. عدنان او سومبرې ور ته کېلې او کیچړی ور کړ.

په دویمه ورځ یې مور، پلار او نیا واپس راغلل. سومبره ور منډه کړه او په یوه ساه یې ور ته د ګلالۍ د ناجوړتیا ټوله قصه تېره کړه. مور زر زر ګلالۍ ته ورغله. په غېږ کښې یې ونیوله او ویې ویل"خدایه شکر دی چه زما وړه ګلالۍ دې بچ کړه." مور عدنان او سومبره سره هم مینه وکړه او ویې ویل "ګلالۍ ډېره خوش قسمته ده چه ورور او خور یې دومره تکړه او حوصله من دی." هغې د عدنان په مامی هم شاباسی وویل چه دومره ښه نسخه یې ورښودلې وه. نیکه یې وویل "مونږ د دې شربت هم شکریه ادا کوو."

单词 لغتونه

妈妈	［阴］	/a'de/	ادې
医院，病院	〈英〉［阳］	/hspi'ta:l/	هسپتال
苍蝇	［阳］	/məch/	مچ
（蚊蝇）嗡嗡作响	［不及］	/buṇe'dəl /	بڼېدل
吐，呕吐	〈阿〉［阳］	/qai/	قی
弄上污点，留下污点	［及］	/la'ṛəl/	لړل
布，毛巾	［阳］	/ka'pṛa/	کپړه
安排好的，整顿好的	［形］	/san'ba:l/	سنبال
沸腾起来	［不及］	/yashe'dəl/	یشېدل

清凉果汁饮料；用糖和果汁糖浆做的一种甜的饮料	〈阿〉[阳]	/shar'bat/	شربت
药方，处方	〈波〉[阴]	/nus'kha/	نسخه
相似的，类似的，同样的，相同的	[形]	/muta'biq/	مطابق
香蕉，芭蕉	[阴]	/'kela/	کېله
泥，泥泞，泥土	[阴复]	/ki:'chari:/	کیچړي

注释 تشریخ

1 چپاتی “恰巴提”是巴基斯坦最受欢迎的主食，是一种不发酵的薄的全麦饼。

2 سموسه “三角菜饺”，是一种三角形的油炸面团，里面一般加入软烂的土豆和辣味香料，外酥里嫩香辣可口，许多巴基斯坦人都喜欢用其来充饥。

练习 تمرین

一、回答问题。

۱ - ګلالۍ ځنګه ناجوړه شوه؟

۲ - عدنان مامی ته ولی ټېلیفون وکړ؟

۳ - سومبرې د نمکول شربت ځنګه جوړ کړ؟

۴ - عدنان او سومبرې د ګلالۍ ځنګه مدد وکړ؟

۵ - که څوک ناجوړ شي، ته به یې ځنګه مدد وکړې؟

二、填空题。

۱ - سومبره، عدنان او وړه ګلالۍ کور کښې ________.

۲- سومېره زر زر ګلالۍ په یوه ___________ کپړه پاکه کړه.

۳- وارخطا ___________ کېږه، ته ګلالۍ سنباله کړه. زه مور ته ټېلیفون کوم. هغه ډاکټره ده. څه ښه دارو به را ته وښیي.

۴- د خفګان خبره خو ده خو تکړه شه، داسې وکړه چه په ___________ اوبه کښې لږه مالګه او چینې واچوه.

۵- دا شربت ___________ ګلالۍ ته لږ لږ ور کوه.

۲- ګلالۍ ډېره کمزورې شوه وه. شربت څښل ور ته ډېر ګران ___________.

三、连线题。

له څه نه	چیني
یوه کاشوغه	کول
دوه ګلاسه	ځان ساتل
په چا	اوبه
بچ	شباس ویل

四、翻译句子。

۱- بستره او جامې یې هم لړلې وې، چه په تندی یې ور ته لاس کېښوده، نو ډېر ګرم و.

۲- عدنان ته یې اواز کړ چه د ګلالۍ خېټه خرابه شوې ده. هغه هم خفه شو.

۳- عدنانه، اوس به څه کېږي؟ په کور کښې څوک مشر هم نشته او د ګلالۍ حالت خراب دی.

۴- داسې ښکاري چه څه بازاري ځیز یې خوړلی دی.

۵- ګلالۍ ډېره خوش قسمته ده چه ورور او خور یې دومره تکړه او حوصله من دي.

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

زما ښوونکی او ټولګیواله

زه دوه کاله مخکې په ښوونځي کې شامل شوم . اوس په دریم ټولګي کې لوست وایم . پرون زمونږ ښوونکي ما او زما ټولو ملګرو ته نوي کتابونه راکړل . زمونږ کتاب خوږې کیسې ، په زړه پورې شعرونه او ښکلي رسمونه لري . زه د لوست له کتاب سره ډېره مینه لرم او هغه پاک او روغ ساتم . په ټولګي کې د خپل ښوونکي او خپلو ملګرو سره په احترام او ادب خبرې کوم . زه هېڅوک نه خپه کوم . په خپلو لوستو کې ډېر زيار باسم، له همدې کبله ښوونکی راڅخه خوشحاله وي .

نن زمونږ ټولګي ته ښوونکی ملالۍ راغي . مونږ د هغې په درناوي په خپلو ځایو کې ودرېدو او سلام مو واچاوه . کله چې ښوونکې خپل ځان مونږ ته را وپېژانده ، و یې ویل : "ګرانو زده کوونکو ، ډېر خوشاله یم چې تاسو ته د یوه ښوونکي په توګه درس درکوم . هیله ده چې تاسې په لوست او لیک ښه پوه شئ ، د پوهې او علم خاوندان شئ . زمونږ ګران هېواد افغانستان په راتلونکي وخت کې تاسو ته ډېره اړتیا لري او د ستاسو په مټو به لا پسې ودان شي . تاسو باید پخپلو دندو ښه وپوهېږئ . کوم کارونه چې ښوونکی درکوي په ښه ډول یې تر سره کړئ . تاسی کوښښ وکړئ چې په لوستو ښه پوه شئ ، ځکه ښې ښه زده کوونکي د خپل ښوونځي مېوه لرونکي نیالګي دي ."



ښوونکی به هره ورځ زمونږ ټولګي ته راته . تل یې په شونډو کې مسکاوه . زمونږ سره یې ډېره پیرزوینه لرله . زده کوونکو د پلار پشان د هغه درناوی کاوه . هغه مونږ ته ډېر شیان راوښودل .

یوه ورځ د ښوونځي سرښوونکی زمونږ ټولګي ته راغئ او وویل : "ګرانو زده کوونکو ، ستاسو ښوونکی

له تاسو سره مخه ښه کوي . دی اوس د زده کړې لپاره د هېواد څخه بهر ته ځي . " مونږ ټول د دې خبرې په اورېدو سره خپه شوو . پدې وخت کې اجمل د خپل ځای څخه پورته شو او پوښتنه یې وکړه : " ښوونکی هم لوست کوي ؟" سر ښوونکي وویل : " هو ، تاسو پوهېږئ چې ښوونکی او زده کوونکي دواړه د معلوماتو او پوهې لرلو ته ضرورت لري ، تاسو باید ډېر خوشاله اوسئ چې ستاسو ښوونکی د خپلې پوهې د لا پراختیا لپاره د هېواد څخه بهر ته ځي . " مونږ ټول د خپل ښوونکي سره د مخه ښې لپاره د ښوونځي تر وره پورې لاړو او هغه ته مو د هوسا او ښه سفر هیله وکړه .

ښوونکي ته د ټولنې پلار وايي . ښوونکی دی چې هره ورځ مونږ ته نوي شیان را زده کوي . مونږ د نوي

او عصري ژوند لپاره روزي ، نو ښوونکی لکه د پلار او مور غوندې پر مونږ حق لري . د ښوونکي د مقام د درناوي په خاطر په ټولو هېوادو او همداسې زمونږ په ګران هېواد کې د کال یوه ورځ د ښوونکی د ورځې په نامه لمانځل کیږي . په دغه ورځ باندې د ښوونکو قدر دانی کیږي . ګرانو زده کوونکو ! ښوونکی هر وخت پر تاسو حق لري چې قدر او احترام یې وکړئ . په دغه ورځ تاسو ته ښايي چې ډېر خوشاله اوسئ ، هغه کسانو ته چې تاسې یې روزلي یاست ، د دغې ورځې په ویاړ مبارکي ووایئ او د هغو درناوی وکړئ .

د ښوونکي سربېره ما ته خپل ټولګیوال ډېر ګران دي او د هغوی درناوی کوم . هغوی ته هم زه ګرانه یم او زما درناوی کوي . زه چې هره ورځ سهار ټولګي ته ننوځم . ټولو ته سلام کوم . هغوی هم زما هرکلی کوي . دا وايي زه او ګلالۍ یو د بل په څنګ کې کښېنو . ګلالۍ ډېره زیار ایستونکې نجلۍ ده . دا په درسونو کې ډېر کوښښ کوي او تل پنځه لمبرې اخلي . هغه نارنجي رنګ ډېر خوښوي . زیاتره نارنجي کالي هم اغوندي .

زه او ملاله تل یو له بل سره لوست وایو . هغه کله کله ما خپل کور ته وربولي او زه یې مېلمنه کېږم . زه د خپل مور او پلار څخه اجازه اخلم او بیا د هغوی کره ځم . ملاله هم کله کله زمونږ کور ته راځي او زما مېلمنه کیږي .

单词 لغتونه

图纸，图，图画，图样，图案	〈阿〉[阳]	\rasm\	رسم
主人，所有者；（某种品质，性质的）享有者	[阳]	\kha:'wand\	خاوند
建设的，修建好的	[形]	\wa'da:n\	ودان
嘴唇	[阴]	\shunda\	شونډه
使微笑，使发笑，逗引发笑	[及]	\muska'wəl\	مسکول
宽大，宽恕，慈悲，恩惠	[阳]	\perzo-'wa:lai\	پېرزووالی
思维，想法，念头	〈阿〉[阳]	\kha:'tir\	خاطر
赞美颂词，称赞颂扬；感谢	[阴]	\qadr-da:'ni:\	قدرداني
骄傲，光荣，荣幸；尊重	[阳]	\wi'ya:r\	وياړ
现代的；现代化的	〈阿〉[形]	\'as'ri:\	عصري

练习 تمرین

单项选择题。

۱ - زمونږ په کتابونو کې څه مضمون شته ؟

الف) متن ، لغتونه ، نثرونه او داسې نور

ب) کيسې ، شعرونه ، رسمونه او داسې نور

ج) معلومات

د) ټول شيان

۲ - نن کوم ښوونکی ټولګي ته راغي ؟

الف) ښوونکې ملالۍ

ب) پښتو ښوونکې ملالۍ

ج) سر ښوونکې ملالۍ

د) سر ښوونکی

۳-په دې متن کې د دوهم پرګراف " خاوندان " څه معنا ده ؟

الف) سر ب) مشر

ج) لرونکي د) شته من

۴- د زده کوونکو دنده په باب لاندنې خبرې کومه سمه نه ده ؟

الف) د زده کوونکو دنده زده کول دي

ب) د زده کوونکو دنده د هېواد ودانول دي

ج) د زده کوونکو دنده د ښوونکو خبرو اورېدل دي

د) د زده کوونکو دنده ډېر درنده ده

۵- د " تل يې په شونډو کې مسکاوه " په باب لاندنې خبرې کومه سمه ده ؟

الف) ښوونکې له مونږ سره مينه لري ب) ښوونکې له خندا سره مينه لري

ج) ښوونکې مکرم ده د) ښوونکې ښه سړی دی

۶- ولی سرښوونکی زمونږ ټولګي ته راغي ؟

الف) د درس ويلو دپاره

ب) د نظارت دپاره

ج) د مخه ښه کولو دپاره

د) ښايي چه د ملالی د غايب والي د تشريخ دپاره

۷- ښوونکې ملالی چېرته ولاړه ؟

الف) بل ښوونځی ته ب) بل ښار ته

ج) خپل کور ته د) بل هېواد ته

۸- د ښوونکې سربيره زه له چا سره هم مينه لرم ؟

الف) سر ښوونکی ب) همصنفان

ج) مور او پلار د) ورور

۹- لاندنې خبرې کومه سمه ده ؟

الف) زده کوونکو غونډې ښوونکي هم لوست کوي

ب) په رښتیا ښوونکي زمونږ پلار دي

ج) ګلالۍ په ټولګي کې تل پنځم لمبر ده

د) ملاله زما ښوونکې ده

۱۰- په دې متن کې " زه " هلک دی یا نجلۍ ده ؟

الف) نجلۍ　　　　ب) هلک

ج) نه وایي　　　　د) ښایي چه هلک

第四课

څلورم لوست

لومړۍ برخه

د خوارې کښنو کلي

جبار په دې کلي کښې اوسي. دې ته د خوارې کښنو کلي وايي. دا د هنرمندو کلي دی. دا هنرمند خلک په خپلو لاسونو خوارې کوي او ځان ته حلاله روزي ګټي. دوی په خپل کار فخر کوي او د ډېر همت خاوندان دي.

دا د جبار کور دی. د انګڼ ښې طرف ته يو څپر دی. د څپر لاندې د لوښو جوړولو ځايونه دي چه ور ته دوکان وايي.په دې دوکانونو کښې چکۍ لګېدلې دي. په يو دوکان کښې يې نيا د اخښلې شوې خټې نه کټوې جوړوي او په بله چکۍ يې نيکه منګې جوړوي. د څپر مخامخ په يو کنج کښې يوه لويه بټۍ ده چه د خاورو لوښې پکښې پخولې شي. ګڅ طرف ته د

لوښو پچه ده. خوا کښې يې غوا او سخې په موږۍ تړلې دي. د انګڼ په منځ کښې سره خاوره خوره ده.

کولالي د جبار خانداني پېشه ده. د جبار نيکه دا هنر د خپل پلار نه زده کړې دی. هغه دا هنر خپلو زامنو او لوڼو ته هم ښودلی دی. اوس د هغه نمسی جبار او نمسۍ پلوشه هم دا کسب زده کوي. جبار چه د سکول نه راشي، نو د دوکان چکۍ سمبالوي. لوښې جوړول يې خوښ دي. پلوشه د مور نه په لوښې د نقشونو جوړولو

چل زده کړی دی. په صراحیانو، گلدانونو او پیالو باندی ښکلې نقشونه جوړوي او دا چل د کلی جینکو ته هم ښیي. پلوشه یوه ذهینه جینۍ ده او د جبار په شان سکول ویل غواړي. په دې کلی کښې د جینکو سکول نشته، د جبار نه لیک لوست زده کوي.

د خاورو لوښی جوړول اسان کار نه دی. ډېر صبر او خواری غواړي. څوک چه په لوښو نقشونه جوړوي، هغوی ډېره خواری او مشقت کوي. نن د جبار په کور کښې ډېره گڼه گوڼه ده. د کور نر او ښځو بډې وهلې دی او په خټه گرځی. ټول ساه ساه دی او خولې پرې راماتې دی. د سهار نه غرمه شوه. اخر د خټې کار ختم شو. ټولو په شریکه اخښلې شوې خټه په پلاستک پټه کړه.

بله ورځ د جبار نیکه او نیا د څپر لاندی دوکانونو ته ورغلل. په ډېر مهارت سره په یوه پښه پایه تاووي. په ډېر هنر په لاسونو د خټې نه قسما قسم لوښی جوړوي. د څو ورځو د خوارۍ نه وروسته وړې وړې خزانې، د اوږدو غاړو صراحیانې، غټ او واړه منگی، چاټۍ، مخروطی گلدانونه تیار شول. خو دا ټول لوښی لا کچه وو، د استعمال قابل نه وو. د استعمال دپاره به دا ټول په بټۍ کښې پخولی شي.

د جبار نیااو نیکه لوښی په ترتیب په بټۍ کښې لاندی باندی کېښودل. د لوښو د ایښودلو نه وروسته یې د بټۍ خوله بنده کړه. مور او نیکه یې څو گېڼټې پر له پسی د لرگو بوره په بټۍ پسی وسوزوله. بټۍ یې ښه سره کړه. لوښی یې پکښې ټوله ورځ پرېښودل. دویمه ورځ یې یخېدوله ور کړه. اوس د جبار پلار د بټۍ خوله خلاصه کړه او لوښی یې ترې نه راویستل.

د انگڼ یوه حصه منگو، چاټیو، خزانو، کټویو او گلدانونو ونیوله. جبار او نیا یې ترېنه هغه لوښی بیلوي چه نقشونه به پرې جوړوي.

څو ورځې خو په کور کښې سم د رنگونو بهار و. جبار او د کور جینکۍ او ښځې په شریکه په لوښو رنگ

رنګ نقشونه جوړوي. سور بخنو لوښي له د بوډۍ تال د رنګونو په شان رنګونه ورکوي. لوښي د ګلونو او پاڼو په نقشونو ښکلي کړی شوي دي. هنرمندو لاسونو ور ته دومره ښکلا ورکړې ده چه څوک پرې د ختو د لوښو ګومان نه شي کولی.

د جبار د کور مخه ډېره ښکلې ښکارېده. د جبار پلار او نیکه به دا لوښي ښار ته وړل. هلته به یي په ښه قیمت خرڅول. په لویو لویو ښارونو او بهر ملکونو کښي هم دا لوښي ډېر قدر او قیمت لري. دا زمونږ قیمتی پنګه ده.

جبار او پلوشه د نیکه او پلار واپس راتلو ته سترګې په لار دي. هغوی د هغې ورځې په انتظار دي چه پلار او نیکه یي دوی ته د تحفې په لاس واپس کلي ته راشي.

单词 لغتونه

努力，勤奋	〈阿〉[阳]	/hi'mat/	همت
一块	[阴]	/cha'kəi/	چکۍ
有耳平底阔罐	[阴]	/ka'ṭəwa/	کټوه
水罐	[阳]	/man'gai/	منګی
角，角落	〈波〉[阳]	/kunj/	کنج
烧砖炉	[阴]	/ba'ṭəi/	بټۍ
砖窑；熔炉	[阴]	/pa'ja/	پجه
大木橛子	[阳]	/mo'gai/	موږی
工作，习俗	[阴]	/pe'sha/	پېشه
装饰，点缀，打扮	[及]	/samba:la'wəl/	سمبالول
长颈瓶	[阴]	/sura:'hi:/	صراحي
花瓶	[阴]	/gulda:'nəi/	ګلدانۍ

碗	［阴］	/piya:'la/	پياله
辛苦；艰辛	〈阿〉［阳］	/masha'qat/	مشقت
腰带，裤带	［阴］	/'baḍa/	بډه
大土罐，大桶	［阴］	/cha:'ṭəi/	چاټۍ
宽的，宽广的，辽阔的	［形］	/art, a'rat/	ارت
圆锥形的，锥状的	〈阿〉［形］	/mkhru'ti:/	مخروطي
锯屑，木屑	［阴］	/bu'ra/	بوره

练习 تمرين

一、回答问题。

١- مختلف هنرمند کوم کوم کارونه کوي؟

٢- د ختېو نه د لوښو جوړولو دپاره اول څه کولی شي؟

٣- د ختېو نه کوم کوم څېزونه تیارولی شي؟

۴- کچه لوښی څنګه کلکوي؟

۵- ستاسو په کور کښی کوم کوم کولالی لوښی دی؟

٦- ولی دا کسب ګر د عزت لايق دی؟

二、单项选择题。

١-په دې مقاله کښی د دوکان مطلب څه دی؟

الف) 商店　ب) 店铺　ج) 工作室　د) 仓库

٢- په يو دوکان کښی چا د اخښلې شوې ختې نه کټوۍ جوړوي؟

الف) انا　ب) نيکه

ج) يو جلۍ چه نيا نومېږي　د) يو ښځه چه نيا نومېږي

۳- پلوشي څه زده کړي دي؟

(الف) لوښي جوړول　　(ب)په لوښي د نقشونو جوړولو چل

ج) ختې اخښل　　(د) په لوښي نقشه جوړول او ليک لوست

۴- لوښي په بټۍ کښې څومره وخت پرېښودل؟

(الف) يوه ورځ　　(ب) يوه شپه

ج) ټوله روځ　　(د) پته نشته

۵- لوښي جوړول د څومره اقدام په کار دي؟

(الف) ۳　　(ب) ۴

ج) ۵　　(د)د هر يو لوښي د جوړولو اقدام يوشان نه دي

三、填空题。

۱- د جبار نيکه دا هنر د خپل پلار نه زده کړي دي. هغه دا هنر خپلو __________ ته هم ښودلی دی. اوس د هغه نمسي جبار او نمسۍ پلوشه هم دا کسب زده کوي.

۲- ټولو په شريکه __________ ختې په پلاسټک پټه کړه.

۳- اوس د جبار پلار د بټۍ خوله __________ کړه او لوښي يې ترې نه راويستل.

۴- سور بخنو لوښي له د __________ ټال د رنګونو په شان رنګونه ورکوي.

۵- هلته به يې په __________ قيمت خرڅوي.

四、翻译句子。

۱- ګټ طرف ته د لوښو پچه ده. خوا کښې يې غوا او سخي په موږي ترلې دي. د انګڼ په منځ کښې سره خاوره خوره ده.

۲- نن د جبار په کور کښې ډېره ګڼه ګوڼه ده. د کور نر او ښځو بډې وهلې دي او په ختو ګرځي. ټول ساه ساه دي او خولې پرې راماتې دي. د سهار نه غرمه شوه. اخر د ختې کار ختم شو.

۳- په ډېر مهارت سره په يوه پښنه پايه تاووي. په ډېر هنر په لاسونو د ختې نه قسما قسم لوښي جوړوي.

۴- خو دا ټول لوښي لا کچه وو، د استعمال قابل نه وو. د استعمال دپاره به دا ټول په بټۍ کښې

پخولی شی.

۵- جبار او پلوشه د نیکه او پلار واپس راتلو ته سترګې په لار دی. هغوی د هغې ورځې په انتظار دی چه پلار او نیکه یې دوی ته د تحفې په لاس واپس کلی ته راشي.

五、用普什图语复述陶器的制作过程。

دوهمه برخه

د ګاونډي حق



په ټي وي باندی د عالمی کپ کرکټ مقابلې ښودلی کېږی. نن د پاکستان او افغانستان تر منځ مقابله روانه ده. خلک په کورونو، دوکانونو او حجرو کښې په ټي وي په ډېر شوق دا مقابله ګوری. شېبه په شېبه د لاسونو د پړقا او نعرو شور راځي.

شعېب او عدنان هم د کرکټ ډېر شوقیان دی. هغوی دواړه هم ګاونډیان دی او هم د یو جماعت ملګری.

(د عدنان پلار ناروغه دی. ډاکټر ور ته د ارام ویلی دی. عدنان د ټي وی کمرې ته ورننوزی. مور پرې اواز کوي)

د عدنان مور: عدنانه زویه! پلار دې اوده دی، ټي وی مه لګوه!

عدنان: مورې، ما ته پته ده چه پلار ته مې د ارام ضرورت دی.

(په دې کښې د شعېب د کور نه د ټي وی اوچت اواز او د هغوی نعرې او د لاسونو پړقا اورېدلی کېږي. دې سره د عدنان د پلار سترګې غړېږي او بې ارامه ښکاري.)

د عدنان مور: عدنانه! ته لږ د شعېب دوی کره ورشه. ور ته ووایه چه پلار مې ناجوړه دی. که خفه نه کېږئ،

نو تې وی مو لږ په مزه کړئ او شور مه کوئ.

(عدنان ځی او د شعېب د کور تلې وهي. خو هغوی د مېچ په خوند کښې ډوب دي. هغه بیا تلې وهي، خو تلې د دوی د شور د لاسه نه اورېدلی کېږي چه عدنان په دریم ځل په تلې ګوته ور زور کړه ،نو د شعېب مور واورېدله.)

د شعېب مور: شعېبه! ور شه وګوره بهر تلې څوک وهی.

شعېب: دا څه مصیبت دی. په دې وخت کښې لا څوک راغلل.

(شعېب چه دروازه خلاصه کړه، عدنان ولاړ و.)

شعېب: ښه، دا ته یې، زر وایه څه خبره ده؟ مونږ مېچ ګورو.

عدنان: شعېبه، یره پلار مې ناروغه دی. ډاکټر ور ته د ارام ویلی دی، خو ستاسو د شور د لاسه ارام نه شی کولی. که خفه نه کېږئ، نو دا تې وی مو لږ په مزه کړئ او که شور مو هم لږ کم کړ، نو ښه به وی.

شعېب: څه څه، خپل کار کوه! ته څوک یې چه ته چلونه ښیې! کور مو خپل دی چه څه مو خوښه وی هغه به کوو!

عدنان: شعېب، شعېبه! یار ته ولی په غصه شوې. خبر دی زما په خبره لږ سوچ وکړه.

شعېب: (په چغه) ما ته عقل مه راښایه!مازغه مې مه خوره! ځه خپله مخه کوه!

د شعېب مور: شعېب! څه خبره ده؟ د چا سره لاندی وتلی یې؟

شعېب: مورې! عدنان راغلی دی، مونږ ته عقل راښیي، دا هوښیار.

(د شعېب مور راوځی. عدنان یې په ټوله خبره پوهوی. هغه دواړه هلکان د لاسه نیسی او دننه یې بوځی.)

د شعېب مور: عدنان زویه! ډېر افسوس دی چه مونږ ستا د پلار د ناجوړتیا نه خبر نه شو. مونږ خو نزدې ګاونډیان یو. دا زمونږ فرض دی چه ستاسو د ارام پوره پوره خیال وساتو او تکلیف در نه کړو.

شعېب: خو مورې، مونږ خو په خپل کور کښې یو کنه.

د شعېب مور: زویه، ټیک ده، خو دې ته هم سوچ وکړه چه مونږ په خپل شور او غوغا عدنان دوی څومره په تکلیف کړی دی. مونږ د ګاونډی توب په حق سترګې پټې کړی دی، ځکه خو ګیلې ته راغلی دی.

عدنان: مور مې هم دا ویل چه خبره به مو بده نه ګڼئ!

د شعیب مور:مور دې بلکل ټیک ویلې دی. ګاونډیان خو د ورونو خوېندو په شان وی. په غم او خوشحالۍ کښې شریک وی. د یو بل خیال به ساتو. ماشومان به هم داسی لوبې نه کوي چه ګاونډی ته پرې تکلیف رسی، ارام یا ستر پردې ته یې ضرر وي.

شعیبه! اوچت شه د عدنان نه معافی وغواړه.

شعیبه: عدنان وروره زما په بد تمیزۍ خفه نشې، ما معاف کړه!

عدنان: هیڅ خبره نه ده. ته خو زما ملګری هم یې او ورور دې هم ګڼم. د ملګرو نه خو غلطۍ کېږي.(دواړه یو بل ته تر غاړه وځي.)

(شعیب په منډه ځي، ټی وی په مزه کوي، خوېندو او ورونو ته وایي چه شور مه کوي د عدنان د پلار طبیعت ټیک نه دی. مور یې د عدنان سره د پلار پوښتنې ته ځي. عدنان او شعیب هم لاسونه ورکوي او د عدنان د پلار پوښتنې ته ځي. مور یې چه دوی دواړه ویني، نو خوشحالېږي.)

单词 لغتونه

权力，权利	〈阿〉[阳]	/haq(q)/	حق
世界的；宇宙的	〈波、阿〉[形]	/ʻa:la'mi:/	عالمي
板球	〈英〉[阳]	/kri'kaṭ/	کرکټ
声音	[阴]	/p'ṛaka/	پړقا
叫喊声，大声吆喝	〈阿〉[阴]	/ngha'ra/	نعره
灾难；不幸；艰难，困苦	〈阿〉[阳]	/musi'bat/	مصيبت
抱怨	[阴]	/gi'la/	ګيله
话语	[阴]	/ta'mi:zi:/	تميزۍ

注释 تشريخ

مازغه مې مه خوره! 不要让我发疯！

练习 تمرين

单项选择题。

۱ - ددغه مقاله د عنوان مطلب څه دی؟

الف) ګاونډیان باید خپل حق وساتي.　　ب) ګاونډیان باید د یو بل خیال وساتي.

ج) ګاونډیان د یو بل په بدتمیزۍ خفه نه شي.　　د) ګاونډیان د یو بل خیال ولري.

۲ - په لاندني څرګندونې کښې کومه درسته وه؟

الف) په پاکستان کښې کرکټ ډېر نامطلوب دی.

ب) په پاکستان کښې خلک یوازې د کرکټ مسابقه ګوري.

ج) په پاکستان کښې کرکټ ډېر رواجي دی.

د) شعېب د کرکټ د مسابقه کتل د پاره لوبغالي ته ولاړ.

۳ - د عدنان پلار ته څه ضروري دي؟

الف) امان　　ب) ارام

ج) اېمن　　د) ایمان

۴ - عدنان په تېي وی کمره کښې څه کار وکړ؟

الف) کورنی کارونه　　ب) جارو کول

ج) سینما کتل　　د) د کرکټ مسابقه کتل

۵ - عدنان د شعېب د کور ټلۍ په څومره ځل ووهه؟

الف) ۱　　ب) ۲　　ج) ۳　　د) ۴

۶- د " که خفه کېږئ نه"مطلب څه دی؟

الف) 如果你不伤心的话　　ب) 你伤心不

ج) 如果你不介意的话　　د) 你介意不

۷- په لاندنی څرګندونې کښې کومه غلطه وه؟

الف) عدنان او شعیب ملګری و.

ب) عدنان ورور نه درلود.

ج) د عدنان خبرې د اورېدلو نه وروسته شعیب ډېر خفه و.

د) د عدنان پلار د کار په وجه ناروغ و.

۸- په سر کښې د شعیب مور په دې پوه شوه چه د عدنان پلار ناروغ و؟

الف) هو ، هغه پوه شوه.

ب) هو ، هغه د عدنان د پلار پوښتنې ته ولاړه.

ج) نه، په اخر کښې هغه خبره ده.

د) پته نشته.

۹- د"هیڅ خبره نه ده"مطلب څه دی؟

الف) 没关系　　ب) 不像话

ج) 没有任何问题　　د) 有问题

۱۰- د دغه مقاله مطلب څه دی؟

الف) ګاونډیان باید مرورتیا ونه کړي.

ب) ګاونډیان باید د ورونو خوېندو په شان وی او د یو بل سره مرسته وکړي.

ج) که ګاونډیان دیو بل ته بد تمیزی وایي، بایدیي معاف وکړو.

د) ګاونډیان باید په غم او خوشحالۍ کښې شریک وی.

第五课

پنځم لوست

لومړی برخه

څو پښتو متلونه

۱- کوږ بار تر مزله نه رسېږي .

دا متل پښتانه په هغه ځای کې وايي چې څوک وغواړي په دروغو او چالاکۍ سره ځان يوې رتبې او ځای ته ورسوي . ځکه د دنيا تجربې او واقعات د دې خبرې مرسته کوي او ښايي څه رنګه چې د يوه دېوال بنسټ پوخ وي ، تل به هغه دېوال ولاړ وي او که نه په لږ مده به ولوېږي . همدغه رنګه که څوک يو کار پر اوږه واخلي او د هغه کار د اخيستو زور او شخصيت په ده کې نه وي موجود ، نو هر کله چې د هغه بنسټ نه وي ، محکم ژر به وپرزی او حقيقت به يې خلکو ته ځرګند شي . او هم دا متل په هغه ځای کې ويل کېږي چې د يوه کار اساس پر دروغو بنا وي او هغه کار سر ته نه رسېږي .

۲- لاس تور ، مخ په تور

دا متل په هغه ځای کې ويل کېږي چې د چا يو خوی بد وګڼل شي . يعنی وايی هر کله چې د انسان يو خوی د انتقاد وړ وګرزي ، طبعا نور ښه خويونه يې هم د هغه بد خوی تر سيورې لاندی راځي او خپل ښه والی بايلي .

۳- چې کرې هغه به رېبې .

دنيا لکه کښت ده چې د انسان ټول اعمال او کارونه په

هغه کې د تخم مثال لري . انسان هر څه چې کوي ښايي داسې ورځ راشي چې د خپل عمل مېوه او حاصل ووینې . که یې ښه کړې وي ښه او که نه د خپلو بدو عملو حاصل به واخلي .

۴- مړونه مري ؤ نومونه یې پاتېږي .

دا متل په هغه ځای کې وایی چې نورو ته تشویق او په سمه لار لارښوونه کوي او دا متل ډېر د نوموړو په ستایلو او حکایت کې ویل کېږي .

۵- مېړه مړ کړه ، مړانه یې مه ور کوه .

هر کله چې پښتانه په خټه کې مړنې او شهرت غوښتونکي دي ، نو ترخه وینا او تریخ خبر دوی ته هغه دی چې څوک یې د مړانې او ښه والی څخه منکر شي . دا متل هم د دغه غریزې څخه زو کړې دی .

۶- مار ته په لستوڼي کې ځای مه ورکوه .

دا متل په هغه ځای کې ویل کېږي چې څوک دښمن لري او د ده د دښمنی او سړیتوب اندازه و نه ازمویي او تل یې پالنې کوي او ځانته یې نژدې کوي او د خپل ښه نیت څخه پر ده ویسا لري .

۷- خپله خوله هم کلا ده هم بلا .

هر کله چې د کار او مقصد د پر مخ وړلو یوازنۍ وسیله په اجتماعي ژوندون کې ژبه ده . نو که ژبه په ښه ډول سره وګرېږي ، د ویونکي د ساتلو سبب کرزي او که په بدو وګرېږي ، د ویونکي د بربادۍ وسیله ده .

۸- چې غورځي هغه پرځي .

دا متل سړي ته ورښیي چې انسان باید په هر ځای کې اعتدال وساتي او د منځوی کارو څخه چې غوره دي ، دباندي ته پښه و نه غزوي او تر خپلې اندازې تېرۍ و نه کړي او که نه داسې نقصانونه به ورپېښ شي چې بیا یې علاج کولای نه شي .

۹- ژرنده که د پلار ده ، هم په وار ده .

په هر کار کې باید اعتدال او انصاف له لاسه و نه وزي . دنیا د ټولنې دنیا ده چې د ډوډۍ په خوراک کې لاس د خولې سره ملګرتیا او مرسته کوي . همدغه رنګه په اجتماعی ژوندون کې باید هر سړی د ټولې خپلې هستۍ سره د نورو ملګرتیا او مرسته وکړي ، د تعاون او انصاف ناموس تر هر شی لوړ ګڼي .

۱۰ – چې اوسې په خوی به د هغو شې .

د دې مسئلې قانون د څو کلو را په دې خوا په تېره بیا له هغه وخته چې د اجتماع علم منځ ته راغلی دی او قوانین یې منتظم شوي دي ، نو د دې علم پوهانو ته ثابته ده چې ګڼون د یوه فرد په روحیاتو کې ډېره اغېزه لري او هرکله چې یو فرد په ډېرو کې ووینې ، دې ته اړ دی څه چې نور کوي ، دی به هم د هغو پېښې کوي او دا پېښې په کرار کرار سره د ده عادت شي چې پوهان دا رنګه عادتونه دوهم (ثانوی) طبیعت بولي .

لغتونه 单词

(官吏的)衔，官衔，官阶，官等，官级	〈阿〉[阳]	/ rut'ba /	رتبه
时间的长短，持续的时间	〈阿〉[阳]	/ mad /	مد
无可争辩的，无疑的	〈阿〉[形]	/ mah'kam /	محکم
倒下，被推倒	[不及]	/ pərze'dəl /	پرزېدل
批评，评论，评价	〈阿〉[阳]	/ inti'qa:d /	انتقاد
鼓励，勉励，促使，推动	〈阿〉[阳]	/ tash'wi:q /	تشویق
讲述，叙述	〈阿〉[阳]	/ hika:'yat /	حکایت
大胆，勇敢，英勇，勇气	[阴]	/ ma' ra:na /	مړانه
泥，泥土	[阴]	/ 'khata /	خټه
本能，生性，天性	〈阿〉[阴]	/ ghari'za /	غرېزه
生育，出生	[及]	/ zoka'wəl /	زوکول
袖子	[阳]	/ las'tu:nai /	لستونی

信任，信赖	［阴］	/ we’sa: /	ويسا
播种	〈波〉［阳］	/ kiht /	کښت
籽实，籽儿；谷粒，种籽	［阳］	/’tukhm /	تخم
谈话，交谈，会谈	［不及］	/ gəre’dəl /	ګړېدل
破坏，灭亡，死亡，毁灭	［阴］	/ barba:’di:/	بربادي
公正，公平，公道；正义	〈阿〉［阳］	/ i’ti’da:l /	اعتدال
亏损，亏本，损失，损害，伤害	〈阿〉［阳］	/ nuq’sa:n /	نقصان
医治，治疗	〈阿〉［阳］	/‘i’la:j /	علاج
公正，公平，公道；正义	〈阿〉［阳］	/ in’sa:f /	انصاف
财富，财产，所有物	［阴］	/ has’ti:/	هستی
互相帮助，合作，协作	〈阿〉［阳］	/ ta”a:’wun /	تعاون

注释 تشريح

1 کوږ بار تر مزله نه رسېږي. 谚语：搁歪的包袱驮不到目的地。

2 مېړه مړ کړه ، مړانه يې مه ور کوه. 谚语：把英勇的人打死，他的勇气不灭。

练习 تمرين

一、回答问题。

١- په کوم ځای کې ”کوږ بار تر مزله نه رسېږي“ وايي ؟ مثال راوړه !

٢- په کوم ځای کې ”لاس تور ، مخ په تور “ وايي ؟ مثال راوړه !

۳- په کوم ځای کې "مار ته په لستوڼي کې ځای مه ورکوه" وایي ؟ مثال راوړه !

۴- په کوم ځای کې "چې غوړځي هغه پرځي" وایي ؟ مثال راوړه !

۵- په کوم ځای کې "چې اوسې په خوی به د هغو شې" وایي ؟ مثال راوړه !

二、填空题。

۱- مړونه مري ؤ ، ______________________________ .

۲- مېږه مړ کړه ، ______________________________ .

۳- چې کړې ، ______________________________ .

۴- خپله خوله هم کلا ده، ______________________________ .

۵- ژرنده که د پلار ده ، ______________________________ .

三、判断题。

۱- که د یوه دیوال بنسټ پوخ وي ، هغه دیوال به په لږ مده ولوېږي .

۲- متل" مړونه مري ؤ ، نومونه یې پاتېږي " ډېر د نورو په انتقاد کې ویل کېږي .

۳- پښتانه په خټه کې مړنې او شهرت غوښتونکی دي .

۴- که انسان ښه کړي ، هغه به د خپلو ښو عملو حاصل واخلي .

۵- که په کرار کرار سره یو کار وکړي ، انسان به ور سره عادت شي .

四、翻译句子。

۱- د یوه کار اساس پر دروغو بنا وي او هغه کار سر ته نه رسېږي .

۲- انسان هر څه چې کوي ښایي داسې ورځ راشي چې د خپل عمل مېوه او حاصل ووینې .

۳- که ژبه په ښه ډول سره وکړېږي ، د ویونکي د ساتلو سبب کرزي او که په بدو وکړېږي ، د ویونکي د بربادۍ وسیله ده .

۴- دنیا د ټولنې دنیا ده چې د ډوډۍ په خوراک کې لاس د خولې سره ملګرتیا او مرسته کوي . همدغه رنګه په اجتماعي ژوندون کې باید هر سړی د ټولې خپلې هستۍ سره د نورو ملګرتیا او مرسته وکړي ، د تعاون او انصاف ناموس تر هر شي لوړ ګڼي .

٥- هر کله چې يو فرد په ډېرو کې ووينې ، دې ته اړ دی څه چې نور کوي ، دی به هم د هغو پېښې کوي او دا پېښې په کرار کرار سره د ده عادت شي .

五、熟读并熟练运用文中谚语。

دوهمه برخه

د کال مياشتې او د کال لومړۍ ورځ

يو کال څلور فصله دي . د کال هر فصل درې درې مياشتې لري مثلاً د پسرلي د فصل مياشتې دا دي : وری ، غوايي او غبرګولې . په پسرلي کې هرې خوا ته رڼې اوبه بهيږي ، نباتات د ځمکې له درانه خوبه راويښيږي او په نوي ژوند پيل کوي ، د نوي ژوند د جوړولو لپاره هر څه له درانه خوبه راپاڅيږي .

د اوړي د فصل مياشتې لکه چنګاښ ، زمري ، وږي . څرنګه چې په پسرلي کې ټول نباتات راژوندي کيږي ، بيا نو غوټۍ ، پاڼې او ګلان وکړي . د لمر وړانګې له پسرلي څخه ورو ورو پسې تودې شي يعنې د اوړي تودوخه پيل شي . دا تودوخه غلې دانې پخې کړي او بزګران د خپلو غلو دانو په راټولولو پيل کوي . د مېوو لرونکو ونو ګلان په مېوو بدل شي . د اوړي تودوخه مېوې پخې کړي او د خوراک وړ شي .

د منې د فصل مياشتې پدې ډول دي : تله ، لړم او د لنډۍ مياشت . په خلکو کې دا خبره رواج ده او وايي چې تر هغه چې په انګورو ، انارو او نورو مېوو باندې د ميزان هوا نه وي لګېدلې ، تريووالې يې له منځه نه ځي . دا خبره رښتيا او ثبوت ته رسيدلې ده . کله چې د منې سيلۍ ولګيږي د ونو پاڼې ژيړې شي ، همدغه يخه هوا د انګورو ، ناکو او نورو مېوو رنګونه هم ژيړ کړي . مېوې دومره خوږې شي ، چې د ډير خوږوالي نه څوک

ډېره مېوه نشي خوړلي. جوار، شولې او ځيني نورې غلې دانې هم په منې کې پخېږي.

د ژمي د فصل مياشتې بيا دا دي: مرغومي، سلواغه او د کب مياشت. په ژمي کې د لمر وړانګې کمزورې وي. د لمر تودوخه هم لږه شي. هوا سړه شي. شنه بوټي د يخني له کبله وچ شي. د ونو د پاڼو رژېدل هم پای ته رسېږي. په ځينو تودو سيمو او غرونو کې مېوه لرونکې او بې مېوې ونې هم شنې پاتې کېږي. لکه د نارنج، سبر، ښون، نښتر او داسې نورې ونې چې د ننګرهار، کونړ، لغمان، کندهار، پکتيا او په داسې نورو سيمو کې پيدا کېږي. په ژمي کې بارانونه او واورې پېل شي. د سړو سيمو او لوړو غرونو په مخ سپينې واورې ولوېږي. خو کله چې په تودو سيمو کې واورې وشي ژر ويلې کېږي. واورې او بارانونه د کښتونو لپاره ډېر ګټور وي. لکه چې يو متل دي: کابل بې زرو ښه دي، نه بې واورو. په کابل او نورو سړو سيمو کې



چې په ژمي هوا ډېره سړه شي، خلک صندلي او بخاري ږدي، وړين او تاوده کالي اغوندي، ترڅو د زياتې يخنۍ له کبله يې روغتيا ته تاوان و نه رسېږي.

په دې حساب زمونږ يو بشپړ کال دوولس مياشتې کېږي چې هره مياشت يې دېرش ورځې کېږي. يو کال درې سوه او پنځه شپېته ورځې دي.

زمونږ په هېواد کې د ورې د مياشتې لومړي ورځ د کال لومړي ورځ ده. دا ورځ په هېواد کې د ښځو او نرو د لويو او وړو له خوا په ډېر درناوي سره نمانځل کېږي. زمونږ په لرغوني هيواد کې د ډېرو پخوا زمانو څخه را په دې خوا د کال لومړي ورځ په خاصه توګه لمانځله کېږي. دغه مېله ډېر پخواني تاريخ لري.

زمونږ خلک د دې نه هېرېدونکې ورځې د مخه د دې ورځې لپاره تياري نيسي، خپلې خونې او ټول د کور سامان پاکوي. د کال په لومړۍ ورځ لمده مېوه په ځينو کورونو کې رواج لري. د نورو په ورځ اووه ډوله پاکه مېوه پيدا کوي بيا يې خيشتوي. دغه څه ميوه په خپله خوري او څه يې د هغه دوستانو لپاره ساتي چې د دې ورځې د مبارکي دپاره کور ته ورځي. تر ټولو مهم کار چې زمونږ د نيکونو څخه را پاتې دي، هغه د نوي کال د نيالګيو د کښنولو مېله ده. ډېر ځوانان او پېغلې پدغه ورځ نيالګي کښنوي او خپل هېواد سمسور وي.

بزګران خپل غوایان او داسې نور ښاروي میلې ته بیایي . هر چا چې ښه ښاروي روزلې وي هغوي ته جایزه ورکوله کیږي .

په دغه ورځ هره کورنۍ ښه خوندور خواړه پخوي . هلکان او نجونې ښکلي کالي اغوندي او مېلو ته ځي همدا رنګه د خپلو دوستانو کره ځي او د نوي کال مبارکي ورته وايي . خلک وايي چې د کال لومړي ورځ ډېره مبارکه ورځ ده . نو که دا ورځې هر څوک په خوشحالي سره پیل کړي ، ټول کال یې په خوښۍ سره تېرېږي .

لغتونه 单词

芽，幼芽；蕾，子房	［阴］	\ghu'təi\	غوټۍ
暴风	［阴］	\se'ləi\	سېلۍ
熔解，熔	［不及］	\wile’dəl\	ویلېدل
混合土（粘土、植物细毛和灰的混合物，用来涂地板）	［阴］	\sanda'la\	صندله
炉子，火炉	［阴］	\bukha:'rəi\	بخارۍ
毛的，毛制的	［形］	\wa’ri:n\	وړین
浸湿，使潮湿；泡透	［及］	\khishta'wəl\	خیشتول

تشریح 注释

1 阿富汗阳历月份一览表：

公历	星座	波斯语名称	普什图语名称	月份
3/21~4/19	白羊座	حمل	وری	一月
4/20~5/20	金牛座	ثور	غویی	二月

公历	星座	波斯语名称	普什图语名称	月份
5/21~6/21	双子座	جوزا	غبرګولی	三月
6/22~7/22	巨蟹座	سرطان	چنګاس	四月
7/23~8/22	狮子座	اسد	زمری	五月
8/23~9/22	室女座	سنبله	وږی	六月
9/23~10/23	天平座	ميزان	تله	七月
10/24~11/21	天蝎座	عقرب	لړم	八月
11/22~12/21	人马座	قوس	ليندۍ	九月
12/22~1/19	摩羯座	جدی	مرغومی	十月
1/20~2/18	宝瓶座	دلو	سولاغه\سلواغه	十一月
2/19~3/20	南鱼座	حوت	کب	十二月

2 لمده مېوه 指葡萄干、杏干、核桃仁、沙枣、杏仁、无花果和阿月浑子等七种干果。在新年这天，家庭主妇要用这七种干果煮“七宝汤”（هفت مېوه :کشمش – مميز، وچ زردالو، چارمغز، خرما، بادام،انځراو پسته）。

练习 تمرين

单项选择题。

۱ - يو کال څلور فصله دي . په کوم فصل کې د لمر وړانګې کم کېږي ؟

الف) پسرلی　　ب) دوبی

ج) منی　　د) ژمی

۲- د کال د دوهمې فصل د میاشتې په ترتیب سره نومونه کوم کوم دي ؟

الف) وری ، غوایی او غبرګولی
ب) چنګاښ ، زمری ، وږی

ج) تله ، لړم او لندۍ
د) مرغومی ، سلواغه او کب

۳- د اوړي په فصل کې بزګران څه کوي ؟

الف) استراحت کوي
ب) دانه اچوي

ج) دانه ټولوي
د) مېوې خوري

۴- د متن له سر څخه په دریم پرګراف کې " تریووالی " څه معنا ؟

الف) د تریو اسم دی
ب) یووالي ته رسېږي

ج) سره یو ځای
د) بشپړول

۵- په ژمي کې د افغانستان کومې سیمې تاوده وي ؟

الف) کابل ، پکتیا ، ننګرهار
ب) کابل ، لغمان ، کندهار

ج) لغمان ، پکتیا ، کندهار
د) ننګرهار ، لغمان ، کابل

۶- ولې په ژمی کې باید وړین او تاوده کالي واغوندي ؟

الف) د لمر تودوخه لږه شي
ب) په ژمی کې بارانونه او واورې پیل شي

ج) صندلي او بخاري نه لري
د) روغتیا وساتي

۷- د افغانستان د نوی کال لومړی ورځ کومه ورځ ده ؟

الف) د عیسوي کال د لومړی میاشتې لومړې ورځ

ب) د وري میاشتې لومړې ورځ

ج) د وري میاشتې یوویشتمه ورځ

د) خبر نه یم

۸- لاندنې خبرې کومه سمه ده ؟

الف) په ژمی کې د افغانستان د ټولو ښارونو هوا ډېره سړه ده

ب) کله چې د مني سیلۍ ولګیږي ، میوې تریو شي

ج) په تله ، لړم او لندۍ کې غلې دانې پخېږي

د) په نوي کال جشن کې د ډوډۍ خوړلو د پاره بزګران خپل څاروي میلې ته بیایي

۹- د افغانستان د نوي کال په لومړۍ ورځې کې نجونې او هلکان څه کوي ؟

الف) ښکلي کالي اغوندي او میلو ته ځي   ب) نیالګي کښېنوي

ج) لوبې کوي   د) اتڼ کوي

۱۰- د افغانستان د نوي کال په لومړۍ ورځې کې ولې خلک نیالګي کښېنوي ؟

الف) چاپېریال وساتي   ب) د خلکو خوښ دی

ج) غواړي چې مېوې وخوري   د) هیله ده چې خپل هېواد سمسور وي

第六课

شپږم لوست

لومړی برخه

زه ښه شاګرد او ښه هلک یم

رخصتی خلاصه شوه. دا دی بیا مکتب ته راغلو. زمونږ مکتب ډېر ښه ځای دی، لوی باغ لري. د مکتب په باغ کښی لوبې کوو. مکتب مو ډېرې کوټې لري. د هر صنف دپاره یوه کوټه ده. زمونږ صنف روښانه دی هوا ئې ښه ده. په مکتب کښی لوست وایو. د لوست په وخت کښی لوبې نه کوو. د معلم پر خبره غوږ نیسو. په کور کښی هم لوست وایو، مشق کوو. څوک چه کوښښ کوي بریالی کېږی، لوړ صنف ته ځي او هر وخت خوښ وي. څوک چه لوست نه وایی پاته کېږی.

نن څه ښه ورځ ده. ټول خوشحاله دي. هلکان مکتب ته ځي. ټول د اختر د ورځې په شان خوښ دي. هو! د بریالی شاګردانو دپاره نن اختر دی. زما نوم زلمی دی. زه ښه شاګرد یم. د دوهم صنف کتابونه مې واخیستل. زه خپل کتابونه پاک او ښه ساتم. په لوست کښی زیار کاږم چه بریالی شم. پر احمد مې زړه خوږېږي. خوارکی پرو سږ کال کوښښ و نه کړ پاتې شو. معلم صاحب نوی کتابونه ور نه کړل. پرون ئې وژړل. معلم صاحب ور ته وویل: "پرو سږ کال دې زیار و نه کېښ. پاته شوې، سږ کال کوښښ کوه چه

بريالی شي ."

زه ښه خويونه لرم . په کور او مکتب کښې باادبه يم . هره ورځ مکتب ته د وخته ځم . په صنف کښې د هر چا سره په ښه والی خبرې کوم . د چا سره جنګ او جنجال نه کوم . دبدو هلکانو سره نه ګرزم . د څه شی بې اجازې نه اخلم . پرون مې قلم په کار ؤ . قلم زما د همصنفی شريف پر ميز پروت ؤ . شريف دباندی تللی و . څو شريف را نه غی قلم ئې د ميز څخه وا نه خيست . شريف چه راغي ، قلم ئې ځنې وغوښت . شريف قلم راکړ . چه کار مې تمام کړ ، په خورا ادب مې بېرته ورکړ او تشکر مې ځنې وکړ . زه هيڅکله خپل وخت خوشې نه تېروم . شپه او ورځ مې د کار ، استراحت ، خوب او لوبو دپاره وېشلی ده . هر کار پر خپل وخت کوم . ډېر کار او ډېر زيار باسم . له دغه سببه دی چه په خپل صنف کښې لومړی يم .

هره ورځ سهار د وخته پاڅېږم . خپله بستره نغاړم او خپله کوټه ښه پاکوم . لاس ، مخ او خوله پرېمينځم . غاښونه په مسواک يا برس پاکوم . پلار ، مور ، ورور او خور ته سلام ورکوم . ټول شيان مې پوره او ځای پر ځای وي . کله چې د ښوونځي څخه کور ته راشم ، ټولو ته سلام اچوم او د ښوونځي کالي باسم او په ټاکلي ځای کې يې ږدم . بيا خپل مخ او لاسونه مينځم . وروسته د خپلې مور ، ورور او خور سره يو ځای ډوډۍ خورم . ډوډۍ په ارامۍ سره خورم ، تر ډوډۍ خوړلو وروسته ژر نه بيدېږم . ډېر سبق وايم . که په درسونو کې د کومې ستونزې سره مخامخ شم ، د خپلې مور او پلار څخه مرسته غواړم . د پلار او مور او کورنۍ احترام کوم . ځان پاک ساتم . زه پر مور او پلار باندی ګران يم .

د کور په چارو کې بايد يو له بر سره مرسته وکړي . زه هم د کور په چارو کې د خپلې مور او پلار او کورنۍ سره مرسته کوم . کله چې مور مې د کور په کارو لګيا وي او يا چېرې لاړه شي ، د خپلې کوچنۍ خور پالنه هم کوم . زه د خپلو خويندو او ورونو سره ډېره مينه لرم . زه تل زيار باسم داسې کار و نه کړم چې څوک راڅخه خپه شي .

زه هم ښه هلک يم . ښه هلک تل رښتيا وايي . هيڅکله دروغ نه وايی . دروغ سړی شرموي . تور او مې يوه ورځ د خپلې باغچې څخه د ګلاب د بوټو څخه يو يو ښاخ مات کړی ؤ . پلار مو د ما او وروره څخه پوښتنه وکړه چه د نازبو او ګلاب ښاخونه چا مات کړي دي ؟

و مې ویل: "د ګلاب ښاخ له ما څخه سهواً مات شویدي."

مګر تور وویل: "زه نه یم خبر."

پلار تور وروغوښت او لاس ئې وربوی کړ. که ګوري د لاس څخه ئې د نازبو بوی او له جېب څخه ئې د نازبو بوټی راووت. پلار ما ته د رښتیا ویلو په سبب انعام ورکړ او تور ته ئې د دروغ ویلو جزا ورکړه.

单词 لغتونه

学生，学员	〈波〉[阳]	\sha:'gird\	شاګرد
不幸的人，可怜人	[阳]	\khwa:rə'kai\	خوارکی
揣搓，捻，拧紧，捲起，撩起	[及]	\ngha:'rəl\	نغاړل
灌木；植物，草木	[阳]	\'butai\	بوټی
小树枝	〈波〉[阳]	\ha:kh\	ښاخ
疏忽地，粗心地，马马虎虎地；错误地	〈阿〉[副]	\'sah'wa:n\	سهواً
衣袋，兜	〈阿〉[阳]	\jeb\	جېب
奖赏，奖励，褒奖；奖金	〈阿〉[阳]	\in''a:m\	انعام
处罚；报应	〈阿〉[阳]	\ja'za:\	جزأ

练习 تمرین

一、回答问题。

۱- د زلمي مکتب څرنګه دی؟

۲- ولی احمد نوی کتاب نه لري؟

۳- ولی زلمی په خپل صنف کې لومړی دی ؟

۴- زلمی څه کار نه کوي ؟

۵- ولی تور دروغ وویل ؟

二、填空题。

۱- پر احمد مې ________ . خوارکی پرو سږ کال کوښښ و نه کړ پاتې شو .

۲- په کور او مکتب کښې باادبه یم . هره ورځ مکتب ته د وخته ځم . په صنف کښې د هر چا سره په ښه والی خبرې کوم .

۳- ټول شیان مې پوره او ________ وي . کله چې د ښوونځي څخه کور ته راشم ، ټولو ته سلام ________ او د ښوونځي کالي ________ او په ټاکلي ځای کې یې ________ .

۴- زه هم ښه هلک یم . ښه هلک تل رښتیا وایي . هیڅکله دروغ نه وایی . دروغ سړی ________ .

۵- پلار مو د ما او وروره څخه پوښتنه وکړه چه د نازبو او ګلاب ښاخونه چا مات کړي دي ؟

و مې ویل : " د ګلاب ښاخ له ما څخه ________ مات شویدي . "

三、用合适的词语填空。

۱- زمونږ ________ روښانه دی هوا ئې ښه ده . په مکتب کښې لوست وایو . د لوست په وخت کښې لوبې نه کوو .

۲- هلکان مکتب ته ځي . ټول د ________ د ورځې په شان خوښ دي .

۳- زه ښه ________ یم . د دوهم صنف کتابونه مې واخیستل . زه خپل کتابونه پاک او ښه ساتم .

۴- چه کار مې ________ کړ ، په خورا ادب مې بېرته ورکړ او تشکر مې ځنې وکړ .

۵- پلار ما ته د رښتیا ویلو په سبب انعام ورکړ او تور ته ئې د دروغ ویلو ________ ورکړه .

四、翻译句子。

۱- څوک چه کوښښ کوي بریالی کېږی ، لوړ صنف ته ځي او هر وخت خوښ وي . څوک چه لوست نه وایی پاته کېږی .

۲- معلم صاحب ورته وویل : " پرو سږ کال دې زیار و نه کېښ . پاته شوې ، سږ کال کوښښ کوه

چه بريالى شې . "

۳- د چا سره جنګ او جنجال نه کوم . دبدو هلکانو سره نه ګرزم . د څه شي بې اجازې نه اخلم .

۴- زه هم د کور په چارو کې د خپلې مور او پلار او کورنۍ سره مرسته کوم . کله چې مور مې د کور په کارو لګیا وي او یا چېرې لاړه شي ، د خپلې کوچنۍ خور پالنه هم کوم .

۵- پلار تور وروغوښت او لاس ئې وربوی کړ . که ګوري د لاس څخه ئې د نازبو بوی او له جېب څخه ئې د نازبو بوټی راووت .

五、讨论。

ستا په نظر کې ته یو ښه شاګرد او ښه هلک یې ؟ په کومه برخه غوره یې او په کومه برخه نیمګړتیا لرې ؟

دوهمه برخه

د قوم زړور بچی

زمونږ تاریخ د داسی بهادرو ځوانانو د کارنامو نه ډک دی چه د خپلو سرونو په بدله یې د خپل وطن نوم اوچت کړی دی. د قوم په دغسی بهادرو ځلمو کښی یو نوم د راشد منهاس شهید هم دی. راشد منهاس په ۷۱ فروری ۱۵۹۱ کښی په کراچی کښی پیدا شوی و. دی یو تکړه طالب علم و. د وړوکوالی نه یې هوایي جهازونه ډېر خوښ و. اکثر به یې د کاغذ نه جهازونه جوړول او الوزول به یې. خپله کاپی او کوټه به یې د جهاز په تصویرونو ښکلې کوله. د راشد منهاس پلار غوښتل چه دی انجینیر شي . خو راشد منهاس هوايي فوځ ته تلل غوښتل. اخر د مور په مشوره په هوایي فوځ کښی برتی شو . د تربیت د مختلفو مرحلو نه پس پایلټ افسر شو .

د شلم ۲ ۰ اګست ۱۷۹۱ ورځ د راشد منهاس د ژوند یوه یادګاری ورځ وه. په دې ورځ هغه په وړومبی ځل په یوازی ځان جهاز الوزاوه. نن د ده یو غټ ارمان پوره کېده. دا وخت د ورځې یوولس نیمې بجې وې. دی په خپل جهاز ټی ۳۰۳ کښی ناست و چه د کنترول ټاور نه ور ته د جهاز د الوزولو اشاره وشوه.

راشد منهاس خدای یاد کړ او جهاز یې په رن وی په مزه مزه روان کړ. جهاز رو رو تېزېده. لا د رن وی نه اوچت شوی نه و چه د ده یو بنګالی انسټرکټر د جهاز مخې ته را غله او اشاره یې ور کړه. دا د راشد منهاس استاذ مطیع الرحمن و چه ور ته یې د هوا بازۍ چل ښودلی و. هغه جهاز ودراوه چه ګنی په جهاز کښې څه خرابی راغلی دی. د خولې نه یې ماسک لرې کړ او د جهاز د ایسارولو وجه یې ترې و پوښتله. مطیع الرحمن د سترګو په رپ کښې ورودانګل او د جهاز په وروستی سیټ کښېناست. راشد منهاس د استاذ دی حرکت په سوچ کښې واچاوه. په دې کښې هغه په وائرلس په کراچۍ کښې خپلوانو ته وویل چه زما ښځه او بال بچ زر تر زره د هندوستان سفارت خانې ته د پناه دپاره ورسوې او زه پخپله هندوستان ته روان یم. د دې خبرې په اورېدلو راشد منهاس پوه شو چه مطیع الرحمن خو یو غدار او د پاکستان دښمن دی. هغه څه د اهم رازونو کاغذونه هم د هندوستان حکومت ته وړل. راشد منهاس لا ځان څه ته جوړ کړی نه و چه دغه دښمن د دویم کنترول نه فایده واخسته او د هندوستان په لور یې پرواز شروع کړ. راشد منهاس وائرلس اوچت کړ او کنترول ټاور ته یې خبر ور کړ. د کنترول ټاور نه ور ته ځواب راغله چه شاباش! تکړه شه! چه جهاز در ته هندوستان ته بو نه ځي. د راشد منهاس وینه خوټېده، د غصې نه تک سور شو، په غدار لکه د باز ور غوټه شو او ترې نه د کنترول اخستلو په هڅه کښې شو. غدار جهاز لاندی بوتلل غوښتل چه په رېډار ښکاره نه شي او راشد منهاس غوښتل چه جهاز اوچت بوځي. خو چه کله غدار ته د ده قابو کول ګران شو، نو په کلوروفام یو لوند شوی رومال یې ور ته په مخ واچاوه. دې سره راشد منهاس بې هوشه شو.

څه وخت پس چه په هوش کښې راغله، جهاز د هندوستان طرف ته روان و. هغه پخه اراده کړې وه چه په هیڅ قیمت به هم د وطن اهم رازونه دښمن ته پرې نږدی. ده ته پته وه که چرې غدار ژوند خلاص شو، ټول رازونه به ور ته ووایي. بل خوا دا غدار هم ښه ستړی شوی و. هغه راشد منهاس ته د پیسو او انعام لالچ ور کړ، خو هغه خپل غېرت او ننګ په پیسو خرڅ نه کړ.

جهاز اوس د هندوستان نه څلوېښت میله کښې و. د راشد منهاس په وړاندې اوس صرف یوه لاره وه چه جهاز تباه کړي. ده ته پته وه چه په دې کښې به هغه پخپله هم ختمېږي، خو د خپل ځان پروا یې و نه کړه. هغه آلې ته یې لاس ور ورساوه، کومه چه جهاز لاندې راولي. په هغې یې پوره زور ولګوه. جهاز په ډېره تېزۍ د زمکې په طرف روان شو. په زمکه د لګېدو سره یوه زوروره چودنه وشوه. د چودنې سره په جهاز اور ولګېده. ټکړې یې په هوا کښې خورې شوې. د اور او لوګي لوخړې تر اسمانه اوچتې شوې. غدار پکښې ایره ایره شو او راشد منهاس ته پکښې شهادت نصیب شو.

راشد منهاس ته پس د مرګه د ده په بهادرۍ او مېړانې د پاکستان د ټولو نه اوچت فوځي اعزاز" نشان حېدر"ورکړې شو. ټول قوم ته په خپل دې بهادر بچي فخر دی. کوم قوم کښې چه د راشد منهاس غوندې بچي وي، هغوی هیڅ کله نه شي ختمېدلی ولې چه د شهید مرګ د قوم ژوند دی.

单词 لغتونه

勇敢的，英勇的	〈波〉[形]	/ha:'dur/	بهادر
功绩；伟大的英勇行为	[阴]	/a:rna:'ma/	کارنامه
飞机	〈阿〉[阳]	/ja'ha:z/	جهاز
使飞翔，使飞行	[及]	/alwuza'wəl/	الوزول
希望，要求	[阳]	/ar'ma:n/	ارمان
慢慢地，一步步地	[副]	/ro/	رو
拖延，推迟；限制，约制	[及]	/isa:ra'wəl/	ایسارول
跳，跳跃	[及]	/da:n'gəl/	دانګل

叛徒，变节者	〈阿〉[阳]	/ghad'da:r/	غدار
飞，飞行，飞翔	〈波〉[阳]	/par'wa:z/	پرواز
开，沸，沸腾；被煮	[不及]	/khuṭe'dəl/	خوټېدل
浸入，钻进(液体中)	[阴]	/ghu'ṭa/	غوټه
贪婪；受贿	[阳]	/la:'ləch la:'ləj/	لالچ، لالچ
被破坏的，被毁坏的；被毁灭的，被消灭的	〈波〉[形]	/ta'ba:h/	تباه
分解，解体	[不及]	/khware'dəl/	خورېدل
烟，冒烟	[阳]	/lo'gai/	لوګی
浓烟	[阴]	/lu'khara/	لوخره
荣誉，光荣；敬重，尊敬，爱戴	〈阿〉[阳]	/i''za:z/	اعزاز

注释 تشريح

نشان حيدر 字面意思是“狮子的象征”，翻译成雄狮勋章，是巴基斯坦军队最高荣誉勋章，用于表彰在作战中有极度英勇表现的军事人员。自巴基斯坦建国以来仅有十人获授雄狮勋章。

练习 تمرين

单项选择题。

۱- كله چه راشد منهاس شهيد شو ، هغه څومره کالن و؟

الف) ۱۹　　　ب) ۲۰

ج) ۲۱　　　د) پته نشته

۲- په لاندنی څرګندونې کښې کومه غلطه وه؟

(الف) د راشد منهاس پلار غوښتل چه دی انجینیر شي .

(ب) د راشد منهاس د وړوکوالی نه هوایي جهازونه ډېر خوښ و.

(ج) راشد منهاس یو فرد و.

(د) راشد منهاس په ۷۱ فروری ۱۵۹۱ کښې په پاکستان کښې پیدا شوی و.

۳-ولی د شلم ۲۰ اګست ۱۷۹۱ ورځ د راشد منهاس د ژوند یوه یادګاری ورځ وه؟

(الف) ځکه چه په دې ورځ هغه په وړومبی ځل جهاز الوزاوه.

(ب) ځکه چه په دې ورځ هغه خپل جهاز الوزاوه.

(ج) ځکه چه په دې ورځ هغه یو پایلټ افسر شو.

(د) ځکه چه په دې ورځ هغه خپل یو غټ ارمان پوره وکړ.

۴-د دې مقالې په دریمه فقره کښې د رن وی مطلب څه دی؟

(الف) 航线

(ب) 跑道

(ج) 天空

(د) 轨道

۵ ولی د راشد استاذ د جهاز په وروستی سیټ کښېناست؟

(الف) ځکه چه هغه راشد ته د جهاز الوزول وښودل.

(ب) ځکه چه هغه جهاز الوزولی ونه شو.

(ج) ځکه چه هغه وغښتل چه جهاز والوزوي.

(د) ځکه چه هغه وغښتل چه هندوستان ته روان شي.

۶-په لاندنی څرګندونې کښې کومه درسته وه؟

(الف) مطیع الرحمن یو الوتونکی و.

(ب) د مطیع الرحمن ښځه او بال بچ د هندوستان سفارت خانې ته د پناه دپاره رسېدلی وو.

(ج) مطیع الرحمن هندو و.

(د) مطیع الرحمن د جهاز په وروستی سیټ جهاز کنترول نه شي کړی.

۷- مطيع الرحمن له ځان سره څه وو؟

(الف) ډېرې پيسې (ب) يو څه کاغذونه

(ج) هيڅ شی (د) يو څه رازونه

۸- راشد منهاس او مطيع الرحمن په جهاز کښې څه وکړ؟

(الف) دوی خبره وکړه.

(ب) دوی د جهاز کنترول ونيو.

(ج) پته نشته.

(د) دوی ټول جهاز والوزاوه.

۹- په لاندنی څرگندونې کښې کومه غلطه وه؟

(الف) مطيع الرحمن راشد منهاس ته د پيسو او انعام لالچ ورکړ، خو هغه خپل غېرت او ننگ په پيسو خرڅ نه کړ.

(ب) اخر جهاز په زمکه د لگېدو سره چودنه وشوه، د چودنې سره په جهاز اور ولگېده.

(ج) د مېړانې په وجه راشد منهاس نشان حېدر ورکړی شو.

(د) اخر جهاز د هندوستان نه څلويښت کيلومتر کښې و.

۱۰- د" د شهيد مرگ د قوم ژوند دی."مطلب څه دی؟

(الف) 烈士的牺牲是为了民族的生存

(ب) 牺牲我一个，幸福千万家

(ج) 烈士是民族的生命

(د) 烈士永远活在整个民族的心中

第七课

اووم لوست

لومړۍ برخه

د لیک اهمیت

د لیک له پیدا ایښت سره د انسان تاریخ پیل شو ، د انسان تمدن پیل شو ، د انسان د تجربو لېږدېدل پیل شول او د انسان د ادب او هنر ثبتېدل پیل شول . لیک د انساني علم پانګې او ذخیرې خوندي کړې او د لیک له پیدا ایښت سره د انسانیت سفر ګړندی شو ، د تفکر یون ګړندی شو او د فلسفې او سیاست سفر پیل شو . لیک د انسانانو پیغامونه د نړۍ له یوه ګوټ نه بل ګوټ ته ورسول او سره لیرې پراته انسانان یې د یو بل له غوښتنو او هیلو نه خبر کړل او بالاخره لیک د ډله ایز ارتباط لومړنۍ او بنیادي وسیله شوه .

انسان د لیک په وسیله وکړای شول چې هم د خپل عصر او هم د راتلونکو عصرونو او نسلونو له انسانانو سره د زړه خواله وکړي ، د خپل چاپیر وضعه ورته روښانه کړي ، د پرمختګ په لور خپل تم ځای او دم ځای ورته په نخښه کړي ، خپلې نا تر سره شوې غوښتنې ورته بیان کړي او د پاتې لارې مزل کولو ته یې وهڅوي .

د لیک تر پیدا ایښت وروسته انسان ډېر څه پیدا کړل او د لیک له برکته یې ډېر اختراعات او اکتشافات

وکړل او ډېر برېښنا ايز وسايل يې رامنځ ته کړل ، خو بيا هم دا ټول وسايل تش وسايل وو او ليک د اصلي هدف په حيث خپل ارزښت او اهميت خوندي کړ .

دا خو د ليک د پيدا ايښت عمومي بحث و ، خو ليک د ليکوالۍ او څه ليکلو د يوه ډول او يوې نوعې په توګه د خط له پيدا ايښت سره سم رامنځ ته شوی او يو چا بل چا ته خپل ضمير د ليک په وسيله ليکلی او تر ليرې ليرې ځايو پورې ليږل شوی او رسيدلی دی . ډېرې شخصي چارې ، ملي چارې ، بين المللي چارې ، سياسي چارې ، اجتماعي چارې او نور کړه وړه ليکونو حل کړي او ليکونو خوندي کړي دي او د وسايلو له ډېرښت سره سره هم د دنيا ټولې ډاکخانې ، ټلګرافخانې او فاکسونه د ليکونو په ليږلو راليږلو او وړلو راوړلو بوخت دي .

په ژبو کې د ادبياتو او په ادبياتو کې د راز راز ادبي اصنافو په راپيدا کيدو سره ليک هم د خپل عموميت تر څنګ خپل يو اړخ د ادب په حيث هم را برسېره کړ او هغه ليکونه چې په ادبي ژبه او د ادب په ادابو سم ليکل شوي وو ، د يوه ادبي صنف په توګه ومنل شول او دا ډول ليکونه په کتابونو او مجلدونو کې راغونډ او د ملتونو د ادب د ذخيرې يوه ارزښتناکه او د پام وړ برخه يې جوړه کړه .

په عربي ، فارسي ، او اردو کې د ليکونو ګڼې مجموعې را ټولې شوې او ساتلې شوې دي چې راز راز ادبي ، اجتماعي ، سياسي او د ژوند نور مسايل پکې را نغښتل شوي دي .

په عربي نړۍ کې هم د دې ډول ليکونو نمونې زياتې دي حتی وايي : چې له فرانسوي مفکر والټېرنه تر مړينې وروسته په خپل کتابتون د اويا زرو شا او خوا خطونه موجود وو .

ادبي ليکونه د خپل موثريت او اهميت له کبله دومره مقبول او د علاقې وړ شول چې ګڼو ليکوالو د خپل ضمير د بيانولو او خپلې ټولنې ته د رسولو په غرض د فرضي مخاطب په نامه د ټولو له پاره د ليکونو ليکل پيل کړل او له همدې ځايه ادبي ليکونه په دوو برخو وويشل شول ، يو واقعي او بل تخيلي او څرنګه چې دا

دوهمه برخه د ټولو نوم وو ، نو ځکه یې لوستونکي تر لومړي ډول خطونو زیات وو او په دې توګه لیکونو د یوه خواږه ادبي صنف په توګه د ادب په دنیا کې ځای وموند او دا سلسله لا دوام لري . د واقعي لیکونو مجموعې هم راغونډېږي او نشرېږي او د تخیلي لیکونو هم او د دې تر څنګ تعلیمي لیکونه هم خپل ځای لري چې د لیک لیکلو لارې خلکو ته ورښیي او د لیک د املاً او انشأ دواړې خواوې ورته روښانوي .

پښتو هم چې د پښتنخوا د اوسېدونکو او د سیمې یوه زړه لرغونې ژبه ده ، د ادب زاړه سوابق لري ، اولسي ادب یې تر زرګونو کلونو اوړي او کتبي ادب یې هم ۱۲۵۰ کاله عمر لري او د ادب په دې پانګه کې یې د ادب پر نورو نثري او نظمي اصنافو سر بیره د لیک زړې نمونې او نسخې هم را پاتې دي . په پښتو کې منظوم لیکونه هم شته او منثور هم ، عادي لیکونه هم شته او ادبي هم ، واقعي لیکونه هم شته او تخیلي هم او ورسره تعلیمي او لارښود لیکونه هم پکې رامنځ ته شوي دي .

单词 لغتونه

保存的	［形］	/ khwan’di:/	خوندي
思考，考虑，想；沉思，暝想；思维，思想	〈阿〉阳］	/ tafak’kur /	تفکر
步调，步伐	［阳］	/ yu:n /	یون
内心的秘密；心里话	［阴］	/ kh’wa:la /	خواله
制定，规定，确定；设立；状况，状态	〈阿〉［阴］	/ waz’(a)/	وضع
心，内心；良心，天良；打算，愿望	〈阿〉［阳］	/ za’mi:r /	ضمیر
邮局，邮政总局	［阴］	/ dagkha:’na /	ډاکخانه
普遍性，共同性，通俗，普及；推广	〈阿〉［阳］	/‘mumi’yat /	عمومیت
超出的，超过的；高出的	［形］	/ bar’sera /	برسېره
捲，搓，捆，缚，拧紧，捲起；扑倒，推翻；摆脱	［及］	/ nghəh’təl /	نغښتل

思想家，哲学家；知识分子，［复］知识界，知识分子们	〈阿〉［阳］	/ mufa'kir /	مفکر
假想的；假的，虚构的；由宗教或道德规定的	〈阿〉［形］	/ far'zi:/	فرضی
讲话的对象，讲话的对方，听者	〈阿〉［阳］	/ mukha:'tab /	مخاطب
想象的	［形］	/ tahi:'li:/	تخیلي
编辑；写作；文体，体裁	〈阿〉［阴］	/ in'sha:/	انشأ
记录	［阳］	/ sawa: ,biq /	سوابق
诗的，诗体的	〈阿〉［形］	/ man'zu:m /	منظوم
散文的	〈阿〉［形］	/ man'su:r /	منثور

注释 تشریح

1 ...انسان د لیک په وسیله وکړای شول چې 该句使用了可能式一般过去时结构，用来表示能力或客观可能性。可译为：人类利用书写可以……

2 په عربي ، فارسي ، او اردو کې د لیکونو ګڼې مجموعې را ټولې شوې او ساتلې شوې دي چې راز راز ادبي ، اجتماعي ، سیاسي او د ژوند نور مسایل پکې را نغښتل شوي دي .

ځان په ... کې را نغښتل 把自己裹住；笼罩在……之中。

练习 تمرین

一、回答问题。

۱- د لیک اهمیت راته ووایه !

۲- انسان کولی شي چې د کومې کومې لارې په وسیله لیکونه تر لیرې لیرې ځایو پورې ولیږي ؟

۳- فرانسوی مفکر والتېر په خپل کتابتون کې څومره خطونه خوندی کړی وو ؟

۴- ادبی لیکونه څنګه وويشل شول ؟

۵- په پښتو کی د لیک کوم کوم ډول انشا شته ؟

二、填空题。

۱- د لیک له ________ سره د انسان تاریخ پیل شو ، د انسان تمدن پیل شو ، د انسان د تج

ربو ________ پیل شول او د انسان د ادب او هنر ثبتېدل پیل شول .

۲- انسان د لیک په وسیله ________ چې هم د خپل عصر او هم د راتلونکو عصرونو

او نسلونو له انسانانو سره د زړه خواله وکړي ......

۳- لیک د لیکوال، او خه لیکلو د یوې نوعې په توګه د خط له پیدا ایښت سره سم رامنځ ته شوی او یو

چا بل چا ته خپل ضمیر د لیک په وسیله لیکلی او تر لیری لیری ځایو پوری ________ او ________ .

۴- هغه لیکونه چې په ادبي ژبه او د ادب په ادابو سم ________ ، د یوه ادبي صنف په

توګه ________ .

۵- پښتو هم چې د پښتنخوا د اوسېدونکو او د سیمې یوه________ لرغوني ژبه ده ، د ادب ________

سوابق لري ، اولسي ادب یې تر زرګونو کلونو اوړي او کتبي ادب یې هم ۰۵۲۱ کاله عمر لري

三、连线题。

تخیلی	فکر کونه ، سوچ کونه
کتبی	قط په قط راتلول ، راغونډول
تفکر	خیالی
نغښتل	پټ راز ، اند
ضمیر	تحریري ، لیکلی

四、翻译句子。

۱- انسان د لیک په وسیله وکړای شول چې هم د خپل عصر او هم د راتلونکو عصرونو او نسلونو له

انسانانو سره د زړه خواله وکړي ، د خپل چاپېر وضعه ورته روښانه کړي ، د پرمختګ په لور خپل تم ځای او دم ځای ورته په نخښه کړي ، خپلې نا تر سره شوې غوښتنې ورته بیان کړي او د پاتې لارې مزل کولو ته یې وهڅوي.

۲- د لیک تر پیدا ایښت وروسته انسان ډېر څه پیدا کړل او د لیک له برکته یې ډېر اختراعات او اکتشافات وکړل او ډېر برېښنا ایز وسایل یې رامنځ ته کړل ، خو بیا هم دا ټول وسایل تش وسایل وو او لیک د اصلي هدف په حیث خپل ارزښت او اهمیت خوندي کړ.

۳- په ژبو کې د ادبیاتو او په ادبیاتو کې د راز راز ادبي اصنافو په راپیدا کیدو سره لیک هم د خپل عمومیت تر څنګ خپل یو اړخ د ادب په حیث هم را برسېره کړ.

۴- په عربي ، فارسي ، او اردو کې د لیکونو ګڼې مجموعې را ټولې شوې او ساتلې شوې دي چې راز راز ادبي ، اجتماعي ، سیاسي او د ژوند نور مسایل پکې را نغښتل شوي دي.

۵- ادبي لیکونه د خپل موثریت او اهمیت له کبله دومره مقبول او د علاقې وړ شول چې ګڼو لیکوالو د خپل ضمیر د بیانولو او خپلې ټولنې ته د رسولو په غرض د فرضي مخاطب په نامه د ټولو له پاره د لیکونو لیکل پیل کړل.

五、讨论题。

د لیک د اهمیت په باره کی بحث وکړئ!

دوهمه برخه

انسان لیکل څنګه زده کړل؟

بچو! تاسو روزانه په خپلو کاپیو کښی څه نه څه لیکئ، خو کله مو سوچ کړی دی چه انسان دغه لیکل څنګه زده کړل؟ راځئ چه د لیک د ودې په مختلفو دورونو څه ولولي. تاسو به پوی شئ چه د لیک د کومو

کومو مرحلو نه پس نن مونږ د دې قابل يو چه د يو بل ليکونه لولو او پرې پوهېږو.

پخوا به انسانانو په غارونو کښې ژوند کاوه. قبيلې به يو ځای اوسېدې. صرف د خبرو په ذريعه به يې خپل مطلب بيانوه. د بنيادمانو شمېر زياتېده. خلک د ځر، د ښکار او د اوبو د نوو ځايونو په لټون پسې هرې خوا ته ووتل. په منځ کښې يې فاصلې زياتې شوې. د دې وجې نه يو بل ته د پيغامونو د رسولو د نوو طريقو په لټون شول.

کله به خلکو د غره د سر نه د چغو يا اور بلوه او يا د نغارې وهلو په ذريعه د لرې ځای اوسېده نکو ته خبر رساوه. خو د ابادۍ د زياتېدو سره دغه طريقې بې کاره شوې.

وايي چه ضرورت د ايجاد مور ده، ځکه د سوچ خاوندانو د پيغام استولو په مختلفو طريقو غور شروع کړ. تصويرونه او نخښې يې وټاکلې. هر تصوير يا نخښه د يوې خاصې خبرې، حالت يا ضرورت دپاره وه. تصويرونه به زيات د نمر، سپوږمۍ، مارغانو، بټانو، مهيانو او داسې نورو څيزونو وو. نمر د ګرمۍ او سپوږمۍ د ښکلا نخښه وه. په دې شان به يې په خپل مطلب خلک پوهول. دا تصويري ليک به د ختو په ککوړو باندې کېده. دا ککوړې به يې په اور کښې پخول. په ځينو علاقو کښې به په پلنو پلنو کاڼو تصويرونه او نخښې جوړولې شوې.

اوس دا سوال پيدا کېږي چه مونږ ته د څه نه پته ولګېده چه د ليک شروع د ختې او په کاڼو د تصويرونو او نخښو د جوړولو نه شوه. خبره دا ده چه د دنيا په ډېرو علاقو کښې د پخوانو کلو نخښې پيدا شوې دي. دا کلي په يوه زمانه کښې اباد وو، خو د يو لوی سيلاب، اتش فشان يا زلزلې په وجه د خاورو لاندې شوی دی. په پاکستان کښې هم ډېر پخوانې کنډرونه د کنستلو په وخت پيدا شوي دي. په دې اثارو کښې داسې پلن پلن کاڼې راوتلې دی چه د پخوانۍ زمانې ليکونه په کښې تراشلي شوی دی.

د نن نه يو نيم سل کاله مخکښې ماهرينو ته د دغه پخوانو ليکونو پته ولګېده. په ډېره خوارۍ د تصويرونو

او نخښو په مطلب هم پوه شول. په مصر کښې د کند په دوران کښې د ختو او پلنو کاڼو په مخ ليکونو نه پته ولګېده چه پنځه نيم زره کاله مخکښې خلکو ليکلي و. په عراق، ايران، چين او پاکستان کښې لاس ته د راغلو ليکونو نه دغه شان معلومات تر لاسه شول. د دغه تصويرى ليکونو نه د خبرې پته پوره نه لګېده. د څو تصويرونو يا نخښو نه به د يوې خبرې پته لګېدله. د دې وجې نه اکثر په تحريرى پيغام پوهېدل مشکل وو. وروستو په زرګونو تصويرى لفظونه او نخښې منځ ته راغلې چه د ټولو يادول ممکن نه وو. په چينى ژبه کښې تر اوسه پورى تصويرى نخښې موجودې دي چه شمېر يې تقريباً درې زرو ته رسېږي او د لوستلو د پاره ضرورى دى. د چينى ژبې په لغت کښې څلويښت زره داسې نخښې شته چه په ليکلو کښې استعمالېږي.

نن سبا دا هڅه کېږي چه لوستل او ليکل نور هم اسان شي. اوس د تصويرونو په ځاى د اوازونو د پاره نخښې ټاکلې شوې دى چه د الفبې حرفونه ورته وايي. د حرفونو په شمېر کښې هم دومره کمى راوستلى شوى

دى چه يادول يې اسان دى. د اردو ۲۵ ، د پښتو ۰۴ او د انګريزۍ د الفبې حرفونو شمېر ۲۲ دى، د دې حرفونو د يو ځاى کولو نه لفظونه او د لفظونو د يو ځاى کولو نه جملې جوړېږي. په جملو کښې يو ربط او تسلسل وى. د څو جملو د ليکلو نه د ليکونکى په مطلب سړى ښه پوهېدلى شى.

اوس به تاسو ته پته لګېدلى وى چه ليکل او لوستل مونږ څنګه زده کړل. دا زمونږ د پوهانو د خوارۍ او محنت نتيجه ده چه نن مونږ په اسانۍ سره لوستل او ليکل کوو او د خطونو په ذريعه د يو بل سره رابطه کوو. اوس د کمپيوټر ايجاد ليکل او پيغامونه استول لا نور هم اسان کړى دى.

单词 لغتونه

发展	[阴]	/'wada/	وده
鼓	[阴]	/nagha:'ra/	نغاره

发明，创造	〈阿〉[阳]	/i'ja:d/	ایجاد
小面饼	[阳]	/ka'koṛai/	ککوړی
火山	〈波〉[阳]	/a:tash-fi'sha:n/	آتش فشان
废墟	[阳]	/kan'ḍar/	کنډر
掘，挖，刨	[及]	/kənas'təl/	کنستل
行家，专家	〈阿〉[阳]	/ma:'hir/	ماهر
裂缝，裂痕；接缝，缝合处	[阳]	/kand/	کند
工作，劳动；重负，困难	〈阿〉[阳]	/mih'nat/	محنت

练习 تمرین

单项选择题。

۱- د دغه مقله مطلب څه دی؟

الف) د لیک پرمختګ　　ب) د رېونده لیک پرمختګ

ج) د لیکل پرمختګ　　د) د تصویری لیک پرمختګ

۲- پخوا به انسانانو د څه په ذریعه مطلب بیانوه؟

الف) لیکل　　ب) خبره　　ج) پته نښته　　د) چغه

۳- د"ضرورت د ایجاد د مور ده"مطلب څه دی؟

الف) 发明是需要的孩子　　ب) 需求促使创造

ج) 创造必须付出　　د) 有了需求，才有创造

۴- تصویرلیک په څه تصویرونه او خښتې جوړ کړی شوی؟

الف) ککوړی　　ب) خته　　ج) ختې　　د) خته او ککوړی

۵- په لاندنی څرګندونې کښې کومه غلطه وه؟

(الف) د بنيادمانو شمېر زياتېده.خلک د ځر، د ښکار او د اوبو د نوو ځايونو په لټون پسې هرې خوا ته ووتل.

(ب) کله به خلکو د غره د سر نه د چغو يا اور بلوه او يا د نغارې وهلو په ذريعه د لرې ځای اوسېده نکو ته خبر رساوه. خو د ابادۍ د زياتېدو سره دغه طريقې بې کاره شوې.

(ج) تصويرونه او نخښې يې وټاکلې. هر تصوير يا نخښه د يوې خاصې خبرې، حالت يا ضرورت د پاره وه.

(د) په پاکستان کښې تصويری ليک نهشته.

۶- کله په مصر کښې خلکو د ختو او پلنو کاڼو په مخ ليکلی وو؟

(الف) ۵۲۰۰ کاله مخکښې

(ب) ۵۵۰۰ کاله مخکښې

(ج) ۵۰۰۰ کاله مخکښې

(د) ۵۱۰۰ کاله مخکښې

۷- په لاندنی څرګندونې کښې کومه درسته وه؟

(الف)يوازې په چين کښې لاس ته د راغلو ليکونو نه دغه شان معلومات تر لاسه نه شول.

(ب) د دغه تصويری ليکونو نه د خبرې پته پوره لګېده.

(ج) په زرګونو تصويری لفظونه او نخښې منځ ته راغلې چه د ټولو يادول ممکن نه وو.

(د) په چينی ژبه کښې تر اوسه پوری تصويری نخښې موجودې دي.

۸- په لاندينی چيني لغات کښې کومه تصويری نخښه ده؟

(الف)比 (ب)武 (ج)从 (د)壶

۹- د چينی ژبې په لغت کښې څومره نخښې شته چه په ليکلو کښې استعمالېږي؟

(الف) ۴۰۰۰۰ (ب) ۴۲۰۰۰ (ج) ۴۱۰۰۰ (د) ۴۰۰۰

۱۰- په اردو او انګريزۍ کښې څومره الفبې حرفونه شته؟

(الف) دوه پنجوس، دوه شپېته

(ب) پنځه ويشت، دوه شپېته

(ج) پنځه ويشت، شپږ ويشت

(د) دوه پنجوس، شپږ ويشت

第八课

اتم لوست

لومړی برخه

هرات



هرات د افغانستان په لوېدېځه برخه کې د شرقی طول البلد په ۲۲ درجې او ۱۱ دقیقې او د شمالی عرض البلد په ۴۳ درجې او ۱۱ دقیقې باندی پروت دی . له کابل نه د غزنی ، کندهار او فراه په لار ۲۲۱۱ کلیومتره او د هزاره جات په لار ۸۲۸ کیلومتره لیری دی .

د اوسنی ویش له مخې د افغانستان لوېدیځه شمالی برخه د هرات ولایت نومېږي چې مرکز یی هرات بلل کېږي .

دې ولایت له پخوا څخه تر اوسه پوری ډېر اهمیت درلود او د تجارت او مدنیت مرکز و . که څه هم د یرغلگرو د چپاوونو او تاړاکونو په وجه څو ځله وران ویجاړ شوی دی ، خو بیا یی زیانونه او تاوانونه پوره کړی دی او خپل نوم او نښان یی ساتلی دی . له بلې خوا هرات له پخوا څخه د جغرافیائی او تجارتی موقعیت له کبله اقتصادی اهمیت درلود . د سمندری لارو د څرگندېدو نه وړاندی د چینی ښارونو او هند تر منځ د کاروانونو د تگ راتگ یوازینی لار په همدې ځای تیریدله . په تېره بیا د دې ولایت مرکز د هرات ښار د

تجارت یو لوی مرکز گڼل کیده . د داریوش په لیکنو کې د " هرې وه " په شکل راغلی دی . کیدای شی چې دغه نوم به د زمانې په تیرېدو له آریانه څخه راوتلی او جوړ شوی وی . ولی چې دغه ولایت د آریه یا آریانه په نامه هم یاد شوی دی . تاریخ پوهان لیکی چې مقدونی سکندر هرات په پخوانی نامه "آرتا کوانا " یاد کړی دی ، او آریان نومی تاریخ پوه یې آرتاکوان یا آرتاکان بولی چې د آریه خلکو د شاهی ښار په معنی دی . په هر حال په دې کې شک نه شته چې دا ښار د مقدونیانو په زمانه کې د هند د نیولو یوه دروازه وه چې لوی سکندر ور باندی تیر شوې دی . ده په ۷۲۳ ق م کې د هرات ښار ونیوه . پس له دغه وخت نه د چنگیز تر وخته پوری چې دغه ښار یې وران ویجاړ کړ .

د هرات ښار د دوو غرونو تر منځ د یوې سمسوری او آبادې ناوې په منځ کې پروت دی . دغه ناوه ډېر کلی د انگورو باغونه ، ښکلی بڼونه او د کروندې ځمکې لری . د ناوې په هره برخه کې د اوبه خور دپاره ویالی او لښتی ویستل شوی دی او هر پلو ته یې په زړه پوری منظری پیدا کړی دی . د هرات جلگه یوه لویه ودانه او سمسوره ناوه ده چې په عمومی ډول د هغو ویالو په واسطه چې له هریرود نه ویستل شوی دی .

د هرات ښار د کابل له ښار نه گرم او تود دی ، باران ډېر کېږي ، خو واوره پکې لږه اوري . د دوبی په موسم کې د شمال له خوا نه سخت بادونه او سېلۍ اوځي او بې له ځنډه شپه او ورځ چلېږي . خو تر نیمې شپې وروسته پکې لږغوندی کم والی پېښېږي . دغه بادونه دومره تیز او قوی وی چې بادی ژرندې پری گرځېدای شی . په هرات کې دغه باد ۱۲۰ ورځې یعنی پوره څلور میاشتې الوځي . دغه وجه ده چې د هرات په کوټو کې د باد چلېدو لوری ته کړکۍ جوړېږی چې باد په کوټو کې د ننه وچلیږي او خونې لږ غوندی سوړوالی پیدا کړی . که چیری دغه موسمی باد نه وای ، نو د هرات هوا به ډېره گرمه او توده وای .

د هرات په ښار کې د ننه یو لوی مزدک موجود دی چې د شریف په مسجد یادېږي . دا مسجد په اصل کې

غياث الدين جوړ کړی و .دی د غوريانو له کورنۍ څخه و او د علاوالدين غوری وراره ؤ . غياث الدين غوری په ۱۱۷۳ م کې غزنی د غزنويانو له منګلو خلاص کړ او دوه کاله پس يې هرات هم د لاس لاندی راووست . ده د خپل مرګ تر وخته پوری د خپلو پلرونو په پراخه ځمکه باندی حکومت چلاوه او ډېر ملکونه يې د لاس لاندی وو .

د ښار خلک زيات دکانداران او يا مامورين دی . نور يې سوداګر او کسب ګر دی . مګر د کليو او شاوخوا ځايو خلک د بزګرۍ ، باغوانۍ او مالونو ساتلو په چارو بوخت وي . د هرات خلک د معماری او دوانی په چارو کې ډېر غښتلی دی . د وريښمو د چينجو پالنه او روزنه هم پکې ډېره ده . د هرات غوره صنعتی پيداوار چې ډېر تجارتی اهميت لري دغه شيان دی : کرک ،قالين ، پټوان ، خامتا او نور .

单词 لغتونه

子午线	〈阿〉[阳]	/ tul-al-ba'lad /	طول البلد
【地】纬度	〈阿〉[阳]	/ arz-al-ba'lad /	عرض البلد
突然袭击，突然侵入，侵犯	[阳]	/ ch'pa:u /	چپاو
灾难，灾祸；抢劫，洗劫	[阳]	/ ta:'ra:k /	تاړاک
商队（结队旅行于沙漠之商）	〈波〉[阳]	/ kar'wa:n /	کاروان
大流士	[阳]	/ da: 'riush /	داريوش
排水管	〈波〉[阳]	/ na:'wa /	ناوه
平原	[阴]	/ jəl'ga /	جلګه
非常小的，微小的	[形]	/ ləg'ghondei /	لږغوندی
清真寺	[阳]	/ muz'dak /	مزدک
侄，侄子	[阳]	/ wra:'rə /	وراره
爪，脚掌；爪子	[阴]	/ man'gula /	منګله

建筑学，建筑术；建筑师职业；建筑术的，建筑的	［阴、形］	/ mi’ma:’ri: /	معماری
细绒羊毛，绵毛；细羊毛织物	［阳］	/ kurk /	کرک
毛毯；小地毯	〈土〉［阳］	/ qa:’li:n /	قالین
毛披肩，毛披巾	［阳］	/ pa’tu /	پتو
原棉布；帆布，帐篷布	［阴］	/ kha:m’ta: /	خامتا

注释 تشریخ

1 داریوش大流士一世，阿契美尼德王朝的皇帝，曾是帕提亚（横跨今伊朗和阿富汗的边境地区）的总督，在一次流血政变中夺得帝国的皇冠，并为帝国开疆拓土。

2 سکندر مقدونی马其顿国的亚历山大，也被称为亚历山大大帝。公元前300年，亚历山大为完成他对全部波斯世界的征服而进入阿富汗，但事实证明当地的部落和总督比他以往的对手更为狡猾，其反抗更为强烈。亚历山大一生的最后7年有4年是在阿富汗度过，并在那里修建了几座城池，如赫拉特的亚历山大·阿里安那城。亚历山大还迎娶了巴克特利亚的公主罗克萨娜。阿富汗民间流传着许多关于亚历山大的故事。

3 چنگیز成吉思汗，蒙古人首领。当一支蒙古军队以不败的战绩席卷伊朗北部，并通过高加索地区进入乌克兰大草原的时候，在阿富汗，在喀布尔以北，成吉思汗的将军们在花拉子模—阿富汗人部落联军的面前遭遇了他们的第一次战败。作为报复，成吉思汗把巴米扬河谷的全部人畜消灭殆尽，以使这里永远荒无人烟。尽管有了这些惨痛的教训，但当成吉思汗挺进印度时，阿富汗城镇还是纷纷叛乱，成吉思汗从印度河流域撤军返回，并迅速消灭了赫拉特和巴尔赫的居民，并在赫拉特前后屠城七日。

4 غياث الدين 吉亚斯·乌丁，古里王朝皇帝。古里是阿富汗北部中心地带山区的一个古老的王国，在伽色尼王朝时期，该地区臣服并皈依了伊斯兰教。12世纪，他们在突厥穆斯林酋长的带领下从山区迁徙出来，并第一次以赫拉特为都城，在其统治期间留下了一些具有纪念价值的实物遗存，如赫拉特的星期五清真寺。

练习 تمرين

一、回答问题。

١- له كابل نه تر هرات پورى كومه لاره لنډه ده ؟

٢- آرتا كوانا څه معنى ده ؟

٣- لوى سكندر كله د هرات ښار ونيوه ؟

۴- د هرات هواه څنګه ده ؟

۵- د هرات غوره صنعتى پيداوار كوم كوم دي ؟

二、填空题。

١- هرات د افغانستان په ________________ برخه كې پروت دى .

٢- په هر حال په دې كې شک نه شته چې دا ښار د مقدونيانو په زمانه كې د هند د نيولو يوه ________ وه چې لوى سكندر ور باندى تير شوې دى .

٣- په هرات كې دغه باد ١٢٠ ورځې يعنى پوره ____________ مياشتې الوځي .

۴- كه چيرى دغه موسمى باد نه واى ، نو د هرات هوا به ډېره ______________ او ____________ واى .

۵- د هرات جلګه يوه لويه ودانه او سمسوره ناوه ده چې په عمومى ډول د هغو ويالو په واسطه چې له ________________ نه ويستل شوى دى .

三、连线题。

غوریان	سکندر
مغولیان	داریوش
هخامنشیان	چنگیز
یونانیان	غیاث الدین ابولفتح

四、翻译句子。

۱- که څه هم د یرغلګرو د چپاوونو او تاړاکونو په وجه څو ځله وران ویجاړ شوی دی ، خو بیا یې زیانونه او تاوانونه پوره کړی دی او خپل نوم او نښان یې ساتلی دی .

۲- د سمندری لارو د څرګندېدو نه وړاندی د چینی ښارونو او هند تر منځ د کاروانونو د تګ راتګ یوازینی لار په همدې ځای تیریدله .

۳- د ناوې په هره برخه کې د اوبه خور د پاره ویالی او لښتی ویستل شوی دی او هر پلو ته یی په زړه پوری منظری پیدا کړی دی .

۴- دغه وجه ده چې د هرات په کوټو کې د باد چلېدو لوری ته کړکۍ جوړیږی چې باد په کوټو کې د ننه وچلیږي او خونې لږ غوندی سوړوالی پیدا کړی .

۵- ده د خپل مرګ تر وخته پوری د خپلو پلرونو په پراخه ځمکه باندی حکومت چلاوه او ډېر ملکونه یې د لاس لاندی وو .

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

د پېښور سیل

د ابدال او فاطمې ‌چټیانې وې. یوه ورځ دواړه سوچ وړلی و چه چېرته سیل ته لاړشی. خو د مور او پلار رضا په کار وه. مازدیگر په چایو ابدال وویل. "ماما مو تل وایي چه پېښور ته راشئ. ځئ چه ورشو کنه، سیل به هم وکړو."

مور یي ور سره ومنله."بس ټیک ده". پلار یي وویل"ابداله، ماما ته دې ټېلیفون وکړه چه مونږ سبا له درځو."

په سبا دوی پېښور ته ورسېدل. د شپې تر ناوخته یي خبرې کولې. سهار د چایو نه پس ټول د ماما په گاډی کښی سیل ته ووتل.د ماما کور په ورسک روډ و. د هغه ځای نه خېبر روډ ته راووتل او ښار ته روان شول.

د لږ مزل نه پس یي ماما وویل: بچو! گورئ دې ښی طرف ته لوی عمارت اسمبلی هال دی. دلته د صوبایي حکومت غونډې کېږي، او دې گس طرف نه ربړیو پاکستان پېښور دی. چه لږ وړاندی لاړل، د رېل گاډی د پول لاندی ووتل. دې ته سوری پول هم وایي، بیا یي گاډی په ښی طرف تاو شو. دلته دوی په سویکارنو چوک کابلی ته ورسېدل. ماما وویل چه اوس مونږ زوړ ښار ته داخلېږو. یو وخت کښی د ښار نه چاپېره یو لوړ دېوال و، پکښی شپاړس غټې غټې دروازې وې، شپه به دا دروازې بندې کړی شوې چه د غلو نه په امن وی. ځینو ځینو ځایونو کښی لا اوس هم د دې دېوال نخښې پاتې دی.

د کابلی دروازې نه چه مخکښی لاړل، دوی قصه خوانې ته داخل شول. دلته ډېره گڼه گوڼه وه. د وچو مېوو، فالودو، پنساریانو او یخدانونودوکانونه وو. ماما وویل، دې ته قصه خوانی ځکه وایي چه پخوا به د لرې لرې ملکونو نه خلک تجارت دپاره پېښور ته راتلل. د شپې به دلته راټولېدل، قهوې به یي څښلې او یو بل ته به یي د خپلو ملکونو قصې کولې. د قصه خوانی نه چه وړاندی لاړل، د مسگرانو بازار ته ورسېدل. ماما یي وویل چه مس" تانبې" یا" زیړو" ته وایي او مس گران هغه خلک دی چه دې نه لوښی جوړوی. گاډی یي

ودراوه.

ماشومانو په دوکانونو کښې خلک ولیدل چه په لوښو یې نقشونه جوړول. یو دوکاندار ورته وویل چه د پېښور لوښې د ښکلا په وجه په ټوله دنیا کښې مشهور دی.

په بازار کښې په ګرځېدو ګرځېدو دوی یو لوی چوک ته ورسېدل. دلته یې یو ګنبت ولیده. "دا کوم ځای دی؟" وړو پښتنه وکړه."دا د پېښور مشهور چوک یادګار دی"، ماما و ویل. د انګریز نه د ازادۍ حاصلولو او د پاکستان جوړولو دپاره به دلته جلسې کېدې. ځکه ور ته"چوک یادګار" وایي. "راځئ چه د مهابت خان جومات ته ورشو" ماما وویل. د ګاډی نه کوز شول او په اندر شهر کښې د مهابت خان جومات ته ورسېدل، دا یو ښکلی لوی جومات دی. درې ګنبتونه او دوه یې لوړې منارې دی. د جومات په منځ کښې یو لوی تالاو دی. ماما وویل، دا جومات د مغلو بادشاه شاه جهان په زمانه کښې د پېښور ګورنر مهابت خان جوړ کړی و.

چه جومات نه ووتل، پلار وویل "یره زما خو په خېټه کښې منږکان زغلی باقی سیل به سبا وکړ."

ماما وویل د دې ځای نه به مونږ جی ټی روډ ته ووځو او واپس به کور ته ځو. په لاره یې ښی لاس ته یو لوی عمارت ولیده. دېوالونه یې ډېر اوچت وو. ځای په ځای پرې مورچې جوړې وې. پاس پرې توپې لګېدلې وې. واړه یې په تماشه کښې ډوب وو چه د ماما اواز راوینښ کړل."دا د پېښور مشهوره قلا ده او د مغلو بابر بادشاه جوړ کړې ده. دې ته د بالا حصار قلا وایي."

د دې نه پس دوی د صدر خوا ته روان شول. ماما وویل،"نن به سیل د عجائب ګر نه شروع کوو". عجائب ګر ته ورننوتل. دلته لوی لوی هالونه وو. چه پکښې د پخوا زمانې د خلکو جامې او وسلې پراته وو. په الماریو کښې بوتان، لوښې او اوزار ایښودلی شوی وو. خوا کښې یې یوه لویه لائبرېری وه. د عجائب ګر ډائرېکټر وویل چه د دې څېزونو نه مونږ ته د پخوانو خلکو د ژوند ژواک پته لګي.

د عجائب ګر نه چه ووتل. بهر یې یو لوی عمارت ولیده چه په دروازه یې وردی اچولی څوکېدار ولاړ و.

ماما وویل، دا ګورنر هاوس دی. د دې نه پس یې ایډورډز کالج ولیده. دا د پېښور زړومبنی کالج دی.

په لاره کښې ماما وویل: تاسو د تعلیم ښار کتل غواړئ؟ ماشومان حیران شول چه د تعلیم ښار څه ته وایي. بیا ماما پخپله ځواب ورکړ چه ځکه دلته ښی لاس ته ډېر شکولونه، کالجونه او یونیورستۍ دی او په یونیورستی ټاون مشهور دی. ځئ چه دننه ورشو، یونیورستۍ او اسلامیه کالج کښې چکر ووهو. د یونیورستۍ علاقه ډېره صفا او شنه وه. هلکان او جینکۍ پکښې کتابونه په لاس تلل راتلل. د اسلامیه کالج عمارت ډېر ښکلی وو. دلته د لوبو لوی میدانونه وو. د ونو په منځ کښې یو ښکلی جومات و. ماما وویل چه دا کالج تقریباً سل کاله پخوا صاحبزاده عبدالقیوم خان جوړ کړی دی.

په اخر کښې باغ ناران ته لاړل. دا د حیات اباد ډېر ښکلی باغ دی. یو وړوکی غونډې چړیاګر هم پکښې شته. ماشومانو ځناور او مارغان وکتل. په باغ کښې ښه وګرځېدل راوګرځېدل او ماښام کور ته خوشحاله خوشحاله روان شول.

单词 لغتونه

(山)坡，斜坡	[阳]	/wər'sək/	ورسک
区间，一段路程；一段(距离)	〈阿〉[阳]	/ma'zal/	مزل
建筑物；房屋	〈阿〉[阳]	/ʻima:'rat/	عمارت
左的，左面的，左边的，左侧的	[形]	/gəs/	ګس
(汽车或道路)拐弯	[不及]	/ta:we'dəl/	تاوېدل

铜，铜钱	〈波〉[阳]	/mis/	مس
铜	[阴]	/'ta:nba/	تانبه
市场	〈波〉[阳]	/chauk/	چوک
会议，集会，大会	〈阿〉[阴]	/jal'sa/	جلسه
穹窿状建筑	[阳]	/gun'bat/	ګنبت
宣礼塔	〈阿〉[阴]	/man:'ra/	مناره
水池；池塘	[阳]	/ta:'la:u/	تالاو
壕，堑壕；土沟；深沟；阵地	[阴]	/mor'cha/	مورچه
工具，器具；兵器；农具	[阳]	/au'za:r/	اوزار
生活，生存	[阳]	/zhwa:k/	ژواک

练习 تمرين

单项选择题。

۱- ابدال او فاطمه د څه دپاره پېښور ته ولاړل؟

الف) چتياني　　ب) سيل　　ج) د خپل ماما پوښتنه　　د) پته نشته

۲- پېښور د کوم هيواد يو ښار دی؟

الف) افغانستان　　ب) ايران　　ج) هندوستان　　د) پاکستان

۳- د پېښور د زوړ ښار نه چاپېره په يو لوړ دېوال کښې څومره غټې دروازې وې؟

الف) ۲۲　　ب) ۲۲　　ج) ۲۱　　د) ۴۲

۴- په لاندنی څرګندونې کښې کومه درسته وه؟

الف) ابدال او فاطمه ټول په پښو سيل ته ووتل.

ب) ابدال او فاطمه د پېښور په زوړ ښار کښې نه ننوتل.

ج) اورګاډی له پېښور څخه تېر شو.

د) ابدال او فاطمه په موټر پېښور ته ولاړل.

۵- ابدال او فاطمه په پېښور کښې څومره ورځ واوسېدل؟

الف) ۱ ب) ۲ ج) ۳ د) ۴

۶- چا د بالاحصار قلا جوړ کړې ده؟

الف) صوبايي ب) ګورنر مهابت خان ج) بادشاه شاه جهان د) بابر بادشاه

۷- په لاندنی څرګندونې کښې کومه غلطه وه؟

الف) د پېښور لوښي په ټوله دنيا کښې مشهور دی.

ب) د مهابت خان جومات یو ښکلی لوی جومات دی.

ج) د بالا حصار د قلا دېوالونه ډېر اوچت وو.

د) دوی د تعليم ښار کښې يوازی اسلاميه کالج کښې چکر وکړ.

۸-د کوم ځای په دروازه وردی اچولی څوکېدار ولاړ و؟

الف) د تعليم ښار ب) چړياګر

ج) اسلاميه کالج د) ګورنر هاوس

۹- د تعليم ښار لا څه ته وايي؟

الف) ځکه چه ډېر شکولونه، کالجونه او يونيورستۍ په دې ښارکښې دی

ب) ځکه چه په يونيورستی ټاون مشهور دی

ج) ځکه چه هلته ډېره تعليمګاه شته

د) ځکه چه هلته تعليم ورکړ شو.

۱۰-د چړياګر مطلب څه دی؟

الف) د ځناورو باغ ب) د نباتاتو باغ

ج) پارک د) ځنګل باغ

第九课

نهم لوست

لومړی برخه

په غارونو کې لټول

محب الله آرمل



د یوه لوی غره نری، څنډه د دوه شنو کروندو په منځ کې بې خونده غزېدلې، د همدې کوچنی غونډۍ پر شاو خوا د ډېرو پخوانیو زمانو آثار پاتې دي، مونږ ورته کافر کلې وایو . برجونو ته ورته معلومیږي، خو منځونه یې ډک دي . نه پوهېږم چې هغه وخت به یې د کومې موخې لپاره رغولې وي ؛که د ژوند کولو لپاره وای ، نو باید چې کوټو ته ورته جوړښت یې درلودی یا لږ تر لږه منځونه خو یې خالي وای . د سیمې وګړي یې تر درېیو څلور پېړیو پورې بولي او وایې چې کافرانو جوړې کړې، ددې کافر کلو شمېر به تر پنځوسو پورې وي ،په همدې غونډۍ کې د کافرکلو تر څنګ شپږ اوه لوی لوی غارونه هم شته ، ویل کېدل به چې په دې غارونو کې سره او سپین موجود دي . هر چا خواري ورباندې وکړه ، خو تر اوسه یې څوک په موندلو ندي توانېدلي، مونږ چې یو وخت واړه وو ، نو دا سوچ مو وکړ چې په دې غارونو کې سره او سپین ولټوو ، که یې ومومو ، نو هغه دې مزې څومره چې مونږ واړه وو ، دومره

مو سوچونه او فکرونه کمزوري او لنډ وو.

يوه ورځ مو وپتيله چې ورشو. يو ګروپ مو په موټر سايکل پورې بند کړ. په غار کې ور ننوتو. تر يوه ځايه پورې ښه وو، خو وروسته تنګ شو. په خېپړو مخکې روان وو. کوم شل متره به ننوتلي وو، نور مو په خپوړو نشواى کولاى چې وړاندې لاړشو. په سينه ور وښويدو، غار دومره تنګ وو چې تندي او ډډې مو پرې ګربدلې او خوږېدلې. خو له خپل هوډه نه اوښتو. پوره څلورتنه وو، دوه چې لږ هوښيار وو، ويل يې داکار ګټه نلري، راځۍ چې بهر وو ځو او هغه دوه نور ويل چې اوس دومره راغلي يو، نو بايد چې لږ نور هم لاړشو، نور هم په ښويدلو او ځان کشکولو مخکې لاړو. تنګ ځاى خلاص شو. غار دومره پراخ او لوى شو چې په ولاړو پکې روان وو، لږ پيچومى يې هم درلود. يو ځاى مو وليدل چې بند دى، د ډبرو باره پکې جوړه شوې وه چې ګويا څوک وړاندې ورنشي. يوه شروع وکړه، څلور پنځه تيږې راويستې، دوى بې احتياتي وکړه او باره يې وشړوله. پوله سنګې ډبرې په غار ښکته خواته ورغړېدې. په دوړو او ګردونو کې يو بل رانه ورک شول. د دوړو د وتلو لاره نه وه. ټول چوپ ولاړ وو. کله چې پدې پوه شوو، د غار تنګ ځاى ډبرو بند کړ. نو زړونه مو خوږين شول. ښايې ټولو ژړل. خو ديد مو له لاسه ورکړى وو. د راوتو هڅه مو وکړه، څو ځايه مو تندي د غار په څنډو ولګېدل. په درد خبر هم نه وو. د ځان ژغورول حس مو ژوندى شو، ژوند ښکلى او خوږ راته په مخ کې ودرېد.

په پټو سترګو ښکته وخوځېدو، لاسونه مو وتپول. يوه يوه ډبره مو په پوره پام د غاره له بند ځاى را اخيسته، نږدې وو خلاص شي، خو له وسه مو ووته. دوړو بې سيکه غوندې کړو، ښايي اکسجن هم نه وو. موږ وډار شوو، ټولو په خپله کم عقلۍ اعتراف وکړ، خو بيا هم کرار لاس تر زنې کېناستو. په ډېره خوارۍ مو ډبرې له مخې لرې کولې او شا ته مو اېښودې. په ځانو مو تکيه کولې، د يوه تن وظيفه خو يوازې دا وه چې ګروپ بل وساتي. خو دوړې دومره زياتې وې، لکه څوک چې د سېلاب په اوبو کې سترګې وغړوي او سترګې يې دومره وسوځي چې نور يې پټې ونيسي، موږ هم سترګې پټې نيولې وې. ناڅاپه کوم يوه وويل غار خلاص شو، خو ژر يې غږ تت شو، څو شېبې وروسته يې چيغه کړه: راووځئ! زه له تنګ ځاى راووتم، تاسې هم په سينه ښکته خواته را وښويږئ. لږ ډاډه شوو، پر مخې څملاستو او ښکته خواته مو ځانونه وښويول. لږ رڼا مو وليده، ژوند ته مو تمه پيدا شوه. څو شېبو وروسته له غاره ژوندي را ووتو. هک پک

وو یو بل ته مو وکتل ، د چا کالی خېرې وو ، د چا تندی خوږ ، د چا پوزې ګربدلې وې ... نور ته وواېه چې څومره به وحشتناک او سپېره وو .

单词 لغتونه

异教徒，邪教徒；不信主的，无信仰的	〈阿〉[阳]	/ ka:'fir /	کافر
缝上，钉上；治疗；修理，修补；修改，改正	[及]	/ ragha'wəl /	رغول
决定，打定注意，下决心	[及]	/ pate'yəl /	پتېيل
爬行，匍匐	[阴复]	/ kha:'pori /	خاپوړي
搔痒；不住地搔起痒来	[不及]	/ gəre'dəl /	ګرېدل
分置，拆毁；分开，划分，撕碎，弄破	[及]	/ shara'wəl /	شړول
发酥的；脆弱的	[形]	/ khwrin , khu'ri:n /	خوړین
害怕，恐惧，畏缩	[不及]	/ dare'dəl /	ډارېدل
理智的，智力的；合理的，合乎逻辑的；心理上的，精神的	〈阿〉[形]	/ 'aq'li:/	عقلی
靠，倚，依赖；支撑；支架，支柱	〈阿〉[阳]	/ taki'ya /	تکیه
震惊的，惊倒的，大吃一惊的	[形]	/ hak-'pak /	هک پک
（纸）条，（布）条；碎片	[阴]	/ 'tsi:ra /	څیره
可怕的，令人畏惧的，恐怖的，骇人听闻的	[形]	/ wahshat'na:k /	وحشتناک
弄脏的，弄污的，染污的，混浊的，不清的	[形]	/ spe'ra /	سپېره

注释 تشریح

1 د همدې کوچنۍ غونډۍ پر شاو خوا د ډېرو پخوانیو زمانو آثار پاتې دي، موږ ورته کافر کلې

وايو. 卡菲里斯坦位于喀布尔东北部，地势险要，交通不便，几世纪以来一直保持独立状态。当地居民不信仰伊斯兰教，因此被穆斯林称作卡菲尔，意为异教徒。1895年冬，拉赫曼派出三支军队同时攻入卡菲里斯坦，40天内平定了这一地区。当地许多居民被安置到拉格曼省，卡菲尔人被迫皈依伊斯兰教，他们的故乡被改名为努里斯坦，意为“光明之地”。这是拉赫曼统一阿富汗的最后一个地点。

1 ټولو په خپله کم عقلۍ اعتراف وکړ، خو بیا هم کرار لاس تر زنې کېناستو. 所有人都为自己的不理智而忏悔，垂头丧气地安静下来。لاس تر زنې کېناستل 垂头丧气，灰心丧气。

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- ویل کېدل چې په دې غارونو کې څه شی شته؟

۲- په ټول څو کسان په دې لټونه کې ګډون وکړ؟

۳- په غار کې یې څه ولیدل؟

۴- دوی څنګه باره وشړوله؟

۵- کله چې د غار تنګ ځای ډبرو بند کړ، دوی څه وکړل؟

۶- د دې ګروپ د یوه تن وظیفه یوازې څه وه؟

二、填空题。

۱- نه پوهېږم چې هغه وخت به یې د کومې موخې لپاره ________؛ که د ژوند کولو لپاره ________، نو باید چې کوټو ته ورته جوړښت یې درلودی یا لږ تر لږه منځونه خو یې خالي ________.

۲- هر چا خواري وربانديې وکړه، خو تر اوسه یې څوک په موندلو ________.

۳- په سیند ور ________، غار دومره تنګ وو چې تندي او ډډې مو پرې ________ او ________.

۴- هغه دوه نور ویل چې اوس دومره ________ ، نو باید چې لږ نور هم ________ ، نور هم په او ځان ________ مخکې لاړو .

۵- په پټو سترګو ښکته ________ ، لاسونه مو ________ . یوه یوه ډبره مو په پوره پام د غاره له بند ځای را اخیسته، نږدې وو خلاص ________ ، خو له وسه مو ________ .

三、用下列动词造句。

۱- پټېيل

۲- رغول

۳- شړول

۴- ګرېدل

۵- ډارېدل

四、翻译句子。

۱- د یوه لوی غره نرۍ څنډه د دوه شنو کروندو په منځ کې بې خونده غزېدلې، د همدې کوچنۍ غونډۍ پر شاو خوا د ډېرو پخوانیو زمانو آثار پاتې دي، موږ ورته کافر کلې وایو .

۲- موږ چې یو وخت واړه وو ، نو دا سوچ مو وکړ چې په دې غارونو کې سره او سپین ولټوو ، که یې ومومو ، نو هغه دې مزې څومره چې موږ واړه وو ، دومره مو سوچونه او فکرونه کمزوري او لنډ وو.

۳- په غار کې ور ننوتو . تر یوه ځایه پورې ښه وو ، خو وروسته تنګ شو . په خېړو مخکې روان وو . کوم شل متره به ننوتلي وو ، نور مو په خېړو نشوای کولای چې وړاندې لاړشو .

۴- خو دوړې دومره زیاتې وې ، لکه څوک چې د سېلاب په اوبو کې سترګې وغړوي او سترګې یې دومره وسوځي چې نور یې پټې ونیسي ، موږ هم سترګې پټې نېولې وې .

۵- څو شېبو وروسته له غاره ژوندي را ووتو . هک پک وو یو بل ته مو وکتل ، د چا کالی څېرې وو ، د چا تندی خوږ ، د چا پوزې ګرېدلې وې ... نور ته ووایه چې څومره به وحشتناک او سپېره وو.

五、请用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

زه هره ورځ د یوه ګرځندوی په شان یم

محمد اسلم په افغانستان کې یو له خورا تجربه لرونکې پیلوټانو له ډلې څخه دی.

نوموړی د وردک په ولایت کې چې تقریباً ۵۰ میله له کابل څخه جنوب طرف ته واټن لري ، زیږېدلی دی. خو په اته کلنۍ کې د خپلو کورنیو سره کابل ته راغلی و. هغه اوس ۱۴ کاله عمر لري او څلور ماشومان لري: دوې لوڼې ۳۱کلن او ۰۱ کلن دي ، او دوه زامن ۸ کلن او ۵ کلن دی.

اسلم لومړنی ښوونځی ته داخل شو او وروسته له نظامی لیسی څخه فارغ شو. هغه د هوایی ځواکونو د هوانوردی په پوهنتون کې شامل شو او د میګ ۱۲ د یو جنګی پیلوټ په توګه د ۷ کلونو لپاره دنده سر ته ورسوله. هغه وایی چې د نیکه مرغه زه په طیارو کې هیڅکله له کوم جنګې عمل سره مخامخ شوی نه یم.

هغه په پښتو (مورنی ژبه) دری، اردو او انګلیسی ژبو باندی په روانه توګه خبرې کوی.

اسلم وایی: کله چې زه د هوانوردی پوهنتون ته لاړم ، ټول طیارې او د هغه د لارښونې کتابچې په روسی ژبه وو. په هغه وخت کې ګڼ شمېر روسی مشاور موجود وو ، نو د دې لپاره چې ته په هوایی ځواکونو کې پاتې شی پکار وه چې په روسی ژبه پوه شی. هغه مجبور وو چې انګلیسی ژبه هم زده کړی ،ځکه چې دا د هوانوردی نړیواله ژبه ده.

د مجاهدینو د حکومت په دوره کې د هوایی ځواکونو ټول طیارې ویجاړ شول او د پیلوټانو لپاره کوم

کار پاتې نه شو ، نو په دې اساس مونږ تر دوو کلونو پوری په کور کې بیکار پروت وو.

اسلم وروسته له هغه نه مزار شریف ته لاړ او د دوو کلونو پوری په نیمه نظامی الوتنو کې کار وکړ. هغه د مزارشریف څخه پیښور ته پرواز کاوه ، ځکه چې په هغه وخت کې د ځمکې لاری له مزار څخه تر کابل پوری د جګړو په کبله ممکن نه وو. هغه وایی دا د یو هیواد څخه بل هیواد ته د تګ په شان وو.

پس له هغه چې زه کابل ته بیرته راستون شوم ، نو طالبان راغلل او کابل یې ونیول. نو بیا تر دوو کلونو پوری زه په کور کې بیکاره پاتې شوم. ما د خپل د یو نژدی ملګری په وسیله چې د هوایی ځواکونو سره د کار کولو په زمانه کې راسره یو ځای وو. د آریانا د هوایی شرکت سره می کار وموند. وروسته له دوو کلونو د طالبانو رژیم له مینځه لاړ او نوی حکومت منځ ته راغی او ما د آریانا له هوایی شرکت سره د ۷۲۷ الوتکه په الوزولو خپل کاروبار وساتل.

اسلم پوهېږي چې د یوه طیارې الوزول د ګڼ شمېر مسافرو سره یو لوی مسؤولیت په غاړه اخستل دي. هغه د خپلو مسؤولیتونو په فشار کې په آرامی سره تنظیموي: مونږ باید ډېر جدي شو ، ځکه مونږ په یوه وخت کې ۰۱۱ مسافر انتقال کړو.

مونږ ډېر حفاظتی تدبیرونه لرو چې باید مخکی له الوتنی څخه د الوتنی په دوران او کښیناستلو په وخت کې هغه باندی عمل وکړو. تاسی نشی کولای چې هیڅ یو شی له نظره وغورځوی ، ځکه مسافرین په مونږ باندی ډاډه دی چې هغوی په حفاظت سره منزل ته رسوو.

اسلم وایی چې هغه یوازی یو وار په طیاره کې له مشکل سره مخامخ شوی وو. هغوی له کابل څخه پرواز وکړ او د ماسکو په لور روان وو ، له الوتنې نه وروسته له کابل څخه د لس میلو په واټن یو ماشین له کاره وغورځید. هغوی بیرته راوګرځید او د یو روغ ماشین په واسطه کابل ته ورسید او په حفاظت سره کښیناست.

الوتنه تل د اسلم د ژوند یوه برخه پاتې شوی دی. د هغه پلار پیلوټ وو او تر شلو کلو پوری د پخوانی پاچا ظاهر شاه د طیارې پیلوټ پاتې شوی وو. هغه له ۵۴ څخه لا ډېر کلونو پوری په ډېرو مختلفو ډولو طیارو کې الوتنه تر سره کړی دی. د اسلم ورور هم پیلوټ دی. هغه د کام ایر د ۷۶۷ د طیارې کپتان دي.

اسلم په خپل ټول ژوند کی له طیارو سره کار کړي او په څرګنده توګه د خپل کار سره مینه لري: زه په دې خاطر چې پیلوټ یم ډېر خوښ یم – زه دغه کار سره مینه لرم. کله چې زه له هوایی ځواکونو سره کار کولو ډېر

خوښ وم او هغه ډېر خاص وو. هغه اوس د يو تجراتی هوايی شرکت د يو پيلوټ په توګه هم هغه شان د خوښې احساس کوي.

زه هره ورځ د يوه ګرځندوی په څير يم ؛ زه نوي هيوادونه او نوي ځايونه ګورم. ما د خپل کار په خاطر نژدی نيمه نړۍ ليدلې دي. که زه پيلوټ نه وای نو ما به هيڅ کله دا کار نه شو کولای. هو ، په دی چی زه يو پيلوټ يم ډېر خوښ يم.

单词 لغتونه

飞行员，航空员	〈英〉[阳]	/ pi'lot /	پيلوټ
航空术，航空学	〈波〉[形]	/ hawa:-nawar'di: /	هوانوردی
顾问，咨议；专家，顾问	〈阿〉[阳]	/ musha:'wir /	مشاور
搬，挪，移；运输，运送；输送，传导	[及]	/ intiqa:la'wəl /	انتقالول
循环，回转，回旋，转	〈阿〉[阳]	/ daw'ra:n /	دوران
站，休息地；车站，停留处，停车场	〈阿〉[阳]	/ man'zil /	منزل
长官	〈英〉[阳]	/ cap'ta:n /	کپتان

练习 تمرين

单项选择题。

۱- وردک ولايت چيرته پروت دی ؟

(ا) تقريبإ ۵۰ ميله له کابل څخه جنوب خوا ته ليری دی .

(ب) تقريبإ ۵۰ ميله له پېښور څخه جنوب خوا ته ليری دی .

(ج) تقریبېٔ ۵ میله له کابل څخه شمال خوا ته لیری دی .

(د) تقریبېٔ ۵ میله په پېښور څخه شمال خوا ته لیری دی .

۲- محمد اسلم په څو کلن کابل ته ورغی ؟

(ا) په ۷ کلن د خپلو کورنیو سره کابل ته ورغی .

(ب) په ۷ کلن په خپله کابل ته ورغی .

(ج) په ۸ کلن د خپلو کورنیو سره کابل ته ورغی .

(د) په ۸ کلن په خپله کابل ته ورغی .

۳- په ټول محمد اسلم څو اولادونه لري ؟

(ا) ۲ (ب) ۳ (ج) ۴ (د) ۵

۴- په ټول محمد اسلم څو کاله په کور کې بېکاره پاتی شو ؟

(ا) ۲ (ب) ۳ (ج) ۴ (د) ۵

۵- د محمد اسلم مورنی ژبه کومه ژبه ده ؟

(ا) پښتو (ب) دري (ج) اردو (د) انګلیسی

۶- محمد اسلم د چا په مرسته په اریانا هوایی شرکت کې کار وموند ؟

(ا) د ده پلار دی چې تر شلو کلو پوری د پخوانی پاچا ظاهر شاه د طیارې پیلوټ و .

(ب) د ده ورور دی چې د کام ایر د ۷۲۷ د طیارې کپتان دی .

(ج) یو ملګری دی چې پخوا ورسره یو ځای کار وکړ .

(د) محمد اسلم په خپل قابلیت په اریانا هوایی شرکت کې کار وموند .

۷- محمد اسلم د اریانا په هوایی شرکت کی کوم ډول الوتکه چلوي ؟

(ا) د ۷۲۷ الوتکه (ب) د ۷۶۷ الوتکه

(ج) د ۷۳۷ الوتکه (د) هیلیکوپټر

۸- په لاندنیو جملو کې کومه جمله سمه ده ؟

(ا) اسلم په خپل ژوند کې ډېر ځله له مشکل سره مخامخ شوی وو .

(ب) هغه طیاره چې اسلم له مشکل سره مخامخ شو ، له ماسکو نه تر کابل پورې والتله .

(ج) د الوتنې نه وروسته د کابل نه د لس میلو په واټن یو ماشین له الوتکې نه ځمکې ته ولوېد .

(د) اخر دوی د روغ ماشین د بدلولو دپاره بېرته کابل ته وګرځېدل .

۹ – د اسلم ورور کوم ډول الوتکه چلوي ؟

(ا) د ۷۲۷ الوتکه (ب) د ۷۶۷ الوتکه

(ج) د ۷۳۷ الوتکه (د) هیلېکوپټر

۱۰- په لاندنیو جملو کې کومه جمله سمه ده ؟

(ا) د مجاهدینو د حکومت په دوره کې مزارشریف او کابل په یو هېواد کې نه وو .

(ب) د مجاهدینو د حکومت په دوره کې اسلم په نظامي الوتنو کې کار وکړ .

(ج) د مجاهدینو د حکومت په دوره کې د جګړو له امله ځمکی لارې سخت ویجاړ شوي وو .

(د) کله چې اسلم له مزارشریف نه کابل ته بېرته راستون شو ، سمدستي نوي کار یې ومونډ .

第十课

لسم لوست

لومړی برخه

میرویس او ښوونځی

میرویس اته کلن دی ، دی اوس په دوهم ټولګي کې درس لولي . ده لا دوهم ټولګی پای ته نه ورسولی ، خو یو څه لیکل او حساب یې زده کړي وو . یوه ورځ یې له ځانه سره وویل : "زه نور ښوونځي ته نه ځم ، ځکه ما هر څه زده کړي دي ." ده پرېکړه وکړه چې نور ښوونځي ته لاړ نشي . میرویس خپلې مور ته وویل : "اوس زه نور ښوونځي ته نه ځم ." مور یې وویل : "ولې نه ځې او څه کار کوې ؟"

" تا غونډې کار کوم ." د میرویس مور ډاکتره وه او و یې ویل : "ډېر ښه ، ما غونډې کار کوې ؟ واخله زویه ، دا قلم او دا هم کاغذ . یو څوک چې ډېره سخته تبه لري ، هغه ته یوه نسخه ولیکه ."

میرویس قلم په لاس کی واخست او په فکر کې ډوب پاتې شو چې اوس څه ولیکي ؟ پدې وخت کې یې مور پرې غږ کړل :" زویه ، د دوا نوم د لاتین په تورو ولیکه . دا چی ته څنګه او کومه دوا لیکې ، هغه په تا پورې اړه لري ." میرویس کاغذ ته کتل او هر څومره فکر یې چې وکړ . څه یې و نه شوی لیکلي . په پای کی یې وویل : "مورې ، دا کار مې خوښ نشو ، زه غواړم د پلار په شان کار وکړم ."

کله چې یې پلار له کار څخه راغي ، میرویس ورته وویل :" پلاره ، زه نور ښوونځي ته نه ځم . زه غواړم چې تا غونډې کار وکړم ."" څه ډول کار ؟"" پلاره ، تا غونډې کار ." د میرویس پلار د موټر د ماشین د جوړولو په فابریکه کې کاوه . پلار یې په ډېره مینه ورته وویل : " ډېر ښه زویه ، راځه چې همدا اوس یو ځای په کار پیل وکړو ." پلار یې یو لوی کاغذ راواخست ، د کاغذ پر مخ یې د موټر د ماشین نقشه وایستله او و یې ویل : "

زویه ، د موټر د ماشین نقشې ته ښه ځیر شه او وښیه چې څه شی یې کم دي ؟" میرویس چې نقشې ته وکتل ، و یې لیدل چې ډېرې لیکې یو د بل د پاسه کښل شوي دي ، دی چې هر څومره ورته ځیر شو ، هیڅ پرې پوه نه شو . په پای کی یې وویل : " زه نه پوهیږم ، زه په هېڅ نه پوهېږم ." پلار یې وویل : " زویه ، که غواړې چې کار وکړې ، لومړی د هغه کار په هکله ښه معلومات تر لاسه کړه ، بیا هغه وکړه . ځکه چې هر کار ځانته جلا مهارت غواړي . لکه چې وايي زده کړه بیا کوزده کړه ، ټول خلک پوهه او معلومات د ښوونځي څخه زده کوي . نو کله چې ته ښه لوستونکی او لیکونکی شوې او څه حساب دې هم زده کړ ، بیا کولای شې چې یو کسب یا کار ځان ته وټاکې . اوس ستا د ښوونځي د ویلو او زده کړې وخت دی ، تا ته ښایي چې په خپلو لوستلو کې زیار وکاږې او ښوونځی په ښه توګه پای ته ورسوې ." میرویس له خپل عزم څخه وګرځید او پلار ته یې وویل : " پلاره ، سر له سبا څخه ښوونځي ته ځم او خپل درس لولم ."



یوه بله ورځ میرویس خپل بکس او مشوانۍ له ځان سره واخیست ، له کوره ووت او د ښوونځي لور ته رهي شو . په دې وخت کې یو بل کوچنی پنځه کلن هلک هم په لاره کې ولاړ وه . ناڅاپه یې په زړه کې څه وګرځېدل او په ځغاسته یې پیل وکړ . څو ګامه لا نه وتللی چې پښه یې له ډبرې سره ونښته . دی په ځمکه ولوېد او په ژړا شو . میرویس د خوارکي هلک لوېدل او ژړا ولیده . زړه یې پرې وسو . خپل بکس یې کېښود . هلک یې د ځمکې څخه را پورته کړ ، کالي یې په کرارۍ سره ورو څنډل .

څرنګه چې دغه هلک په زوره لوېدلی و . لاسونو یې ډېر درد او سوی کاوه . نو د درد له کبله یې ژړل . میرویس له لاسو ونیو او په کراره یې ورته وویل : " خیر دی ، ورور جانه مه ژاړه ، اوښکې یې ورپاکې کړې ." کوچنی هلک په رښتیا د میرویس د دې مهربانۍ او زړه سوي په مقابل کې خپل درد هېر کړ . ده دوه درې ځله سلګۍ ووهلې . خپلې سترګې او بارخوګان یې پاک کړل او د ده د زړه سوي څخه خوښ شو . او په خپله لاره روان شو .

ميرويس خپل بکس د ځمکې څخه پورته کړ او د ښوونځي لور ته روان شو . څنګه چې په ميرويس باندې لږ څه ناوخته شوی و ، خپل ګامونه يې چټک کړل او د ښوونځي د لومړي تعليمي زنګ پر وخت د خپلو ټولګيوالو سره يو ځای ټولګي ته ورننوت . څرنګه چې ميرويس ښه او مهربانه هلک دی . پر خپلو ټولو اشنايانو او ټولګيوالو ډير ګران دی . هو ، پر چا چې نور خلک ګران وي او د هغوي سره مهرباني او خوا خوږي وکړي ، هغه هم پر نورو ګران وي او د ضرورت په وخت کې يې پوره ملاتړ کوي .

لغتونه 单词

计算；算术；算盘	〈阿〉［阳］	\hi'sa:b\	حساب
药方，处方	〈波〉［形］	\nus'kha\	نسخه
淹没的，浸没的	［形］	\du:b\	ډوب
拉丁文，拉丁语	［阳］	\la:'ti:n\	لاتين
仔细地看，细心察看；深思，研究；注意，留心	［阳］	\dzi:r\	ځير
技能，技巧；技艺；熟练手法，本领，本事	〈阿〉［阳］	\maha:'rat\	مهارت
结婚，结婚仪式，订婚，订婚礼	［阴］	\kyz'da\	کوژده
决心；顽强；意图，打算；决定	〈阿〉［阳］	\'azm\	عزم
墨水瓶	［阴］	\mashwa: 'nəi\	مشوانۍ
走的，进行的，动身的，出发的	［形］	\ra'hi:\	رهی
跑，奔跑；赛跑	［阳］	\dzgha:st\	ځغاست
宁静，安静，平静，安宁	〈波〉［阳］	\qara:r\	قرار
摇动，摆动，抖动；打落，打掉（如尘土）	［及］	\tsən'dəl\	څنډل
伤心的，不快的	［形］	\'səwai\	سوی

濒死的状态，咽气	[阴]	\sal'gəi\	سلګۍ
脸，面孔；面颊	[阳]	\ba:r'khu\	بارخو
教学的，教务的；有教益的，有教导作用的	〈阿〉[形]	\ta'li'mi:\	تعليمي
有同情心的，同情的；有怜悯心的，怜悯的	[形]	\khwa:'khugai\	خواخوږی
江，河；海，洋	[阳]	\si:n\	سين

注释 تشريح

1 زده کړه بيا کوزده کړه . 是一句谚语，意思是“先学习，后结婚”，与汉语的“先立业，再成家”意思相近。

2 زړه پر ...... سوځېدل 是固定搭配，意为“心疼……，同情……”。

练习 تمرين

一、回答问题。

١ - ميرويس څه ډول کار غوښته ؟

٢ - په ښوونځي کې د زده کوونکو وظيفه څه ده ؟

٣ - کوچنی هلک ولې ولوېد ؟

۴ - ميرويس د کوچني هلک سره څه وکړل ؟

۵ - ميرويس څنګه هلک و ؟

二、填空题。

١ - ده لا دوهم ټولګی پای ته نه ورسولی ، خو يو څه __________ يې زده کړي وو .

٢ - ميرويس قلم په لاس کی واخست او په فکر کې __________ چې اوس څه وليکي ؟ پدې وخت

کې يې مور پرې غږ کړل .

۳- پلار يې يو لوی کاغذ راواخست ، د کاغذ پر مخ يې د موټر د ماشين نقشه ________ او و يې

ويل : " زويه ، د موټر د ماشين نقشې ته ښه ________ او وښيه چې څه شی يې کم دي ؟"

۴- ميرويس له خپل عزم څخه وګرځيد او پلار ته يې وويل : " پلاره ، ________ ښوونځي ته ځم او

خپل درس لولم ."

۵- څنګه چې په ميرويس باندې لږ څه ________شوی و ، خپل ګامونه يې چټک کړل او د ښوونځي

د لومړي ________ پر وخت د خپلو ټولګيوالو سره يو ځای ټولګي ته ورننوت .

三、根据课文判断对错。

۱- ميرويس اته کلن دی ، دی اوس په دوهم ټولګي کې درس لولي . ده دوهم ټولګی پای ته ورسولی .

۲-د ميرويس مور او پلار خوشحال وو چې زوی يې ټولګي ته بيا ولاړ نه شي .

۳- يوه بله ورځ ميرويس خپل بکس او مشوانۍ له ځان سره واخيست ، له کوره ووت او د ښوونځي لور

ته روان شو .

۴- ناڅاپه ميرويس په زړه کې څه وګرځېدل او په ځغاسته يې پيل وکړ .

۵- خپلې سترګې او بارخوګان يې پاک کړل او د ميرويس د زړه سوي څخه خوښ شو . او په خپله لاره

روان شو .

四、翻译句子。

۱- د ميرويس مور ډاکتره وه او و يې ويل : "ډير ښه ، ما غوندې کار کوې ؟ واخله زويه ، دا قلم او دا هم

کاغذ . يو څوک چې ډېره سخته تبه لري ، هغه ته يوه نسخه وليکه ."

۲- ميرويس چې نقشې ته وکتل ، و يې ليدل چې ډېرې ليکې يو د بل دپاسه کښل شوي دي ، دی چې هر

څومره ورته ځير شو ، هيڅ پرې پوه نه شو .

۳- څرنګه چې دغه هلک په زوره لوېدلی و . لاسونو يې ډېر درد او سوی کاوه . نو د درد له کبله يې ژړل .

۴- کوچنی هلک په رښتيا د ميرويس د دې مهربانۍ او زړه سوي په مقابل کې خپل درد هېر کړ . ده دوه

درې ځله سلګۍ ووهلې . خپلې سترګې او بارخوګان يې پاک کړل او د ده د زړه سوي څخه خوښ شو .

۵- هو ، پر چا چې نور خلک ګران وي او د هغوي سره مهرباني او خوا خوږي وکړي ، هغه هم پر نورو ګران وي او د ضرورت په وخت کې يې پوره ملاتړ کوي .

五、讨论。

متل : ښه وکړه ، سين ته يې واچوه .

دوهمه برخه

ډاکوان نيول

د تورلالی مور او خوېندې واده ته او پلار يې کراچۍ ته تللی وو. د شپې لس بجې شوې، خو ده ته خوب نه ورتله. اخر يې سترګې ورغلې. ګوری چه د نيکه مسکۍ څېره يې مخې ته ودرېده او وايي : زما زړوره تورلاليه بچيه! ته به د خپل نيکه په شان د خپل وطن خدمت کوې! د تورلالی نيکه د پوليس انسپکتر و. ده ته به يې اکثر د خپلو کارنامو خبرې کولې. په دې به يې فخر کاوه چه خپل عمر يې د وطن او وطنيانو د حفاظت دپاره تېر کړی دی. تورلالی هم غوښتل چه د نيکه په شان د خپل وطن خدمت وکړی.

په دې کښې يې سترګې وغړولې. تږی شوی و. باورچي خانې ته لاړ چه اوبه وڅښي. د کړکۍ نه د ده د ملګری کامران کور ښکارېده. په دې سوچ کښې و چه يره کامران د کرکټ څومره ښه لوبغاړی و خو دوه کاله مخکښې د ناروغۍ د ګرځنده کرسی بنديوان کړ. تورلالی چه د کړکۍ نه بهر وکتل، ګوري چه د کامران په کور کښې تکه توره تياره ده. صرف په يوه کمره کښې تته غوندې رڼا ښکاري او بهر يو تور ګاډی ولاړ دی. په ګاډی کښې څوک نشته. تورلالی د کامران په کور کښې مخکښې دغسې ګاډی چرې نه و ليدلی.

د باورچي خانې نه ووت او غلی غوندی په پوړو پاس چت ته وخوت. د دېوال په سورو کښې يې د کامران کور ته کتل. د کامران د کمرې لويه کړکۍ يې ښه ليدله. په کړکۍ سپينې پردې رازوړندلې وې او تته رڼا په کوټه کښې ښکارېده.

تورلالی د دربو پرده پوشو سرو سوري و لیدل. یو سرى چه د خپل ځای نه لږ وخوځېده، تورلالی یې په لاس کښی تمانچه ولیدله. مخامخ په کرسی د ناست بنیادم سوری و، چه دواړه لاسونه یې اوچت کړی و. تورلالی وپېژندل چه دا کامران دی. تورلالی پوه شو چه چل څه دی. په پوړو زر زر راکوز شو. ټېلیفون یې را اوچت کړ خو هغه خراب و. حیران شو چه اوس څه وکړم. هغه غوښتل چه د کامران سره په څه نه څه ډول مدد وکړي. اخر یې یوه چاړه راواخستله او په منډه یې ځان هغه ګاډی ته ورساوه. د ګاډی څلور واړه ټایرونه یې پنچر کړل. بیا یې زر پی سی او ته منډه وکړه. پولیس ته یې ټېلیفون وکړ. د پولیس افسر د تورلالی خبره په غور واورېده او د کامران د کور پته یې ترې ولیکله. تورلالی کور ته راغی او په ډېره بې صبری یې د پولیس د راتلو لاره څارله.

تورلالی د باورچي خانې د کړکی نه د کامران کور ته کتل. لږه شېبه پس د پولیس افسر او سپایان غوندی راورسېدل. د تورلالی ایله ساه صورت په ځای شول. پولیس د کامران د کور نه تاو شو.

ډاکوان د سامان سره د کور نه بهر راووتل او زر زر ګاډی ته وختل. یو ډاکه موټر روان کړ، خو موټر نه شو تللی. په دې کښی پولیس تاو شو. ډاکوان یې قابو کړل. ډاکوانو وسله وغورزوله. څو سپایانو یې تانې ته بوتلل.

پولیس د کامران کوټه ته ورننوتل. ګوري چه کامران او د کور نور خلک یې د لاس او پښو نه تړلی پراته دي او په خوله کښی یې ور ته بوجی ور کړې دی. پولیس دوی پرانستل او بوجې یې ور ته د خولو نه ووېستې. د ټولو زړه په ځای شو او شکر یې ووېست. د خوشحالی نه یې رڼې رڼې اوښکې په سترګو کښی وځلېدې. د کامران پلار خدای ته سر په سجده کېښود.

د کامران پلار د پولیس شکریه ادا کړه. ډی ایس پی هغوی ته وویل چه تورلالی مونږ ته په موقع اطلاع راکړه، د هغې په برکت تاسو د لوی مصیبت نه خلاص شوې. په دې کښی تورلالی راغی. ټولوور ته په مینه مینه وکتل او د هغه مننه یې وکړه. د کامران پلار د تورلالی ذهانت او زړورتیا ومنله. ډی ایس پی تورلالی ته سلوټ وکړ، او خپله ټوپی یې ور ته په سر کړه.

سبا ته په اخبار کښې د تورلالي د ذهانت او زړورتیا خبرې په غټو ټکو کښې چاپ شوې. نیکه یې په دې بې حده خوشحاله شو. هغوی په دې خوشحالۍ کښې یوه مېلمستیا وکړه. هر چا د تورلالي ستاینه کوله. د پولیس ډي ائي جي مېلمنو ته وویل، "دا ډېره د فخر خبره ده چه مونږ د تورلالي په شان یو زړور او په وطن مئین بچی لرو. هغه نه صرف د پاکستان سره بلکه د ټولو پاکستاني ورونو سره سم بې کچه مینه لري. تورلالي د دې مینې یو ژوندی ثبوت دی. زه د پولیس د محکمې د طرفه د دې حاضر دماغۍ په اعتراف کښې تورلالي ته د مدال او نغد انعام ورکولو اعلان کوم. هر پاکستاني په تورلالي سلام وایي." ټول مېلمانه ودرېدل او د لاسونو په پړقولو سره یې تورلالي ته پېرزونې وړاندې کړې.

تورلالي په ډاډا زړه او په درنو قدمونو مخې ته راغی. د پولیس افسر ورته د لاسونو په پړقو کښې تمغه واچوله او په ډېر جوش یې لاس ورکړ. تورلالي د انعام او تمغې سره نیکه ته ورغی او سلوټ یې ور ته وکړ. نیکه ور تر غاړه ووت او په غوږ کښې یې ورته وویل، "تورلالیه دا د بریالي توب وړومبۍ پوړۍ ده. ته به د خپل نیکه نه په زیاتو پوړو خېژې." تورلالي په مینه نیکه ته وکتل.

单词 لغتونه

守卫，保卫；保护	〈阿〉[阳]	/hifa:'zat/	حفاظت
厨房	〈波〉[阳]	/ba:warchi-kha:'na/	باورچي خانه
监狱看守，狱卒；监狱长	[阳]	/bandi'wa:n/	بنديوان
暗淡的，微弱的；深的，暗的	[形]	/tət/	تت
挂，悬，吊起	[及]	/zwaṛənda'wəl/	زوړندول
戴面罩的	〈波〉[形]	/parda-'posh/	پرده پوش
移动；晃动	[不及]	/khwadze'dəl/	خوځېدل
手枪	[阴]	/tama:n'cha/ ,/tuma:n'cha/	تمانچه
轮胎，车胎(尤指外胎)	〈英〉[阳]	/ṭa:ir/	ټاير

武装匪帮，武装匪徒	［阴］	/ḍa:'ka/	ډاکه
被缠上，被绕上	［不及］	/ta:we'dəl/	تاوېدل
接近的	［形］［副］	/qa:bu	قابو
关卡；哨所	［阴］	/ta:'ṇa/	تاڼه
塞口物	［阴］	/bu'ja/	بوجه
平伏，跪倒，礼拜	［阴］	/suj'da/	سجده
情况，情势，局面	〈阿〉［阴］	/mau'qi'/	موقع
帽子	［阴］	/ṭo'pəi/	ټوپۍ
现钱；现金	〈阿〉［阳］	/naghd/	نغد
激动；兴奋	〈波〉［阳］	/josh/	جوش

注释 تشريخ

پي سي او PCO（public call office），公用电话通话所。

ډي ايس پي DSP（Deputy Superintendent of Police），副总警监。

ډي ائي جي DIG（Deputy Inspector General of Police），警务副监察长，巴基斯坦最高警衔是警务监察长（IGP，Inspector General of Police）。

练习 تمرين

单项选择题。

۱- اوس د تولالی نیکه څنکه و؟

(الف)هغه ناروغ و.　　(ب) هغه مړ شو.

ج) هغه ژوندی و.　　　　　د) پته نشته.

۲-د تورلالي نیکه څه کار وکړ؟

الف) هغه یو انسپکټر و.　　　　　ب)هغه یو پولیس و.

ج) هغه یو افسر و.　　　　　د) هغه یو مامور و.

۳- په لاندني څرګندونې کښې کومه غلطه وه؟

الف) پخوا کامران د کرکټ څومره ښه لوبغاړی و

ب). صرف په یوه کمره کښې تته غونديې رڼا ښکاره شوه.

ج)د کامران د کور نه بهر یو ګاډی ولاړ و.

د) په ګاډی کښې څوک نشته.

۴- د کامران په کور کښې څومره ډاکه وه؟

الف) ۵　　　ب) ۲　　　ج) ۳　　　د) ۴

۵- په لاندني څرګندونې کښې کومه درسته وه؟

الف) ټولو ډاکوانو په لاس کښې تمانچه ونیوله.

ب) تورلالي ولاړ و.

ج) د تورلالي ټېليفون خراب و.

د) تورلالي ونه غوښتل چه هغه کامران ته مدد وکړي.

۶- تورلالي څنګه پولیس ته موقع اطلاع ورکړه؟

الف) هغه په کور کښې پولیس ته ټېليفون وکړ.

ب) هغه په عامه ټېليفون خانه کښې پولیس ته ټېليفون وکړ.

ج) هغه کوتوالي ته ولاړ.

د)پته نشته.

۷- په لاندني څرګندونې کښې کومه غلطه وه؟

الف)له دې نه وروسته چه تورلالي پولیس ته موقع اطلاع ورکړه، پولیس افسر او سپایان غوندی

راورسېدل.

ب) د کامران کوټه د بهر نه بنده وه.

ج) کامران او د کور نور خلک يي د لاس او پښو نه تړلي پراته وو.

د) د کامران په خوله کښې بوجی ور کړې شوی نه دی.

۸- چا تورلالی ته سلوټ وکړ؟

الف) د کامران پلار

ب) د تورلالی نیکه

ج) يو پوليس

د) يو سپاهی

۹- تورلالی چا ته سلوټ وکړ؟

الف) د کامران پلار

ب) خپل نیکه

ج) يو پوليس

د) يو سپاهی

۱۰- د پوليسو ډی ائی جی تورلالی ته څه انعام ورکړ؟

الف) مدال او برائت

ب) نشان او نغد

ج) نغد او برائت

د) ورقه او نغد

第十一课

يوولسم لوست

لومړی برخه

انسان دوستی

ول انسانان د پاک خدای (ج) مخلوقات دي. دوی ټول يو شان د خدای (ج) بنده ګان دي او ګرد سره يو پر بل مساوی حقوق لري. په ځانګړي ډول هر انسان د خپل عزت خاوند دی چې نور خلک د هغوی عزت تر پښو لاندی نه کړي او درناوی يي وکړي. همدا وجه ده چې په اسلامی ارشاداتو کی داسی راغلي دي : په انسانانو کی تور په سپين او سپين په تور لوړوالی ، ټيټوالی او تفوق غوښتنې هيڅ حق نه لري. ښه او غوره انسان هغه څوک دی چې پرهيزګاره وی او په پای کی د خپلې ټولنې او د خپلو هېوادوالو او هېواد په ګټه هڅه او هاند وکړي .

څرنګه چې ټول انسانان په يوه ټولنيز چاپيريال کی هستوګنه کوي او په کليو ، بانډو او ښارونو کی ګډ ژوند پر مخ بيايي، نو دوی د ژوندانه په ټولو چارو کی بايد يو له بله سره مرستندوی و اوسي او يو د بل په حال او احوال خبر شي لکه چې وايي : له يوه لاس څخه ټک نه خيژي، په دې مانا (معنی) چې په يوازی توب

سره کارونه او کړه وړه پرمختګ نه کوي او نه سر ته رسېږي. هر څوک په هر کار کې یو بل ته اړتیا لري او د ژوند په ستونزو او کړاوونو کې یو له بل سره خواخوږي ښیي، مثلا که یو څوک ناروغي ولري یا اقتصادي مشکلات ور ته پیدا شي، نو ضرور ده چې په داسې حالاتو او پېښو کې لاس ورکړو او د هغه نیمګړتیاوې ور پوره کړو. په همدې ډول مونږ هم د دوستانو او همسایګانو مرستې ته اړتیا پیدا کوو. دا ټولې مرستې هر سړی د خپلې وسې په اندازه له بل چا سره کوي. مرسته حد او حدود نه لري. کېدای شي یو څوک په فکري، روحي او د ښوونې او روزنې په هکله یو چا ته سمې لارې وښیي او ستونزې یې له منځه یوسي. همدارنګه د ژوندانه نورې نورې اړتیاوې او نیمګړتیاوې ور پوره کړو.

په همدې ډول په ګاونډیتوب کې د خپلې وسې په اندازه یو د بل له احوال څخه باید ځان خبر کړو. په ټولنیز ژوند کې له یو او بل سره په زړه پورې اړیکې ولرو، سمې لارښوونې ور ته وکړو. همدارنګه په ټولنیز ژوند کې د اقتصادي ستونزو حلول او سمې لارښوونې د ډېر ارزښت وړ دي. څرنګه چې مونږ انسانان یو او د انسانیت دنده داده چې د نړۍ له ټولو انسانانو سره ښې اړیکې ولرو او له دوی سره پخپل اجتماعي ژوند کې اقتصادي، سیاسي او فرهنګي روابط هم ټینګ وساتو.

زمونږ په دې جنګ ځپلي هېواد کې له مونږ څخه هر څه اخیستل شوي دي. مونږ په روحي، عصبي تکلیفونو او ډول ډول ناروغیو باندې اخته شوي یو، زمونږ خلک لارښوونې ته اړتیا لري. هغوی ته باید یوه سمه لارښوونه او د زړه ډاډ ورکړای شي، یانې(یعنې) د دوی سره باید خواخوږي او غم شریکي وکړو. مونږ افغانان یو او په اوسنیو شرایطو کې مونږ ته ښایي چې د انسان دوستي او د افغان دوستي روحیه د هر افغان په وینه او رګونو کې پیاوړې کړو تر څو چې دا د ځان ځاني روحیه بیخي له منځه یوسو. هر څوک حق لري چې د خپلې سوکالۍ لپاره کار وکړي، خو پخپله سوکالۍ کې د نورو سوکالي هم له یاده و نه باسو، تر څو چې ټول هېوادوال مو د سوکاله او ارام ژوند خاوندان شي او داسې عمل وکړو چې د هغوی په زخمونو باندې پټۍ کېږدو نه دا چې په زخمونو یې مالګه و دوړوو. خدای پاک دې مونږ او تاسو ټولو ته په نیکو هدایت وکاندي.

اوس انسان د پوهې په ځواک د تکنولوژۍ په مټو له دغې پراخې نړۍ نه یو کوچنی کلی جوړ کړی، په دې کلي کې د دنیا له یوه کونج څخه بل کونج ته د یوې پېښې خبر د سترګو په رپ کې رسېږي او هر هیواد

پکې د یوه کور او د هیواد اتباع او ملت پکې د کورنۍ د غړیو حیثیت لري .

موږ د دغه نړیوال کلي د یوه کور غړي یوو ، د دیني ، ملي او فرهنګي ځانګړنو د خوندي ساتلو لپاره باید خپل هویت وساتلی شو او دغسې یوې لارې ته هغه وخت برابریدلای شو چې نر او ښځه مو د پوهې په ګاڼه سمبال شي او د پوهې په ځواک د تکنولوژۍ په پوړیو سپوږمۍ او ستوریو ته پورته شي . هغه وخت موږ خپل هویت ساتلی شو چې د ژبنیو ، قومي ، جنسي او مذهبي تعصباتو ریښې له بیخې وباسو او ټول افغانان په افغانستان کې د یوه واحد ملت په توګه او په نړیوال کلي کې د یوې کورنۍ د غړیو په توګه ژوند وکړي .

单词 لغتونه

人，生物，有生命的东西，动物（包括人）	〈阿〉[阳]	\makh'lu:q\	مخلوق
相等的，相同的，同样的；平等的；等价的	〈阿〉[形]	\musa:'wi:\	مساوي
原因，理由，口实，借口	〈阿〉[阴]	\'waja\	وجه
教导，指导，指示；训	[阳]	\ir'sha:d\	ارشاد
优越，优势	〈阿〉[阳]	\tafaw'wuq\	تفوق
有节制的，不过分，适度的	〈波〉[形]	\parhez-'ka:r\	پرهېزکار
邻人，邻居	〈波〉[阳]	\hamsa:'ya\	همسایه
神经的；心理的，心理作用的	〈阿〉[形]	\'asa'bi:\	عصبی
国家的居民；国民；同乡；同胞	[阳]	\hewa:d-'wa:l\	هیوادوال
绷带	[阴]	\pa'təi\	پټۍ
倒入，倾入，撒，散布，散	[及]	\dura'wəl\	دوړول
指示，教训，训导，指导	〈阿〉[阳]	\hida:'yat\	هدایت
角，角落	〈波〉[阳]	\ku:nj\	کونج
臣民；公民，国民	[阳复]	\ati'ba:'\	اتباع

本质，实质；个性，特性：民族特性	〈阿〉[阳]	\huwi'yat\	هويت
项链，项圈；装饰物，饰物	[阴]	\ga:'na\	ګاڼه
根，茎，基础	[阴]	\re'ha\	رېښه

注释 تشريخ

1 ټول انسانان د پاک خدای (ج) مخلوقات دي. 此句括号中的字母 ج 是**جل جلاله** 的缩写形式，意为“伟大的”，通常加在 **خدای** “真主”之后，表达对真主的赞美。

2 همدا وجه ده چې په اسلامی ارشاداتو کی داسی راغلي دي. “因此在伊斯兰教训示中有这样一条……”

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- په دنيا کې د انسانانو تر منځ اړيکې بايد څرنګه وي ؟

۲- که يو څوک له مشکلاتو سره مخامخ شي ، نور خلکو ته ښايي چې څه وکړي ؟ ولی ؟

۳- د يوه جنګ ځپلی هيواد د خلکو په حيث افغانان څه شی ته ړتيا لري ؟

۴- انسان دوستی څه شی ده ؟

۵- د خپل هيواد د پياوړتيا دپاره افغانان څه شی ته اړتيا لري ؟

二、填空题。

۱- له يوه لاس څخه ټک نه ________ ، په دې مانا (معنی) چې په يوازی توب سره کارونه او کړه وړه پرمختګ نه کوي او نه سر ته رسېږي.

۲- هر څوک په هر کار کی يو بل ته اړتيا لري او د ژوند په ستونزو او کړاوونو کی يو له بل سره

_________ ښيي .

۳- هغوی ته باید یوه سمه لارښوونه او _________ ور کړلای شي، یانې(یعنی) د دوی سره باید خواخوږي او غم شریکي وکړو.

۴- پخپله سوکالي کی د نورو سوکالی هم _________ ، تر څو چی ټول هېوادوال مو د سوکاله او ارام ژوند خاوندان شي .

۵- په دې کلی کې د دنیا له یوه کونج څخه بل کونج ته د یوې پېښې خبر _________ رسېږي او هر هیواد پکې د یوه کور او د هیواد اتباع او ملت پکې د کورنۍ _________ لري .

三、根据课文判断对错。

۱- هر څوک په هر کار کی یو بل ته اړتیا نه لري .

۲- ټول انسانان د پاک خدای (ج) مخلوقات دي. دوی ټول یو شان د خدای (ج) خدمتګاران دي او ګرد سره یو پر بل مساوی حقوق لري.

۳- دا ټولې مرستې هر سړی د نورو وسې په اندازه له بل چا سره کوي.

۴- هر څوک حق لري چی د خپلې سوکالۍ لپاره کار وکړي، او پخپله سوکالی کی د نورو سوکالی هم له یاده و باسو .

۵- اوس انسان د پوهې په قوه د تکنولوژۍ په مټو له دغې پراخې نړۍ نه یو کوچنی کلی جوړ کړی .

四、翻译句子。

۱- په ځانګړي ډول هر انسان د خپل عزت خاوند دی چی نور خلک د هغوی عزت تر پښو لاندی نه کړي او درناوی یې وکړي.

۲- ښه او غوره انسان هغه څوک دی چی پرهیزګاره وی او په پای کی د خپلې ټولنې او د خپلو هېوادوالو او هېواد په ګټه هڅه او هاند وکړي .

۳- مرسته حد او حدود نه لري. کېدای شي یو څوک په فکري، روحی او د ښوونې او روزنې په هکله یو چا ته سمې لارې وښيي او ستونزې یې له منځه یوسي.

۴- څرنګه چی مونږ انسانان یو او د انسانیت دنده داده چی د نړۍ له ټولو انسانانو سره ښې اړیکې

ولرو او له دوی سره پخپل اجتماعی ژوند کی اقتصادی، سیاسي او فرهنگی روابط هم ټینګ وساتو.

۵- موږ د دغه نړیوال کلي د یوه کور غړي یوو ، د دیني ، ملي او فرهنګي ځانګړنو د خوندي ساتلو لپاره باید خپل هویت وساتلی شو.

五、讨论。

د خپل هیواد د بیا ودانولو دپاره افغانان باید څرنګه وي ؟

دوهمه برخه

غم او خوشحالی

زما اشنا له ډېرو غمونو سره نا اشنا دی. د هغه په کاله کې چا د ماشوم ژړا نه ده اورېدلی او د خپلو ماشومانو په مرګ او درد يې هېڅکله نه دی ژړلی. هغه د ځوی او لور پلار نه دی. ده غوندې بې غمه سړی ډېر لږ پیدا کېږي او په همدغه سبب يې د خوشحالۍ برخه هم ډېره لږه ده. دی چه پخپل کاله کې خپل خلف الصدق نه ويني ، په زړه کې ډېر ځورېږي او ځان بد بخته ګڼي.

زمونږ دا عادت دی چه که د چا په کاله کې نهه میاشتینی اولاد مړ پیدا شي وير ور سره نه کوو او هغه هم د غم کبله نه غوړوي ، مګر په کوم کاله کې چه د دوه ورځو ماشوم مړ شي هلته د غم او مصیبت مجلس جوړېږي او خلق ورسره همدردی کوي. زمونږ غمونه معقول نه دی ، محسوس دی.

هره ضایعه چه یوازې عقل پرې پوهېدی شی او احساسات ورسره تعلق نلري همدغسې بې اثره وي .

زمونږ خوشحالی هم لکه زمونږ غم په عقل او منطق اتکا نلري ، بلکه د شعور او احساس نتیجه ده .

غم او خوشحالی یو په بل پوری تړلی دی او یو له بله نه بېلېږي . ځیني گمان کوي چه خوشحالی له بې غمه خلقو سره زیاته ده او هغه څوک ډېر نیکبخت دی چه هیڅ غم نلري ، مگر حقیقت دغسې نه دی او ښادی هر چېرې د غم په اندازه ده .

غم او خوشحالی لکه د یوې ټوټې دوه مختلف مخونه دي چې اصل یې یو دی . څنگه چه شپه او ورځ یو په بل پورې نښتې دي او هر کاله ته دواړه وړاندی وروسته راځي . د غم او خوشحالۍ ارتباط هم دغه راز ټینگ دی . که څوک وغواړي چه هغه یو خپل کاله ته پرېږدي او دا بل ایسار کړي ، له دېنه لویه اشتباه بله نشته .

داسی کیدی شی چه ورځ اوږده شي او شپه لنډه یا شپه لویه وي او ورځ وړه وي ، مگر داسی ورځ چه شپه ونلري یا داسې شپه چه ورځ ورپسې نه وي په دنیا کې نشته .

که لمر تر اخرته پاس په تندی ځای په ځای ولاړ وای او د زمانې په رنگ کې هیڅ تغیر او تحول نه وای موجود ، هیڅوک به نه پوهیده چه شپه څنگه وي او د همدی لامله چه شپه به چا نه پیژندله ، پدې به هم نه پوهیده چه ورځ څنگه وی او څه کیف لري .

غم او خوشحالي هم لکه شپه او ورځ یو په بل پیژنو . که غم له دنیا نه بیخی لاړ شي ، خوشحالي هم ورسره ځي . که ژړا نه وي ، خندا هم نشته .هماغسې چه هگۍ له چرگې پیدا کیږي او چرگه له هگۍ نه . غم او خوشحالي هم یو د بل اولاد دی .

انسان باید پدې پوه شي چه غم او خوشحالي یو ظاهری او اعتباری فرق لري یعنی دا فرق هم لکه د شپې او د ورځې فرق د سترگو او نظر فریب پیدا کړیدی . چه د عقل او بصیرت خاوندان پرې نه غولېږي ، بلکه ړانده هم دواړه یو گڼي .

څوک چه د عقل سترگې لري او د فلسفي شعور خاوند دی ، هغه پوهېږي چه د زمانې دواړه مخونه یوه شی ته منسوب دی او یو حقیقت دوه رنگه ښئي .

زمونږ غمونه او زمونږ خوشحالي زمونږ په ژوند کې هغه سوز او ساز پیدا کوي چه یې له هغه د ژوند

کيف او خوند نه پاته کېږي . غم د خوشحالۍ دخکلو ذايقه او احساس روزي او خوشحالي لکه د خوږو ميوو خوراک ترخو مرچو ته ضرورت لري . که په دنيا کې ترخه شيان نه وي ، خواږه ډېر ژر زړه وهي او بېخونده کېږي .

د ژوندانه خوند غم او خوشحالۍ ته ډېر ضرورت لري او په دغه خوند کې د عواطفو او احساساتو خاوندان ډېره برخه لري . هغه ړانده هوښياران چه په ظواهرونه غولېږي او د غم او خوشحالۍ په فرق نه دي قايل ، له دغه نعمته محروم دی .

ډېر خلق دي چه يوه ورځ يې ګرانه ښځه مري او دی غمجن کيږي ، مګر بله ورځ نوی واده کوي او نوې خوشحالي هغه زوړ غم بېخي هېروي . نو دغه د خوشحالۍ ډولۍ او هغه د غم جنازه يو له بله ډېر ربط لري . که هغه غم دغه کاله ته رانشي ، دغه ښادی هم نشي راتلی .

دا وصال په حقيقت کې د هغه فراق نتيجه ده او په هغه وير کې دغه سرور او سرود پټ دی . هر څومره چه د خوشحالۍ د پسرلی بارانونه زورور وي ، هغومره يې سيلابونه هم زورور دي . له دغسی زورورو بارانو سره تندر او بړلۍ هم شته ، لکه چه له ډېرو لويو افتخاراتو سره ډېر لوی خطرات ملګری دی . همدغه وجه ده چه زه له سپکو او کوچنيو غمونو څخه لوی او ستر غمونه ډېر ښه ګڼم .

单词 لغتونه

受折磨,(感到)痛苦;伤心,痛心,不快	[不及]	\dzaure'dəl\	ځورېدل
不幸的,倒霉的	[形]	\bad-'bakht\	بدبخت
害怕,忧愁,悲伤,痛苦	[阳]	\wi:r\	وير
铺开,展开;摆,布置,安放	[及]	\ghwəra'wəl\	غوړول
失去,失掉;损失,丧失	〈阿〉[阴]	za:i''a	ضائعه
属于,附属于;关系,联系	〈阿〉[阳]	ta'al'luq	تعلق
逻辑;逻辑思维;对话,谈话,交谈,发言	〈阿〉[阳]	man'tiq	منطق

支撑，支柱；依靠，指望，指靠	［阴］	itti'ka:	اتکأ
感觉，知觉；感情	〈阿〉［阳］	shu''ur	شعور
围墙，护墙；包围，封锁	〈阿〉［阳］	hi'sa:r	ایسار
下一世	〈阿〉［阴］	a:khi'rata	آخرته
额，前额，脑门	［阳］	tan'dai	تندی
变化，变动，改变，变更	〈阿〉［阳］	taghai'yur	تغیر
改变，变更；过渡，转变	〈阿〉［阳］	tahaw'wul	تحول
视觉，目力；洞察力，远见	〈阿〉［阳］	basi'rat	بصیرت
慈爱，仁慈；同情；情绪；感情	〈阿〉［阴］	‘a:ti'fa	عاطفه
被剥夺了……的，不占有……的，没有……的；失去……的	〈阿〉［形］	mah'ru:m	محروم
光荣，荣誉；自豪，自尊心，骄傲	〈阿〉［阳］	ifti'kha:r	افتخار
好意，好感，善意，同情，行善，好意对待	〈阿〉［阳］	ni''mat	نعمت

注释 تشریخ

本文的作者是阿富汗著名的现代作家古尔·帕恰·乌尔法特（ګل پاچا الفت）（1909—1977年），选自其散文集《غوره نثرونه》。

练习 تمرین

单项选择题。

١- ولی د لیکوال د اشنا د خوشحالۍ برخه ډېره لږه ده ؟

الف) د ده غمونه ډېر دي.　　　ب) هغه د ځوی او لور پلار نه دی .

(ج) هغه له ډېرو غمونو سره نااشنا دی .　　　(د) هغه يو بدبخت سړی دی .

۲- د غم او خوشحالۍ ترمنځ ارتباط څنګه دي ؟

(الف) غم او خوشحالي دواړه هېڅ ارتباط نه لري .　　　(ب) دوی دواړه يو شان دی .

(ج) غم او خوشحالي يو له بله نه بېلېږي .　　　(د) که غم ډېر وی ، نو خوشحالي به لږه وی .

۳- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه سمه ده ؟

(الف) زمونږ غمونه معقول دی.

(ب) خوشحالي له بې غمه خلقو سره زياته ده.

(ج) هغه څوک ډېر نيکبخت دی چه هيڅ غم نلري.

(د) خوشحالي د غم په اندازه ده.

۴- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه علطه ده ؟

(الف) غم لکه ورځ او خوشحالي لکه شپه ده .

(ب) د ژوندانه خوند غم او خوشحالۍ ته ډېر ضرورت لري

(ج) له ډېرو لويو افتخاراتو سره ډېر لوی خطرات ملګری دی .

(د) که يو سړی غم نه پېژني ، خوشحالي به هم نه پيژني .

۵- په داسې لاندنې خالتو کې کوم په دنيا کې نشته ؟

(الف) شپه اوږده او ورځ لنډه ده .

(ب) يوه کاله ته يوازی ورځ راځي او شپه نه راځي .

(ج) يو سړی کله خوسحال او کله غم دی .

(د) که خوشحالي ډېر وي ، غم به هم ډېر وي .

۶- د غم او خوشحالي د فرق په باب لاندنې خبرې کومه سمه ده ؟

(الف) دوی فرق نه لري .

(ب) د دوی فرق ظاهری فرق دی .

(ج) د دوی فرق د سترګو او نظر فريب پيدا کړيدی .

(د) د عقل او بصيرت خاوندان خبر دي چې غم او خوشحالی بيخي بېل دي .

۷- که په دنيا کې ترخه شيان نه وي ، څنګه به وي ؟

(الف) خواږه شيان به بېخونده وي .　　(ب) خوراک به ډېر خوندور وي .

(ج) هېڅ بدل به نه وي .　　(د) دنيا به ښه وي .

۸- د متن له پای څخه په دوهم پرګراف کې "نوی خوشحالی" څه ته اشاره کوي ؟

(الف) نوی واده　　(ب) ښځه مري

(ج) غم ولاړ　　(د) دوهم خوشحالی

۹- د ليکوال په نظر غم او خوشحالی کومه ښه ده ؟

(الف) غم تر خوشحالۍ ښه ده .　　(ب) خوشحالی تر غم ښه دی .

(ج) دوی دواړه برابر دي .　　(د) هغه نه وايي .

۰۱- داسې لاندنې څيزونه کوم په متن کې نشته ؟

(الف) ورځ او شپه　　(ب) ترخ او خوږ

(ج) هګۍ او چرګه　　(د) بوره او مالګه

第十二课 دوولسم لوست

لومړی برخه

احمد شاه بابا او ملي وحدت



احمد شاه بابا د ملت په درد خبر یو سړی و . ده لیدلی وه چې هر وخت د افغانستان ملت تر یوه جنډې لاندې د ملي وحدت په سیوری کې ټول شوی دي ، هغه وخت نو دغه ملت د لوړتیا پر اسمان لکه لمر داسې ځلېدلی او هرې خوا ته بریالي شوي دي !

احمد شاه بابا یو ښاغلی پوه مشر و . د افغانستان په تاریخ کې د ده خدمت زیات اهمیت درلود ، نو ځکه دغه ننګیالی او بریالی پلار د ملت د وحدت په لار کې ډېر زیار وکېښ . ده د افغانستان استېدونکی بې له امتیازه خپل زامن ګڼل او ملت هم دی " بابا " باله .

د احمد شاه بابا په لوړو کارنامو کې د افغانستان د خلکو د ملی وحدت دی چې ده واړه اولس په یوه نامه سره ټول کړل او د هغو تفرقو او جګړو څخه چې د غلجی او درانی ، یا پښتون او تاجیک په منځ کې وې ، و یې ژغورلې .

که مونږ د افغانستان په تاریخ کې پلټنه وکړو ، دا به راښکاره شي چې د احمد شاه بابا دغه د ملی وحدت فکر خورا پوخ فکر و او د ده ټوله بری هم د دغه ملي وحدت په برکت مونده شوه .

د افغانستان ملت چې هر وخت د ملي وحدت لاس سره ورکړي دي ، نو يې د دغه په برکت ډېر سعادتونه نصيب شوي دي . د غزنوي شاهنشاهانو په وخت کې چې د زابلي محمود په مجاهده د افغانستان ملت د وحدت او يووالی نعمت وموندی ، نو هغه وو چې د ګنګا له غاړې بيا د دجله او فرات تر غاړو پورې خلکو د غزني تر بېرغ لاندې ژوندون کاوه او د دې وطن برم هرې خوا ته موجود و . تر دې اندازې چې د غزنی د شاهنشاه محمود زوی ، سلطان معسود چې د خپل پلار له خوا د هرات نايب الحکومه و ، غوښته يې چې ټوله د غزنی تر پاچهۍ لاندې کړي او ولاړ شي بغداد هم ونيسي چې ټوله د اسلام دنيا د پښتنو تر بيرغ لاندې ژوندون وکړي . مګر افسوس چې د دغه لوړ عزم سره د ده پلار په غزنی کې وفات او د پښتنو د ملي وحدت رسۍ بيا وشلېده . تر دغه وروسته هم د پښتنو د غوري ، سوري . لودين او هوتکو شاهنشاهانو فتوحات ټوله د ملي وحدت په برکت شويدی .

احمد شاه بابا چې د پښتنو پاچا شو ، د ده لومړی کار دغه و چې د افغانستان ټوله ملت او هستيدونکي يې سره راټول کړه او دوی يې ټوله بې له کومه امتيازه او بېله کومه فرقه زامن وبلل . هغه و چې دې ملت بېرته "وروړګلوی" لاس سره ورکړي او د خپل مهربان او خواخوږی پلار په هدايت يې بېرته خپل بايللي او مجدد برم لاس ته راووست .

د احمد شاه بابا د ملي وحدت هدايات چې ډېر قيمتي دي ، د ده په کلام کې په ښه ډول ذکر شوي دي . په دې پېړۍ کې چې زمونږ د تجديد او نوی نهضت پېړۍ ده ، مونږ ته ښايي چې د دغه لوی پلار هدايات بيا عملي کړو او په ښې غوږ يې واورو .

احمد شاه بابا خپلو زامنو او ګران اولس ته د ملي وحدت درس ، د ملي عشق له سرچينې څخه ورکوي . هغه وخت چې د عشق او مينې اور په زړه کې بل شي ، دغه "د مليت مينه" ټوله افراد د سړي په نظر کې بې له امتيازه يوشی کوي او ټولو ملي ورونو ته په يوه سترګه ګوري .

د احمد شاه بابا توجه معنوياتو ته ده ، نه مادياتو ته ، يعنی د انسان دپاره د شرف او لوړتيا مقياس ، نه قومی امتياز ګڼي او نه ظاهري کالي او لباس، بلکه د ده په نظر کې مېړه .

هغه دی چې په اجتماعي ژوندون کې يې وجود ملت ته ګټه رسوونکی وي او د ښو اخلاقو عملونو خاوند وي .

تر دغه وروسته چې مهربان پلار ، خپلو زامنو ته د ملي وحدت او د انسان د حقيقي امتياز او لوړتوب اصول وښوول ، اوس نو ټوله ملت ته د وينښتوب او اتحاد غږ کوي او دوی د ملي وحدت خوا ته رابولي چې ټوله په ګډه د ملي لوړتيا د ميندلو دپاره زيار وکاږي او د ورور ګلوۍ لاسونه سره ورکړي :

پښتانه دې ټوله لاس سره يو کاندي

چې مو نن غزا هر لورې شاوخوا ده

دغه و د احمد شاه بابا د ملي وحدت غږ چې مونږ اوس په دغه پېړۍ کې د پښتنو غوږو ته ورساوه ، ځکه چې اوس تر پخوا لا ډېر مونږ ملي وحدت ته اړ او محتاج يو .

پښتانه ښايي چې د خپل تاريخ دغه مشعشع عصرونه تل په ياد ولري او د "ملي وحدت" په ښکاره او لويو ګټو پوه شي او په دغه وپوهېږي که سلطان محمود و که غوري که لودين که هوتک ؤ که دراني ټولو د "ملي وحدت" په سيوري کې لوړتيا موندلې وه او بس .

单词 لغتونه

尊敬的，可敬的，受人敬爱的，令人敬重的	［形］	/ ha:'ghəlai /	ښاغلی
分开，分离；不一致，分裂	〈阿〉［阴］	/ tafri'qa /	تفرقه
解放，解除，拯救，使……摆脱；保存，保管好，爱护，保重	［及］	/ zhgho'rəl /	ژغورل
（伊朗）国王	［阳］	/ sha:han-'sha:h /	شاهنشاه
力，力量；威力；威严，威风	［阳］	/ bram /	برم
草绳，绳子	［阴］	/ ra'səi /	رسۍ
فتوح 的复数，فتح 的二次复数	〈阿〉［阳复］	/ futu'ha:t /	فتوحات
兄弟关系，兄弟情义	［阳］	/ wrorgal'wi: /	ورورګلوي

新的，重新开始的；重复的，进一步的；复兴的	〈阿〉[形]	/ muja'dad /	مجدد
恢复，重新开始；更新	〈阿〉[阳]	/ taj'di:d /	تجدید
运动（社会的）；发展	〈阿〉[阳]	/ nah'zat /	نهضت
精神状态，精神面貌；观念；理智，理性	〈阿〉[阳复]	/ ma'nawi'ya:t /	معنویات
物体，物质实体；万物，物质性；物质福利	[阳]	/ ma:di'ya:t /	مادیات
范围，规模，程度；标准，准则	〈阿〉[阳]	/ miqi'ya:s /	مقیاس
闪闪发光的，闪烁的，光辉的；辉煌的	〈阿〉[形]	/ musha'shi'/	مشعشع

注释 تشریخ

1 احمدشاه بابا 阿赫玛德·沙·巴巴（1722—1772），来自阿布达里部落、波波尔查依分支、萨多查依氏族，近代阿富汗之父，杜兰尼王朝的创立者，第一次把所有阿富汗人联合在一个国家之中。

2 غزنی加兹尼王朝（962—1186年），其鼎盛时期是苏坦尔·马茂德（سلطان محمود）统治时期（998—1030年），这时期加兹尼王朝的疆域北至花拉子模，南达锡斯坦，西至伊朗西北部，东达印度北部，成为当时亚洲最大的君主国。

练习 تمرین

一、回答问题。

۱- د احمد شاه بابا تر ټولو لوړه کارنامه کومه ده ؟

۲- د غزنوي شاهنشاهانو په وخت کې د افغانستان برم چېرته غزېدلی و ؟

۳- سلطان معسود غوښته چې ډېر زيات ځايونه د پښتنو تر جنډې لاندې ټول کړي ، مګر اخر يې وبايلود ، ولې ؟

۴- کله چې احمد شاه بابا د پښتنو پاچا شو ، د ده لومړی کار څه و ؟

۵- د احمد شاه بابا توجه معنوياتو ته ده ، نه ماديات ته . دا جمله څه معنا ده ؟

二、填空题。

۱- د افغانستان په تاريخ کې د ده خدمت زيات اهميت درلود ، نو ځکه دغه ننګيالی او بريالی پلار د ملت د وحدت په لار کې ډېر زيار ________ .

۲- مونږ ته ښايي چې د دغه لوی پلار هدايات بيا عملي کړو او په ښې غوږ يې ________ .

۳- هغه وخت چې د عشق او مينې اور په زړه کې ________ ، دغه "د مليت مينه" ټوله افراد د سړي په نظر کې بې له امتيازه يوشی کوي او ټولو ملي ورونو ته په يوه سترګه ________ .

۴- هغه دی چې په اجتماعي ژوندون کې يې وجود ملت ته ګټه ________ وي او د ښو اخلاقو عملونو خاوند وي .

۵- اوس نو ټوله ملت ته د ويښتوب او اتحاد غږ کوي او دوی د ملي وحدت خوا ته ________ چې ټوله په ګډه د ملي لوړتيا د ميندلو دپاره زيار وکاږي او د ورور ګلوۍ لاسونه ________ .

三、连线题。

ښاغلی	ځلېدلی ، چړکېدلی
جنډه	نوی کوونکی ،تجديد کوونکی
مشعمشع	ساتل ، حمايه کول
ژغورل	بيرغ
مجدد	ستايل شوی ، عزتمن

四、翻译句子。

۱- ده ليدلی وه چې هر وخت د افغانستان ملت تر يوه جنډې لاندې د ملي وحدت په سيوری کې ټول شوی دي ، هغه وخت نو دغه ملت د لوړتيا پر اسمان لکه لمر داسې ځلېدلی او هرې خوا ته بريالي شوي دي !

۲- ده واړه اولس په یوه نامه سره ټول کړل او د هغو تفرقو او جګړو څخه چې د غلجی او درانی ، یا پښتون او تاجیک په منځ کې وې ، و یې ژغورلې .

۳- هغه و چې دې ملت بېرته "ورورګلوی" لاس سره ورکړي او د خپل مهربان او خواخوږی پلار په هدایت یې بېرته خپل بایللي او مجدد برم لاس ته راووست .

۴- هغه و چې دې ملت بېرته "ورورګلوی" لاس سره ورکړي او د خپل مهربان او خواخوږی پلار په هدایت یې بېرته خپل بایللي او مجدد برم لاس ته راووست .

۵- پښتانه دې ټوله لاس سره یو کاندي چې مو نن غزا هر لورې شاوخوا ده

五、请用普什图语用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

خپل ملیت ساتل

هر ملت ځینی مخصوص شیان لري چې که سړی هغه ورځنی لری کړي ، هېڅ امتیاز ورته نه پاتی کېږي . د همدې له امله هر ژوندی او بیدار ملت خپل ټول ملي شیان لکه : ملي موسیقی او ملي ادب ، ملي ژبه او ملي *روایت* ، ملی ذوق او ملي اخلاق په ډېر ښه شان ساتي او هېڅکله ځان د بل قوم په څېر نه ښکاره کوي . بعضی ملتونه په دې باب کې دومره ډېر احتیاط کوي چې خپل خرافات او بې معنی شیان چې هېڅ فایده پکې نه وي ، هم له لاسه نه باسي او ډېر ورباندی ټینګ وي .

مګر ځني ملتونه چې د نورو له تاثیر لاندې راغلی او خپل ملي ذوق او احساس یې ورک کړي دي . له بل ځینی علم ، فن ، صنعت اخلي ، خو ملي خصوصیت یې هېڅکله نه قبلوي . ځکه چې هغوی ته تل خپل هر څه بد معلومېږي او پردی هر څه ورته ښه ښکاري . نو په هر شي کې د نورو تقلید کوي او د ملیت په معنی هم هېڅ نه پوهېږي . خپل ځانونه ورته ډېر ټيټ او ښکته ښکاري ، ښه او بد تل د نورو په ذوق ځانته معلوموي او له

ځانه هېڅ فکر نشي کولي .

که سړی د یوه قام ازادی او خپلواکی د روح او نفس له خوا په نظر کې ونیسي ، نو پوره ازادي او حقیقي خپلواکي هغه قوم لري چې په خپل فکر کې د بل قوم تر تاثیر لاندې نه وي راغلی . یعنی په غیر شعوري طور په بل قام پسې نه وي روان ، نه یې ذوق تابع وي او نه د بل قوم فکر له خپل فکره ښه ګڼي .

هر کله چې پښتون یو توریالی او ننګیالی ټبر دی چې تر اوسه پورې په دنیا کې په جګو او هسکو سترګو ژوندون کوي او هېڅکله ورته بل څوک له ځانه لوړ او ستر نه ښکاره کېږي . نو طبعا باید خپل ملي خصوصیات او پښتنی ممیزات په ښه شان وساتي او هېڅکله یې له لاسه و نه باسي .

د پښتنو ملي اخلاق او خویونه چې په پښتنواله ورځنی تعبیر کېږي . د پښتنو د ملیت اساسي ستنې او مهم ارکان دي چې په اجتماعي حیات کې ډېر زیات قیمت او اهمیت لري . او حقیقي تهذیب پکې لیدل کېږي . د پښتنو صاف او رښتیا ویل ، پخپل عهد او قول له سر او ماله تېرېدل ، له ضعیفانو او بې وزلو سره مرسته او کومک کول ، دا ټول هغه صفات او خویونه دي چې پښتانه یې د پښتنولۍ ارکان او شروط ګڼي .

نو معلومه شوه چې پښتنو ته له مشکلاتو سره مقابله کول او ګرانو کارو ته سر نیول ډېر ښه ښکارېږي او دا قام د هر راز سختیو مقابلې ته تیار او مستعد دي . دې قوم ته له هر څه ځنی خپل ځان لوړ ښکاري او تل پخپل ملیت او پښتنواله افتخار کوي . د همدې له امله د قسم په ځای کې وایي : پښتون به نه یم که دا کار مې و نه کړ .



که څوک د پښتنو په کلو او قبایلو کې وګرزي ، دا به ورته معلومه او څرګنده شي چې پښتانه هغه چا ته پښتون نه وايي چې هغه یوازې په پښتو خبرې کولی شي او نه پښتو یوازې د دغو مخصوصو الفاظو او کلماتو د پاره استعمالېږي . ځکه چې د دوی د خبرو او جملو په نالیکل شوی قاموس کې دا دوه کلمې خورا ډېر معاني لري ، چې د دې قوم ټول صفات او ممیزات پکې راځي .

نو مونږ باید خپل ملي اخلاق او پښتنواله په ښه شان

وروزو او د خپلو تېرو پښتنو هغه خويونه چې بايد انسانان او انسانيت ورباندې فخر وکړي ، تل په نظر کې ونيسو .

زمونږ/*سلاف* او پخواني بر سېره په دې چې توره او توريالیتوب ورځنی په میراث پاته دي . د نورو لوړو او ښو صفتو خاوندان هم وو چې دوی مهذب او خوشبین وو ، دوی پخپل ناموس ډېر ټینګ وو او بل چا ته یې هم هېڅکله په سپکه سترګه نه کتل . په هر میدان او هر ډګر کې د ظالمانو دښمن او د مظلومانو ملګری وو ، هر چا به چې دوی ته ننګ راووړو او سر او ماله به ورباندې تېرېدل او هغه به یې تر خپل سیوری لاندې په ډېر ښه شان ساته .

خپله سیمه به یې ډېره درنه ساتله او پخپله یوه ځمکه به یې خپل سرونه ورکول ، هېڅ کله یې په دنیا کې د بې ننګۍ ژوندون نه کاوه او نه یې د چا پېغور ځانته پرېښوده ، خپل نوم ورته له هر چا ځنې ښه ښکارېده او د پښتونولۍ آب و آبرو یې په ډېر ښه شان ساتله .

کوم طبیعي جوهر او معنوي ښیګڼې چې مونږ لرو ، هغه په بل هېڅ قوم کې نشته او نه یې پیدا کولی شي ، که څه هم په فن او صنعت کې له مونږ ځنې ډېر وړاندې او مخکې دي . نو مونږ باید خپل ټول ملي شیان او ملي اخلاق له هر چا ځنې ښه وګڼو او پخپله پښتنواله ونازېږو .

نو مونږ باید له نورو اقوامو ځنې فنون او صنایع ، علوم او معارف واخلو ، د نورو سیاست او معاشرت ، کړه وړه هر څه ځانته معلوم کړو ، مګر د هغوی په ظاهري ښایست او ښکلیتوب خپل زړه بای نلو او نه خپل ملي ذوق د چا په تقلید کې ورک کړو .

لغتونه 单词

روايت	/ riwa:'yat /	〈阿〉[阳复]	传闻，传说；故事，轶事，传奇，小说
احتياط	/ ihti'ya:t /	〈阿〉[阳]	小心，谨慎，慎重，思考周到；明理
خرافات	/ khura:'fa:t /	〈阿〉[阳复]	臆造，无中生有，谎言
تقليد	/ taq'li:d /	〈阿〉[阳]	模仿，仿效；追随

理智的，有意识的，自觉的	〈阿〉[形]	/ shuu’ri:/	شعوري
家族，宗族；部落，部族	[阳]	/ ta’bar，ta’bər /	ټبر
按天性说，生来；当然，自然	〈阿〉[副]	/’tab’’an /	طبعاً
意识；思想，想法；区别；特点；优越性	〈阿〉[阴]	/ mumaiyi’za /	مميزه
(ركن 的复数)(宗教)教义，信条	[阳复]	/ ar’ka:n /	اركان
生命；生存；存在	〈阿〉[阳]	/ ha’ya:t /	حيات
债，债务；条约	〈阿〉[阳]	/ ‘ahd /	عهد
说话，话语，允诺，许诺，签名，诺言	〈阿〉[阳]	/ qaul /	قول
准备好了的，准备就绪的；做好的，现成的	〈阿〉[形]	/ musta’’id /	مستعد
祖先	[阳]	/ is’la:f /	اسلاف
受过教育的，有修养的；无瑕疵的，精制的；文雅的	〈阿〉[形]	/ muha’zab /	مهذب
嘲笑，辱骂；讽刺，挖苦；责备，责难	[阳]	/ pe’ghor /	پېغور
荣誉，名誉，光荣；尊敬，敬意	[阳或阴，无复]	/ a:b’ru，a:b ‘ro /	آبرو
宝石，珍珠，珠宝；精髓，精华	〈阿〉[阳]	/ jau’har /	جوهر
交往，交际，结交，社交	〈阿〉[阳]	/ mu’a:sha’rat /	معاشرت

练习 تمرين

单项选择题。

۱- په لاندنيو مثالونو کې کوم مثال د ملت د مخصوص شيان نه دی ؟

ا) ملي موسيقي　　　　ب) ملي ژبه

(ج) ملي اخلاق (د) سائنس

۲- هغه لغت "روایت" چې د دې مقالې په لومړۍ برخه کې دی، څه معنا ده؟

(ا) شعر (ب) نقل

(ج) لنډۍ (د) نثر

۳- پښتون یو څنګه ټبر دی، په لاندنیو تشریحو کې کوم یو سم نه دی؟

(ا) توریالی (ب) ننګیالی

(ج) له ازارۍ سره ډېره مینه لرل (د) شوخ

۴- د پښتنو د ملیت اساسي ستنې او مهم ارکان څه دي؟

(ا) د اسلام قانون (ب) اساسي قانون

(ج) پښتنوالي (د) د پښتنو ملي اخلاق

۵- هغه لغت "اسلاف" څه معنا ده؟

(ا) اسلام (ب) پخواني

(ج) اولاد (د) نسل

۶- د لیکوال په نظر په لاندنیو جملو کې کومه جمله سمه ده؟

(ا) که څه هم هغه شیان بې معنی دي، بیا هو له لاسه نه باسي او ډېر ورباندې ټینګ وي.

(ب) د نورو ملتو شیان ټول ښه دي، نو په هر شي کې د نورو تقلید کوي.

(ج) باید خپل ملیت ښه وساتي، او بیا هم له نورو نه ښه شیان واخلي.

(د) پورتني جملې ټولې سمې نه دي.

۷- که سړی د یوه قام ازادي او خپلواکي د روح او نفس له خوا په نظر کې ونیسي، ________.

(ا) په خپل فکر کې د بل تر تاثیر لاندې نه وي راغلی.

(ب) اسان شی چې د نورو خبرو قبل کړي.

(ج) خپل ځانونه ورته ډېر ټیټ او ښکته ښکاري.

(د) ښه او بد تل د نورو په ذوق ځانته معلوموي.

۸- په لاندنيو تشريحو کې کوم يو د پښتنو د مليت تهذيب نه دی ؟

(ا) صاف او رښتيا ويل

(ب) له ضعيفانو او بې وزلو سره مرسته کول

(ج) له مشکلاتو سره مقابله کول

(د) نه يوازې پښتو ويل ، بلکه دري او اوردو هم ويل

۹- په لاندنيو تشريحو کې کوم يو د پخوانيو پښتنو ښه صفت نه دی ؟

(ا) په خپل ناموس ډېر ټينګ وو .

(ب) په ظاهري ښايست يې خپل زړه بايلود .

(ج) بل چا ته يې هېڅکله په سپکه سترګه نه کتل .

(د) خپله سيمه بې ډېره درنه ساتله .

۱۰- که څه هم په فن او صنعت کې له مونږ نه ډېر وړاندې او مخکې دی ، نو ____________ .

(ا) د نورو ټول شيان قبل کړو .

(ب) دوی ته په سپکه سترګه وګورو .

(ج) خپله سيمه خپل سرونه ورکړو .

(د) د خپل ملي ذوق د نورو په تقليد کې ورک نه کړو .

第十三课 دیرلسم لوست

لومړی برخه

نظر لا لا

په یوه ستانه کورنۍ کې یو سپین ږیری خدمتګار اوسېده چه هر چا به ورته نظر لا لا ویل . دا سړی د ماشوم توب له وخت د بوډا توب تر زمانې په دغه کاله کې و او خپل ژوند یې په همدغه کاله کې خاورې کړ .

دی د دې کاله نسبی سړی نه و او د خدمتګار په حیث یې کار کاوه . مګر مزدور ور ته نشو ویلی ، ځکه چه د مزدور په شان کار یې نه کاوه . هېڅوک به خپل ځان د ځان دپاره په کار کې دغومره ستړی نکړی ، لکه چه نظر لا لا د دغې کورنۍ په خدمت کی ستړی او ستومانه و .

ده دغه خدمت د خدای دپاره کاوه . په دغه سړی کې ډېر زیات اخلاص ، امین توب او صداقت موجود و . دا سړی بې نامه او بې نشانه سړی و ، جامې به یې تل زړې او خړې وې ، مګر د زړه صفائی یې زیاته وه .

زما دا عادت دی چه له مخدوم نه خادم ته په محبت ګورم او له پیرنه مې مرید خوښ دی .

څوک چه د خدای دپاره د نورو خدمت کوي او خپل ژوند د نورو له ژونده قربانوي ، هغه لکه نظر لالا داسې وی چه خپله مادی ګټه هېڅ نه پیژني . دا سړی په تور او سپین نه پوهیده ، الف او بې یې نه ولوستی . د لفظ او معنی فرق یې نشو کولی . مګر د نیکۍ او خیر رسولو په لوړه مبدا ئې ټینګه عقیده لرله او دا جذبه پکې د عشق حد

ته رسيدلې وه .

نظر لالا د هر چا په نظر کې ډېر سخت او بخيل سړی معلومېده . هر چا به ويل چه ده غوندې سخت سړی بل نه پيدا کيږي .

دی هغه راز خدمتګار نه و چه له خپل مخدوم نه څه واخلي او د ځان دپاره يې ذخيره کړي ، بلکه ده به هغه ته څه ورکول او خدمت يې بيخي وړيا و . که کله به د کاله خاوند د ده په خاطر هغوی ته څه ورکړ ، دی به خپه کيده او د دغه کاله زيان ورته لکه د ايمان زيان معلوميده .

د نظر لالا دا عادت و چه چرګړ به له خوبه پاڅيده او د سپيدو په رڼا کې به غره ته روان و ، ترڅو چه لمر ځرک واهه ، ده به له غره نه د خسوګيډی راوړ ، چه سباناری به يې وکړ ، نو بيا به په نورو کارونو پسې روان شو او ټوله ورځ به يې کار او خدمت کاوه .

ده به پس له ماښامه هم د شپې تر لسو بجو د مېلمنو خدمت کاوه او ډېر ناوخته به ويده کيده . د ده په کار کې د رخصتۍ او تعطيل ورځې نه وې او د ناروغۍ دپاره يې هم فرصت نه درلود . دی د عادت او ډېر کار کولو په وجه له پولادو نه هم کلک و .

هغه ګيډی چه ده د شپيتو کالو په عمر په شا باندې راوړ د دې زمانې ښه ښه ځوانان يې نشي وړلی . په دغه کاله کې به چه هر څومره ښه څه پاخه شوه د ده برخه به پکې ډېره خواره وه ، ځکه چه ښه ډوډۍ د ده له ستونۍ څخه نه تېرېده او په همدغه وجه به د چرګ ورمېږ د ده برخه وه .

نظر لالا له تودې ډوډۍ سره هم دښمني درلوده او چه په شکور کې به سړه پرته وه ، تودې ته به يې لاس نه وروړ . په همدغه سبب دی په ډېر بخيل مشهور و او هر چا به ورته سخت او بخيل ويلی . دا و د خلقو قضاوت چه له حقيقت نه ډېر لرې و او په ډېرې ظاهر بينۍ بنا وه . هغه څوک چه خپل ژوند د بل دپاره وقف کړي او هيڅ دنيا يې ګټه پکې له نظر لاندې نه وی ، هغه ته به څنګه بخيل وواېو .

هو ! نظر لالا په ځان باندې بخيل و ، ځکه چه له ځانه تېر و او خپل ځان يې بل ته بخښلی و . ده ته به که چا د خدای دپاره څه ورکړه ، هغه يې د بل دپاره اخيستل او بل ته يې ورکول . دا ايثار او فداکاری چه پدې وخت کې لکه د انځر ګل يا د مرغۍ پی ډېر نادر څيز معلومېږي . له انسانی غرايزو سره ډېر موافقت نلري او مثالونه يې ورک دي .

دا راز سړی د خلقو په نظر کې ډېر ساده او ډېر احمق معلومېږي . په عقل او پوهه دا ګمان نشی کېدی چه چا ته د دغسې ایثار او فداکارۍ اجازه ورکړي . خپل ځان خوارول او بل پاللل ، له ځانه تېرېدل او د بل په ښه ورتلل د عقل او فکر کار نه دی ، د دغسې کارونو دپاره یو لوړ معنوی عشق په کار دی او د نظر لالا اخلاص غواړي .

زه د هغه چا ستاینه نه کوم چه نظر لالا ورته ډېر اخلاص او عقیدت درلود ، زما په نظر کې د ستایلو وړ نظر لالا دی او د ده په ښه سړیتوب ټینګه عقیده لرم . دی اوس له نظره پنا دی او زه د ده زیارت ته په ډېر اخلاص ورځم . په هغه ادیره کې چه دی خښ دی ، نور قبرونه هم ډېر دی او په ځینو باندې لاجنډې هم ولاړې دی . مګر زه خپل مراد له نظر لالا څخه غواړم او د ده حسنات راته ډېر درانه معلومېږي .

په رښتیا چه زما خادمان خوښ دی او ښه خلق په خدمتګارانو کې وینم .

单词 لغتونه

家长（族长）	［阴］	\sta:'na\	ستانه
家谱的；亲属的，亲戚的；同血缘的	〈阿〉［形］	\nasa'bi:\	نسبی
工人；日工，短工，按日计算工资的工人	〈波〉［阳］	\maz'du:r\	مزدور
诚心，诚 意，真诚 ；友谊	〈阿〉［阳］	\ikh'la:s\	اخلاص
阿门，心愿如此，愿主准我所求	〈阿〉	\a:'mi:n\	آمین
诚心，诚实；正确；忠心，友谊，友好	〈阿〉［阳］	\sada:'qat\	صداقت
（射击，射箭）靶子；目标；证号，符号，标志	［阴］	\nisha:'na\	نشانه
清洁，光亮，透明	〈波、阿〉［阴］	\safa:'yi:\	صفائی
仆人，佣工，雇员	〈阿〉［阳］	\kha:'dim\	خادم
爱情；友谊，好感	〈阿〉［阳］	\muha'bat\	محبت
宗教领袖的支持者（拥护者），弟子，徒弟	〈阿〉［阳］	\mu'ri:d\	مرید

老人；(伊斯兰教的)长老	〈波〉[阳]	\pi:r\	پير
词，语，话，语言	〈阿〉[阳]	\lafz\	لفظ
起点，出发点；起源，来历；原则，原理	〈阿〉[阳]	\mab'da:\	مبدأ
吝啬的，小气的	〈阿〉[形]	\ba'khi:l\	بخيل
(工作)暂停；停止，停顿	〈阿〉[阳]	\ta''ti:l\	تعطيل
方便的时刻，顺利的时刻；机会；余暇	〈阿〉[阳]	\fur'sat\	فرصت
后脑壳，后脑勺	[阳]	\wər'meg\	ورمېږ
遗嘱捐赠的，遗赠的；献身的，献给的	〈阿〉[形]	\waqf, wa'quf\	وقف
捐助，捐献；慷慨，旷达，大方	〈阿〉[阳]	\i'sa:r\	ايثار
无花果	[阳，单或复]	\in'dzər\	انځر
稀有的，稀少的，罕见的，不寻常的	〈阿〉[形]	\na:'dir\	نادر
本能，生性，天性	〈阿〉[阴]	\ghari'za\	غريزه
赞同，同意；相符合，与……相适应；适宜	〈阿〉[阳]	\muwa:fa'qat\	موافقت

注释 تشريح

本文的作者是阿富汗现代作家古尔·帕恰·乌尔法特(ګل پاچا الفت)，选自其散文集《نثرونه غوره》。

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- ولې نظرلالا ته مزدور نشو ويلی؟ هغه څه رنګه کار وکړل؟

۲- نظر لالا څه عادت لري ؟

۳- په رښتيا چې د نظرلالا بدن له پولادو نه هم کلک و ؟ ولې داسې وايي ؟

۴- نظر لالا ډېر سخت او بخيل سړی دی ؟

۵- اوس د نظر لالا په شان خلک ډېر دي ؟

二、填空题。

۱- دا سړی د ماشوم توب له وخت د بوډا توب تر زمانې په دغه کاله کې و او خپل ژوند يې په همدغه کاله کې ________ .

۲- څوک چه د خدای دپاره د نورو ________ کوي او خپل ژوند د نورو له ژونده ________ ، هغه لکه نظر لالا داسې وی چه خپله مادی ګټه هېڅ نه پېژني .

۳- دی هغه راز خدمتګار نه و چه له خپل مخدوم نه څه واخلي او د ځان دپاره يې ________ کړي ، بلکه ده به هغه ته څه ورکول او خدمت يې بېبخي ________ و .

۴- د ده په کار کې د رخصتۍ او تعطيل ورځې نه وې او د ناروغۍ دپاره يې هم ________ نه درلود .

۵- په همدغه سبب دی په ډېر بخيل مشهور و او هر چا به ورته سخت او بخيل ويلی . دا و د خلقو ________ چه له حقيقت نه ډېر لرې و او په ډېرې ________ بنا وه .

三、根据课文判断对错。

۱- نظرلالا د دې کاله خپل دی .

۲- نظر لا لا د دغې کورنۍ په خدمت کی ستړی او ستومانه نه و .

۳- نظرلالا به هره ورځ له غره نه په ورې ډول بيېرته راتلل ، چه سباناری به يې وکړ.

۴- د دې زمانې ښه ښه ځوانان ګيډې په شا باندې نشی وړلی .

۵- سړې ډوډۍ د نظرلالا خوښې دي .

四、翻译句子。

۱- دا سړی بې نامه او بې نشانه سړی و ، جامې به يې تل زړې او خړې وې ، مګر د زړه صفائی يې زياته وه .

۲- دا سړی په تور او سپین نه پوهیده ، الف او بې یې نه ولوستی . د لفظ او معنی فرق یې نشو کولی . مګر د نیکۍ او خیر رسولو په لوړه مبدا ئې ټینګه عقیده لرله او دا جذبه پکې د عشق حد ته رسیدلې وه .

۳- په دغه کاله کې به چه هر څومره ښه څه پاخه شوه د ده برخه به پکې ډېره خواره وه ، ځکه چه ښه ډوډۍ د ده له ستونی څخه نه تېرېده او په همدغه وجه به د چرګ ورمیږ د ده برخه وه .

۴- هغه څوک چه خپل ژوند د بل دپاره وقف کړي او هېڅ دنیا یې ګټه پکې له نظر لاندې نه وی ، هغه ته به څنګه بخیل ووایو .

۵- دا ایثار او فداکاری چه پدې وخت کې لکه د انځر ګل یا د مرغۍ پی ډېر نادر څیز معلومېږي . له انسانی غرایزو سره ډېر موافقت نلري او مثالونه یې ورک دي .

五、讨论。

ستا په نظر کې نظر لالا څه رنګه سړی دی ؟ د ده رفتار ستا خوښ دی ؟

دوهمه برخه

هېڅوک ونه پوهېد!

"سه شنبه، چارشنبه، پنج شنبه...نن د څه ورځ ده؟" فکر یې وکړچې نن یې کومه غټه تېروتنه کړې.په بېړه پاڅېد.پر دېوال ځړېدلې جنتري ته یې وکتل. سترګې یې اوس دومره کمزورې شوې وې چې د دېوالي جنتري ټکي یې هم نه شوای لوستلی.عینکې یې په سترګو کړې او بیا یې وروکتل؛خو ګټه یې ونه کړه،ځکه ده ته ورځ نه وه معلومه ،نو جنتري به ورسره څه مرسته کړې وای؟ د ورځ او میاشت حساب ترې ګډوډ و.سهار یې د حاضرۍ په کتاب کې د میاشتې په نونسمو او شلمو کوټو کې لاسلیک کړی و.وروسته یې فکر وکړ چې شلم تاریخ خو سبا دی او ده د یو ورځ مخکې ،یعنې سبا حاضري لاسلیک کړې.ګومان یې وکړ،لکه چې پرون یې حاضري نه وه لاسلیک کړې او دحاضرۍ د مسول هم ورته نه و پام شوی،چې خانه یې ور قیده کړې.وروسته

ورته دا گومان هم بې ځايه وبرېښېد او په دې باوري شو چې د سبا ورځې حاضري يې لاسليک کړې.

نه پوهېده، چې څه وکړي؟ يو ځل يې زړه وکړ چې مخکې له دې، چې د اداري رئيس يې ددې تېروتنې لپاره وروبولي، په خپله ولاړ شي او ښننه وغواړي. خو يقيني شو، چې د حاضرۍ مدير به هرومرو دا خبره رئيس ته کوي. که ويې نه وايي، بيا خو نو په خپل ځای نه شي پاتې کېدای. هوډ يې وکړ، چې لومړی د حاضرۍ مدير ته لاړ شي او ترې وغواړي، چې دده دا تېروتنه

رئيس ته ونه وايي. کله چې د حاضرۍ دفتر ته لاړ شي، د حاضرۍ د کتاب تر څنگ ودرېږي؛ وگوري چې نور ماموران د حاضرۍ کومه کوټه توروي، نولسمه که شلمه؟ له ځايه پاڅېد. ماموران په بېړه په اړکی کې ښکته او پورته کېدل. د نورو په وارخطايۍ دی هم وارخطا شو. هرومرو بيا څه خبره ده چې ټول داسې وارخطا او خواشيني دي. ښايي بيا د توغنديو د راتلو وېره وي. ښايي، بيا د سړک پر سر د جگړې انديښنه وي. بله شېبه يې دا هر څه هم رد کړل او فکر يې وکړ، د مامورانو دا وارخطايي ددوی عادي حالت دی. هغوی يو له بل سره سترې مه شي کوله:

" توغنديو خو به تاسې ته څه زيان نه وي دررسولی؟"

ددې جملې په اورېدو ووېرېد. له څه مودې راهيسې يې هڅه کوله، چې دا ډول ترخې خبرې وانه وري. د نورو څېرې او خبرې ورته وېروونکې وې. له هر څه ډارېده. په کور، بازار، کوڅه او دفتر کې به يې چې هر لور وکتل، گومان يې کاوه، چې هر څه بس همدا اوس چوي. احساس يې کاوه، چې د ډېرو ويرجنو او ترخو خبرو د اورېدو له امله يې، زړه د کاغذ په شان نری شوی.

غوښتل يې داسې څوک ومومي، چې ترې وپوښتي، چې "نن د څه ورځ ده؟" هر چا ته به يې، چې وليدل، له وحشت ځپلې څېرې به يې وډار شو. څېرې ورته اشنا ښکارېدې، خو په ياد نه ورتلل، چې څوک دي؟ د حاضرۍ مدير رئيس ته ووايي او په پايله کې ما احضار کړي يا ښايي رئيس ما له دې دندې گوښه کړي. هغه وخت به

مې څه خاورې پر سر بادوم؟ماشومان به مې څه خوري؟راتلونکی ژوند به مې څنګه شي؟غوره هم دا وه چې لاړ شي او وګوري،چې نور ماموران د حاضرۍ کومه کوټه کې لاسلیک کوي،نونسمه که شلمه؟

ناڅاپه له یو عمر خوړلي مامور سره مخ شو.ویې پېژندهٔ.څېره یې اشنا وه.سترګې مهٔ شي یې ورسره وکړه،خو سر تر پښو لړزېده.ویې پوښت: " مامور صاحب!نن د څهٔ ورځ ده؟" بوډا لومړی وډار شو او په وحشت ځېلو،حیرانوونکو سترګو یې دده په لور وکتل،ویې ویل: " د څه ورځ...؟ " وروسته په داسې حال کې،چې وحشت یې په سترګو کې په خوټېدو و ،لوړه خندا وکړه.بې غاښو خوله یې ښکاره شوه.سپینه خو خیرنه ږیره یې ورپېېده. ویې ویل: " د څهٔ ورځ ده ؟...هاهاهاها...ورځ؟...هاهاهاها..." همداسې یې خپله مخه ونیوله او ولاړ.دی حیران پاتې شو. " دا نو څنګه سړی و؟زما په ګومان،پروسږ کال زموږ پهٔ شعبې کې مامور و.مګر ولې ووېرېد؟ولې په خندا شو؟"اندېښنو یې نوره هم زړه ته لار وکړه.نور ماموران هم ورته د بوډا مامور په شان غیر عادي وایسېدل . ټول ورته د بوډا په شان لېوني ښکارېدل.

لا د حاضرۍ دفتر ته نه ورسېدلی،چې د حاضرۍ د مدیر غږ په اړکې کې وڅرخې(د) " رئیس صاحب وینا لري.ټول تالار ته لاړ شئ!"ددې خبرې په اورېدو ،نږدې و چې نری زړه یې وچوي.ځای پر ځای ودرېد .نورو ته یې وکتل.غږ تکرار شو: " ټول تالار ته لاړ شئ،چې رئیس صاحب وینا کوي!"سر یې وڅرخېد.پر سترګو یې تیاره راغله.په منډه،منډه خپلې شعبې ته راغی او د خپل مېز تر شا کېناست.سا یې ډوبه،ډوبه کېده.خوله شوی و.

-" خدایه څه خبره به وي؟رئیس ولې وینا کوي؟"

همدا چې د نورو مامورانو تر منځ کېناست،ښي لور ته یې له ناست مامور نه وپوښتل: " نن د څه ورځ ده؟"مامور یو ټکان وخوړ . وېره یې په سترګو کې په څپو شوه.بیا یې وویل: " ګومان کوم،چې یکشنبه...نه دوشنبه..." بیا یې بل مامور ته مخ ورواړوه او تر څنګ ناست کس نه یې وپوښتل: " نن څو شنبه ده؟"هغه بې له ځنډه خپل کیڼ لور ته له ناست کس نه وپوښتل: " نن د څه ورځ ده؟"سړی هیښ شو.سترګې یې ووېستې او په شکمنې لهجې یې وویل: " چارشنبه...نه پنجشنبه،سه شنبه....ډاډه نه و.ده هم تر څنګ ناست مامور نه پوښتنه وکړه : " نن څو شنبه ده؟"

دی حیران پاتې و ،چې څه وکړي.هېڅوک هم نه پوهېده،چې نن د څه ورځ ده؟ په تالار کې ګونګوسې شول.ټولو یو بل نه پوښتنې کولې: " نن څو شنبه ده؟څو شنبه ده؟..." تالار د شنبه،شنبه غږ نه ډک شو.له هر لور

نه د شنبه،شنبه غږ راته . داسې ښکارېدله،لکه د تالار د ګډونوالو تر منځ چې ګرم بحث روان وي.یوه به ويل،سه شنبه.بل به ويل،چارشنبه.بل به غږ وکړ:يکشنبه ،دوشنبه....ناڅاپه د رئيس غږ پورته شو.ټول غلي شول.د رئيس پر لور يې وليدل.ده هم په لړزېدلي زړه رئيس ته وکتل.اوس څو شېبې وروسته ،رئيس به هغه ټولو ته وروپېژني.د رئيس غږ واورېدل شو:

" ورونو!د مخه تر دې چې اصلي موضوع ته راشو،يو له تاسې ما ته ووايئ،چې نن د څۀ ورځ ده؟"

پر سترګو يې تياره راغله . داسې يې وانګېرله،لکه له اتلس پوړيزې ودانۍ چې لاندې غورځېدلی وي.

تر څنګ يې ناست مامور چيغه کړه: " الۍ چې ضعف يې وکړ! ضعف...

ده ضعف نه و کړ . نری زړه يې چوېدلی و ، ولې هېڅوک و نه پوهېد ،چې ولې...؟

单词 لغتونه

在名册上登记，注册，在书上记载	〈阿〉［阳］	/ qaid /	قيد
染黑，涂黑，使成黑色；写	［及］	/ tora'wəl /	تورول
梯子；楼梯	［阳］	/ ar (ə)'kai /	اړکی
火箭	［阳］	/ tughan'dai /	توغندی
使破开，使裂开；爆破，炸开；裂开，破裂；被炸开；被撕开	［及/不及］	/ chə'wəl /	چول
悲痛的，不幸的；悲剧的，悲惨的；发愁的，闷闷不乐的	［形］	/ wir-'jən /	ويرجن
恐惧，害怕，畏惧	〈阿〉［阳］	/ wah'shat /	وحشت
外表；面貌，脸　形式，样子；图画；形象；肖像，照片	［阴］	/ tse'ra /	څېره
召来，叫来，召回；召见（使节）；传……出庭，传到法庭	〈阿〉［阳］	/ ih'za:r /	احضار

疏远的	〈波〉[形]	/ go'ha /	ګوښه
吹；扬（谷物）；倒，撒（在地上）	[及]	/ ba:da'wəl /	بادول
震动，震颤；哆嗦，发抖，颤抖，打颤；战栗	[不及]	/ larze'dəl /	لړزېدل
开，沸，沸腾；被煮	[不及]	/ khute'dəl /	خوټېدل
脏的，污秽的；不干净的	[形]	/ khi'rən /	خیرن
明显；清楚；出现，显得	[不及]	/ ise'dəl /	ایسېدل
诧异的，惊奇的；忧愁的，悲伤的；惊恐不安的	[形]	/ heh /	هیښ
低语，耳语，私语，絮语声	[阳]	/ gungu'sai /	ګونګوسی
想，认为，以为；想象，设想	[及]	/ ange'rəl /	انګېرل
（表示责备）唉，哎；我的天哪	[叹]	/ a'ləi /	الۍ

练习 تمرین

单项选择题。

۱ - جنتري چېرته ده ؟

(ا) پر مېز باندی ده .　　(ب) پر دېوال ځړېږي .

(ج) په کمپیوتر کی الکترونی جنتری شته .　　(د) هغه جنتري نه لري .

۲ - په لاندنیو جملو کې کومه جمله سمه ده ؟

(ا) د عینکی په مرسته هغه اخر په دې پوه شو چې نن د څه ورځ ده .

(ب) ځکه چې هغه عینکی و نه موند ، نو په دې پوه نه شو چې نن د څه ورځ ده .

(ج) ځکه چې د ده جنتری د تېرکال ده ، نو ورته ګټه و نه کړه .

(د) ورځ ورته نه وه معلومه ، نو جنتري ورسره مرسته نه درلوده .

۳- د ده په خیال کې هغه په کومه ورځ کې لاسلیک کړی و .

(ا) نونسمه ورځ (ب) شلمه ورځ

(ج) نن (د) پرون

۴- په لاندنیو جملو کې کومه د ده د حاضرۍ مدیر ته د تللو نیت نه ده ؟

(ا) د حاضرۍ له مدیر څخه وغواړي چې د ده دا تېروتنه رئیس ته و نه وایي .

(ب) وګوري چې نور ماموران د حاضرۍ کومه کوټه توروي .

(ج) د حاضرۍ له مدیر څخه بښنه وغواړي .

(د) په پټه د حاضرۍ په کتاب کې لاسلیک سم کړي .

۵- ماموران ولې دومره وارخطا شوو ؟

(ا) د مامورانو دا وارخطایي د دوی عادي حالت دی .

(ب) د سړک پر سر جګړه شوه .

(ج) توغندي پر ودانۍ وغورځېده .

(د) ځکه چې رئیس صاحب به وینا وکړي .

۶- ولې اوس زړه یې د کاغذ په شان نری شوی و ؟

(ا) ځکه چې هغه په کار کې زیات فشار درلود .

(ب) ځکه چې هغه ډېر ویرجن او ترخې خبرونه واورېدل .

(ج) ځکه چې زړه یې نری او کمزوری و .

(د) ځکه چې هغه تل ویرېږي رئیس یې له دندې ګوښه کړي .

۷- ناڅاپه هغه له چا سره مخ شو ؟

(ا) یو سپین ږیری (ب) همزولی

(ج) د ده رئیس (د) د حاضرۍ مدیر

۸- د هغه مامور په باره کې لاندنۍ تشریح او تصویر کوم سم نه دی ؟

(ا) پروسږکال دوی سره یو ځای په یوه شعبه کې کار کاوه .

(ب) هغه یو مشری سړی دی چې ښاغونه یې نه درلودل .

(ج) ږیره یې خیرنه وه .　　(د) هغه یو ډېر پوه سړی و .

۹- ولې د رئیس پر سترګو تیاره راغله ؟　　(ا) ځکه چې هغه ډېر ضعیف شو .

(ب) ځکه چې هغه له اتلس پوړیزې دوانۍ نه لاندې غورځېدلی و .

(ج) ځکه چې هېڅوک و نه پوهېده چې نن د څه ورځ ده .

(د) ځکه چې هغه ډار شو چې توغندی به راشي .

۱۰- اخر چا دې پوښتنې ته ځواب ورکړ چې نن څو شنبه ده ؟

(ا) هغه عمر خوړلی مامور　　(ب) رئیس

(ج) د حاضرۍ مدیر　　(د) هېڅوک نه پوهېده چې نن څو شنبه ده .

第十四课 څوارسم لوست

لومړی برخه

زوړ سړی او د هغه جاغور

پخوا وختونو کې په یوه کلي کې یو سپین ږیری سړی اوسېده چې ډېر زړه سواندی او مهربانه و . دې سړي یو لوی جاغور درلود . دا جاغور د یوې کڅورې غوندې و . کله به یې چې ډوډۍ خوړله ، نو هر چا به د ده د جاغور خوځېدو ته خندل . د دې سړي په ژوند کې یوازنۍ هیله دا وه چې دغه جاغور څنګه ورک کړي ؟ یوه ورځ د سړي په کور کې لرګي خلاص شوي وو ، دی په لرګیو پسې د غره یوه ګڼ ځنګله ته ولاړ . کله یې چې د لرګیو ګیډۍ وتاړه ، په ډېر زحمت یې ګیډۍ په شا کړ او په کرار کرار خپل کور ته را روان شو . لمر ولوېد، تیاره ورو ، ورو خپرېده . سپین ږیري ته د تیارې له کبله لاره نه ښکارېده او ستړتیا یې دې حد ته ورسېده چې نور یې یو قدم هم نشو پورته کولای . په

دې وخت کې یې د لارې تر څنګ په یوه زاړه کور سترګې ونښتې . فیصله یې وکړه چې شپه هلته تېره کړي . کور ته ورغی ، سپین ږیري خپل پېټی له اوږو څخه ښکته کړ او یوه ګړۍ له ډېرې ستومانتیا نه پر ځمکه باندې اوږد پرېوت . د شپې تیارې ، د کور زړو دېوالونو او چوپتیا ، دی په وېره کې واچاوه . خوب نه ورته .

نو په بدلو يې پيل وکړ ، د شپې په چوپتيا کې يې د آواز انګازې خپرې کړې . کله چې لږ څه ډاډه شو او وېره يې له منځه لاړه ناڅاپه يې يو آواز تر غوږو شو ، ده خپلې بدلې بس کړې ، راپاڅېد او نيغ کښېناست . ګوري چې د کوټې په مخکې لوی ، لوی دېوان کتار ولاړ دي . د هر دېو د سر دپاسه يو لنډ ښکر ليدل کېده ، د هر يوه په خوله کې دوې لويې لويې داړې وې . د هر يوه په غاړه کې د قيمتي ډبرو امېل و . ټولو په لوړ آواز خندل او ګډا اتڼ يې کاوه .

سپين ږيرې ويرې اخيستی و . خو وروسته يې فيصله وکړه : زه بايد هېڅکله د دوی په مخکې خپله ويره څرګنده نه کړم . نو ده بيا په عادي ډول پخپلو بدلو ويلو پيل وکړ . پدې وخت کې د دېوانو مشر د سپين ږيري په اوږو باندې لاسونه کښېښودل او په ډېره مينه يې د ده بدلو ته غوږ نيولی و . نورو دېوانو خپلی نڅا ته دوام ورکړ . سپين ږيری پوهېده که زه دوی ټوله شپه په بدلو مصروف وساتم ، نو زه به د دوی له آزاره څخه خلاص شم . نو دوی ټوله شپه سندرې وويلې او نڅا يې وکړه .

کله چې سپېدې وچاودې ، د دېوانو مشر سپين ږيري ته ور وړاندې شو او و يې ويل : " مونږ پخپل عمر

کې دا ډول آواز نه واوريدلی ، ستا آواز دومره ښکلی دی چې مونږ بيخي پرې مين شوو ، دا ښکلی آواز ستا له کوم ځای څخه راوځي ؟" سپين ږيري وويل : " زما له ستوني څخه. " مګر د دېوانو مشر د سپين ږيري جاغور ته لاس ور وړاندې کړ او وويل : " نه ، نه ، دا سې رامعلومېږي چې دا ښکلی آواز لدې کڅوړې څخه راوځي . مونږ ستا له آواز سره سخته مينه پيدا کړه ، نو ته به دا کڅوړه ضرور پر مونږ خرڅوې . مونږ به تا ته ډېرې طلاوې او قيمتي ډبرې درکړو ." سپين ږيری په زړه کې ډېر خوشاله و او و يې ويل : " ډېره ښه ، دروا يې خلئ ." دېوانو سمدلاسه څه طلاوې او ځيني قيمتي ډبرې سپين ږيري ته ورکړې . لمر څرک ټول دېوان د سترګو درپ سره ورک شول . کله چې سپين ږيري خپل ستوني ته لاس وروړ ، ګوري چې جاغور يې نشته .

سپين ږيري طلاوې او قيمتي ډبرې د لرګيو د ګېډې دپاسه کښېښودې ګېډی يې پشا کړ او د کلي په لور

روان شو . څنګه چې د سپین ږیري ژوند ورځ په ورځ ښه کېده ، نو ټول ورته اریان پاتي وو . کله چې د سپین ږیري د جاغور او شتمنۍ کیسه په کور او کلي کې خپره شوه ، په یوه بل کلي کې یو بل سړی هم د همدې تکلیف سره مخامخ و . کله چې هغه دا کیسه سر تر پایه واورېده ، په مطلب پوه شو ، نو سهار وختي د غره په لور روان شو . هماغه زاړه کور ته سیخ ورغي .

ټوله ورځ یې د دېوانو په انتظار کې تېره کړه . له ډېره انتظاره خوب ورغي . کله چې له خوبه پاڅېږي ، شپه تپه تیاره وه . سړي په سندرو ویلو پیل وکړ . د ده د آواز په اورېدو سره دېوان ټول راغونډ شول . دېوان چې کوټې ته ورننوتل ، ده په خلاصه ټنډه دوی ته ښه راغلاست ووایه . د دېوانو مشر ده ته وروړاندې شو او ورته یې وویل : " ته ډېرې ښې بدلې وایې او خورا ښه آواز لرې ، دا آواز دې له کوم ځای څخه راوځي ." ده سمدلاسه ورته وویل : " دا آواز مې له ستني او لدې کڅوړې څخه راوځي ، نو که تاسې غواړئ چې وا یې خلئ ، زه به دا کڅوره په تاسو باندې خرڅه کړم ."

د دېو له خولې نه بې اختیاره یوه چیغه راووته او و یې ویل : " څو ورځې دمخه همدا ډول کڅوړه مو له یوه بل سړي څخه واخیسته ، خو هغه مونږ ته هېڅ سندرې نه وایي ، مونږ بیا نه غولېږو ." دا خبره لا نه وه خلاصه شوې چې د پخواني سپین ږیري جاغور یې د دې سړي تر زنې لاندې کېښود ، هلته یې کلک ونښلاوه . دېوان ټول ورک شول ، بې وزلی سپین ږیری د دې په ځای چې خپل جاغور ورک کړي ، یو بل یې هم ځانته وګاټه . سړي په دې پېښه ډېر وژړل او ستړی ستومانه د کور خوا ته روان شو .

单词 لغتونه

（鸟的）嗉囊；瘤子	〈波〉[阳]	\ja:'ghur\	جاغر،جاغور
仁慈的，善良的；有同情心的；关心的	[形]	\zrə-s'wa:ndai\	زړه سواندی
口袋；卷，把	[阴]	\ka'tsora\	کڅوره
声音，嗓音；唱；回音，回声	[阴]	\anga:'za\	انګازه
魔鬼，恶魔	〈波〉[阳]	\dew\	دیو

行，队	［阳］	\ka'ta:r\	کتار
门牙，切牙，(人的)犬牙，(蛇的)毒牙	［阴］	\'da:ra\	داړه
欺凌，迫害	〈波〉［阳］	\a:'za:r\	آزار

练习 تمرين

一、回答问题。

۱ - سپين ږيري څه آرزو درلوده ؟

۲ - د سپين ږيري په کور کې څه خلاص شوي وو ؟

۳ - سپين ږيری چېرى لاړ ؟

۴ - ولې دېوان د سپين ږيري جاغور وغوښتل ؟

۵ - د دې کيسې مطلب څه وه ؟

二、填空题。

۱ - يوه ورځ د سړي په کور کې لرګي خلاص شوي وو ، دى ________ لرګيو ________ د غره يوه ګڼ ځنګله ته ولاړ .

۲ - په دې وخت کې يې ________ لاړې ________ په يوه زاړه کور سترګې ________ . فيصله يې وکړه چې شپه هلته تېره کړي .

۳ - کور ته ورغي ، سپين ږيري خپل پېټی له اوږو څخه ښکته کړ او يوه ګړۍ له ډېرې ستومانتيا نه پر ځمکه باندې ________ .

۴ - سپين ږيرى پوهېده که زه دوى ټوله شپه په بدلو ________ ، نو زه به د دوى له ________ څخه خلاص شم .

۵ - کله چې هغه دا کيسه ________ واورېده ، په مطلب پوه شو ، نو سهار وختي د غره په لور روان شو

. هماغه زاړه کور ته ______ ورغي .

三、连线题。

چمته	څنده
ورکېدل	بدل
پای ته رسېدل	خلاصېدل
اړخ	له منځه تلل
سندره	کڅوړه

四、翻译句子。

١- ده هڅه کوله چې د لمر له پرېوتو څخه دمخه کور ته ورسېږي ، خو په دې کار کې بریالی نشو .

٢- سپین ږیری اریان شو او پوښتنه یې وکړه : "تاسې به دا کڅوړه څه ډول زما له ستوني څخه واخلئ ؟"

پدې خبره دېوانو ډېر په زوره وخندل او بیا یې وویل : "ته پدې برخه کې هېڅ فکر مه کوه ، که ته پر مونږ دا کڅوړه خرڅه کړې ، نو مونږ به یې په اسانۍ سره ستا له ستوني څخه لیرې کړو ."

٣- لمر څرک ټول دېوان د سترګو درپ سره ورک شول . کله چې سپین ږیري خپل ستوني ته لاس وروړ ، ګوري چې جاغور یې نشته .

۴- کلي ته چې ورسېده ، هر چا به چې لیده هک پک روته پاتې شو او د ده د جاغور په باره کې به یې خبرې کولې .

۵- د دېو له خولې نه بې اختیاره یوه چیغه راووته او و یې ویل : " څو ورځې دمخه همدا ډول کڅوړه مو له یوه بل سړي څخه واخیسته ، خو هغه مونږ ته هېڅ سندرې نه وایي ، مونږ بیا نه غولیږو ."

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

کجاوه راوړه

وه ، نه وه ، په یوه کلي کې یوه غریبه کورنۍ وه . په دې کورنۍ کې یوه زاړه سړي د خپل زوي ، نږور او یوه وړو کې نمسي سره ژوند کاوه . دې زاړه سړي پخپل ژوند کې خورا ډېرې سختې لیدلې وې . خو اوس دومره زوړ شوی و چې هېڅ کار یې له لاسه نه کېده . نو ژوند یې د زلمي زوي او نږور په غاړه و . کلونه تېرېدل په پای کې دوي ورو ، ورو له ده سره په تنګ شول او ورځ په ورځ د پلار قدر پدې کورنۍ کې کمېده . په اخر کې دې د هغوي د شا پېټې و . بې وزله سپین ږیري ډېرې مرستې ته اړه هم درلوده . خو هېچا ورسره مرسته نه کوله . د کورنۍ پرېښوني او لاس وهني به د ده خوراک و . جامې یې هم ورځ په ورځ زړېدې .

بې وزله سپین ږیري به تل له لوږې او یخنۍ سره مخامخ و . یوائې نمسي به یې خپله برخه ډوډۍ لده سره شریکوله . د ماشوم مور او پلار به تل خپل زوي ته پدې کار باندې ښکنځاوې کولې . د سپین ږیري حالت له یوې ورځې نه بلې ته خرابېده او سودا یې هم مخ په زیاتېدو وه . په دې ترتیب زوي او نږور یې هم ورسره په تنګ شول او حوصله یې له لاسه ورکړې وه . په پای کې زوي او نږور یې پټ یو پلان جوړ کړ چې دې باید ورک شي . نو د زوي ښځې یې د ستي خپل مېړه ته وویل :- بازار ته لاړ شه او یوه کجاوه راوړه .- دی لاړ او یوه ټینګه کجاوه یې راوړه چې د ځنګله له لښتو څخه اوبدل شوې وه . د سپین ږیري زوي وویل :- ښه لاره دا ده چې دی یوه لرې ځای ته یوسو او تر یوې داسې ونې لاندې یې کښېنوو چې د سړک په غاړه ولاړه وي . دا کار دوې ګټې لري ، یوه دا چې پلار به مې بیا کور ته راتللی نشي . بله دا چې د سړک پر غاړه ګوندې د چا زړه پرې وسوزي او د ده ژوند ته به څه پام وکړي .- خو ښځې یې ورته وویل :- دا شا و خوا ګاونډیان که ووایي چې دا سړی څه شو ، نو مونږ به په ځواب کې څه ورته ووایو ؟-

مېړه یې ورته وویل :- دوی ته به وایو چې هغه غوښتل چې خپل پاتې عمر په یوه مقدس ځای کې تېر کړي چې هلته سوله او نیکمرغي وي .- دوی خپل پلان جوړ کړ . خو له دې نه خبر نه دي چې د دوی ماشوم دغه ټول پلان ته غوږ نیولی دی او په هر څه پوه شوی دی . کله چې د ماشوم پلار بازار ته لاړ ، نو ماشوم له خپلې مور

څخه پوښتنه وکړه :- مورې ، تاسې ولې زما بابا له دې کورڅخه شړۍ ؟- مور يې وويل:- نه ، نه ، خبره داسې نه ده . مونږ هېڅکله داسې نه کوو . خو خبره داسې ده چې له يوې خوا زه او پلار دې ډېر کار کوو او له بلې خوا بل داسې څوک نشته چې د ده خدمت وکړي . نو دې به داسې ځاى ته بوزو چې هلته يې ښه خدمت وشي .- ماشوم وويل :- دا ځاى چېرې دى ؟- مور يې وويل:- اوه ، دا ځاى ډېر لرې دى . تا يې بيخي نوم ندى اورېدلي .- ماشوم بيا وويل:- نو څوک به د ده خدمت کوي ؟- مور يې وويل:- زويه ، ته پدې برخه کې هېڅ فکر مه کوه . هلته ډېر ښه خلک شته چې د ده خدمت وکړي .- مور چې هر څومره زيار وايسته چې خپل زوي ته ډاډ گيرنه ورکړي . خو هغه د مور په خبرو قانع نه شو . ماښام چې تياره خپره شوه خپل پلار يې راواخيست او په کجاوه کې يې کښېناوه . نو پلار يې په غمگين آواز وويل:- زويه ، ته په ما څه کوې او چېرته مې وړې ؟- زوي يې وويل:- پلاره ! زه او ښځه مې تر دې زيات نور ستا خدمت نشو کولاى ، نو تا به يوه داسې ځاى ته يوسم چې هلته له تا سره هر څوک مرسته وکړي .- ده په ډېر قهر وويل:- دا خدمت خو تر ټولو نه ته ښه کولاى شې .- له ډېر سوال او ځواب څخه وروسته سپين ږيرى پدې پوه شو چې خبرې يې بې تاثيره دي . ځکه دوي نور نه غواړي چې دي دې دلته واوسي . زوي يې سمدلاسه کجاوه شا ته واچوله او په منډه له کوره ووت . خو نمسي يې لا دمخه غلي چېرې ناست و او پېښه يې څارله . کله چې پلار يې د ده بابا له سترگو پناه کاوه ، نو پخپل پلار يې غږ وکړ :- پلاره ، اې پلاره بابا دې چې يووړ ، گوره چې کجاوه دې هېره نشي او بېرته يې راوړې .

د هلک پلار هک پک اريان پاتې شو . ودرېده او خپل زوي ته يې مخ ورواړاوه او و يې ويل:- زويه ، ستا په دې کې څه مطلب دى ؟ ماشوم پخپله ماشومانه او سپيڅلې لهجه وويل:- پلاره ، کجاوه بېرته راوړه کله چې ته زوړ شوې ، نو زه به دې په همدې کجاوه کې هرومرو وړم او په يوه ځاى کې به دې اچوم .- د ماشوم پلار د دې خبرې په اورېدو سره ځاى په ځاى ودرېد . پښې يې وريږدېدې او ډېر وارخطا شو . د

خپل زوي خبرې ورته د عبرت درس ورکړ . نو يې سمدلاسه د کور خوا ته مخه شوه . او خپل پلار يې بېرته کور ته راوړ . لدې پېښې څخه وروسته به يې د خپل پلار ډېر درناوي او احترام کاوه .

متل: مه کوه په چا چې و به شي په تا .

单词 لغتونه

(挂在驮畜两侧的)驮篮	[阴]	\kaja:'wa\	کجاوه
儿媳妇	[阴]	\ngor\	نږور
孙，堂孙，外孙	[阳]	\nma'sai\	نمسی
担子，货物，驮物；[转]负担，重担	[阳]	\pe'tai\	پېټی
辱骂，责骂，斥责	[阴]	\hkan'dza:\	ښکنځا
(去叶的)细树枝，树条	[阴]	\'lahta\	لښته
神圣的，圣洁的，神圣不可侵犯的	〈阿〉[形]	\muqa'das\	مقدس
燃烧，燃着，着火，怒火	[不及]	\swadze'dəl\	سوځېدل
安慰，安抚；保证，确证	[阴]	\da:dgi'rəna\	ډاډګېرنه
满足的，满意的	〈阿〉[形]	\qa:'ni:'\	قانع

练习 تمرين

单项选择题。

۱- په کور کې څو کسانو ژوند کاوه ؟کوم کوم وي؟

الف) پنځه ـ سپین ږیری ، زوی ، نږور ، مور او نمسی

ب) څلور ـ سپین ږیری ، زوی ، نږور او نمسی

ج) پنځه ـ زوړ سړی ، د زاړه سړي زوی ، پلار ، مور او نمسی

د) شلور ـ زوړ سړی ، زوی ، نږور او ماشوم

۲- دا جمله " دې زاړه سړي پخپل ژوند کې خورا ډېرې سختې ليدلې وې " څه معنا ؟

الف) ده په خپل ژوند کې ډېر سخت او بد سړي ليدلی وي

ب) دی په خپل ژوند کې يو ظلم رسيده سړی و

ج) ده په خپل ژوند کې ډېر ستونزې تيرولې دې

د) دی يو ډير سخت سړی و

۳- په دې کورنۍ کې د زاړه سړي مقام څنګه و ؟

الف)مقام لوړ و ، هغه په کورنۍ کې ډير مهم سړی و

ب) مقام نه درلود ، ځکه چې هغه يو بدخوی سړی و

ج) مقام لوړ و ، هغه تر ټولو مشر و

د) مقام نه درلود ، ځکه چې زوړ و او هغه هېڅ کار نشو کولی

۴- د زاړه سړي زوی کجاوه څرنګه راوړه ؟

الف) د ځنګله له لښتو څخه اوبدل شوې ده

ب) له بازار څخه هغه کجاوه غوښتله

ج) له بازارڅخه هغه کجاوه اخستله

د) له ځنګله څخه پورته کوله

۵- ولی په ماښام خپل پلار يې دباندی بوتلل ؟

الف) په تياره کې به هيڅوک پرې خبر نشي

ب) ماښام به کجاوه راوړي

ج) ماښام يو ښه وخت دی

د) نمسی به پرې خبر نشي

۶-دا جمله " خبرې يې بې تاثيره دي " څه معنا ؟

الف) د ده خبرې هيڅ معنا نه لري

ب) د ده خبرې ښکلي نه دي

ج) د ده خبرې د خپل زوی عمل بدلولی نشي

د) د ده خبرې غلطې دي

۷- ماشوم د خپلې مورې خبرو ته باور درلود ؟

الف) هو ، باور درلود ، هغه ډېر ځوان و

(ب) نه ، باور نه درلود ، د ده په فکر کې بابا ناروغ و

(ج) هو ، باور درلود ، هغه د مور په خبرو قانع شو

(د) نه ، باور نه درلود ، هغه يو هوښيار هلک و

۸- ولی ماشوم خپل پلار ته غږ وکړ چې ٫ پلاره ، کجاوه بېرته راوړه کله چې ته زوړ شوې ، نو زه به دې په همدې کجاوه کې هرومرو وړم او په يوه ځای کې به دې اچوم .٫

(الف) خپل پلار ته کجاوه په ياد ورکړله

(ب) د خپل پلار د عمل د مخه نيولو دپاره

(ج) يوازې د ماشوم خبرې دي ، بله معنا نه لري

(د) و نه غوښتل چې کجاوه په بل ځای کې پاته شي

۹- د دې قيصې په باب لاندنې خبرې کومه سمه ده ؟

(الف) زوړ سړی ښه زوی ، ښه نږور او ښه نمسی لري

(ب) د زاړه سړی زوی له خپل پلار سره مينه لري

(ج) د سپين ږيري نمسی ښه او هوښيار هلک دی

(د) د زاړه سړی نږور له خپل زوی سره مينه نه لري

۱۰- د دې قيصې په باب لاندنې خبرې کومه غلطه ده ؟

(الف) په اخر کې د زاړه سړی زوی په خپل غلط پوه شو

(ب) نمسی له خپل بابا سره مينه لري

(ج) د دې قيصې پای ډېر ښه دی

(د) په اخر کې د زاړه سړی زوی خپل پلار لېری ځای ته بوتللی و

第十五课

پنځلسم لوست

لومړۍ برخه

دوې لارې

د مېز پر سر اېښې مبايل وشرنګېد، را وامې خيست، سترګو ته مې ونيو، زما همکار زلمی و. دی وارخطا مالومېده، له سلام او ځواب پرته يې راته وويل: انجنير صيب! په دروازه کې چې هرڅوک دي ورته ووايه، چې زما موټر تلاشي نه کړي، يو پټ راز دی، دومره باور راباندې وکړه، دا راز له تا پرته بل چاته نه شم ويلای. ځواب مې ورکړ: سمه ده، خو هسې نه چې په کوم غم مې وانه ړوې.

ډاډ يې راکړ، مبايل مې بېرته د مېز پر سر کېښود، په دروازه کې ولاړې غرفې ته مې زنګ وواهه. لږ ځنډ وروسته د شعبې دروازه را وټکېده، ومې ويل: راځئ مهرباني وکړئ. د دروازې له خلاصېدو سره مې په زلمي سترګې ولګېدې، رنګ يې ژېړ و، تور ښځينه د سينګار بيک يې د مېز پر سر کېښود.

يوه شېبه دواړو پټه خوله يو بل ته کتل، په چوکۍ د کېناستو اشاره مې ورته وکړه، ورو مې وويل: خيرت دی؟ تا خو ويل چې نن په ساحه کې کار نه لرم، اجازه دې واخيسته، چې کومې خواته لاړ شې او چکر ووهې؟ سترګې يې راپورته کړې: لاړم، چکر مې وواهه او دا دې بېرته راغلم. په پوښتونکي نظر مې ورته وکتل: دومره ژر؟ دا بيک د چا دی؟ سمه کيسه راته وکړه، خبره څه ده، کوم غم دې نه وي راوړی!

زلمی په چوکۍ کې راسم شو: انجنير صيب خدای مې پردې وکړې، نيږدې و، په لوی غم واوړم، په لاره کې يوې ښځې موټر ته لاس راکړ، يوازې وه، زړه مې ورباندې وسوځېد، د شا سيټ ته را وختله، ورته ومې ويل، خاله کومې خواته ځې؟ ځواب يې راکړ: ته يو ځل حرکت وکړه، بيا به درته ووايم. موټر ته مې حرکت

ورکړ، آینه مې سمه کړه، ورته ومې کتل: دا یې حرکت، اوس خو ووایه، چې کومې خوا ته ځې؟ له چادر څخه یې لاسونه را وایستل، تک سپین ښکارېدل، له چپې اوږې نه یې بیک را واخیست او په خپلو ورنونو یې کېښود، په خندا یې ویل: که دا پوښتنه له تا څخه وکړم؟ د دې د لاسونو په لیدو سره، په خیال کې ډېر څه راتېر شول، په زړه کې په خبرو شوم، لاسونه خو یې ښایسته دي، تک سپین دي، خبرې یې هم ډېرې خوږې ښکاري، مینه ناکه ښځه مالومېږي، خدای خبر چې نوره به څنګه وي...

له ځانه سره په همدې سوچونو کې وم، چې ښې مټ ته مې یې لاس راوړ، ویې ویل: ولې بې ځوابه شوې، که په کوم چرت کې لاړې؟ ټکان مې وخوړ، په اینه کې مې ور وکتل، چادري یې پورته کړې وه، په ځان یې خواري ایستلې وه، ښکلې او جذابه ښکارېدله. ورته ومې ویل: امممم نه چرت نه وهم، هسې زه هم نن چکر ته راوتلی یم، کوم ټاکلې ځای ته د تګ نیت نه لرم. په شونډو یې موسکا وغزېده: څومره ښه، څه کاروبار او مصروفیت؟ سترګې مې د آینې په خوا ورپورته کړې: په یوه ساختماني شرکت کې کار کوم، تاسې څه کاروبار کوئ؟ ویې ویل: ازاد کار کوم. ومې پوښتل: پوه نه شوم؟ ویې ویل: خیر دی، دا خبرې پرېږده، اوس دا ووایه چې معاشونه مو څنګه دي؟ پیسې لږ لږ که ډېرې؟ غاړه مې تازه کړه: څه ووایم، ښه یو ګوزاره مو کېږي، خو پیسې کوم ارزښت نه لري. په زوره یې وخندل: مصرفوې یې کنه؟ ځواب مې ورکړ: هو ولې نه، خو چه ځای یې راشي، پیسې خو دي د مصرف لپاره، که نور نه وي، ستا لپاره خو به یې مصرف کړم، موټر مې ودراوه، مخ مې ور واړاوه.

را ځه د مخ سیټ ته نه راځې؟ بیک یې د موټر د ګېر تر څنګ کېښود، د مخ سیټ ته راغله، له بیک څخه یې مبایل را واخیست، یوه شمېره یې پکې ولیکله، او په خندا یې راته وویل: ښه وایه نور څنګه یې؟ موټر ته مې حرکت ورکړ، بد نه یم. لاس یې زما په ورانه کېښود، ویې خوځولم، ویې ویل: یوې خبرې ته مې ښه غوږ ونیسه. امر کوه، څه فرمایش لرې؟

په ترېو تندي یې راته وکتل، مخ ته مې یې یو کارت ونیو، په امنیت کې یم، دوې لارې لرې، یوه دا چه په جیبونو کې دې چه څومره پیسې دي ټولې را وباسه او بله دا چه، پولیسو ته زنګ وهم، ورته وایم، چه په سپکه یې راته وکتل.

په بدن مې لړزه راغله، زندان، بد نوم، په ټولنه کې په ټیټو سترګو ژوند کول، دا هرڅه مې سترګو ته

ودرېدل، ورته ومې ويل: دا ته څه وايې، اعصاب دې خراب دي، که څنګه؟ دا سې مه کوه، که غريبه يې نو همداسې به در سره مرسته وکړم، خو دا کار ښه نه دی، هم ستا نوم بدېږي او هم زما. په تونده لهجه يې راته وويل: خبرې مه کوه، زما د پوښتنې ځواب راکړه، کومه يوه را سره منې؟

ارزان قيمت ته يو څه لاره پاتې وه، له بازار څخه وتلی وم، تر شا او مخکې مې موټر نه ښکارېدل، د موټر سرعت مې کم کړ، نېژدې ؤ، چه ودرېږي، زړه مې وکړ، په يوه لاس مې د دې د خوا دروازه خلاصه کړه او په بل لاس مې په ټول قوت دا ټېله کړه، له موټر نه ولوېده، دروازه مې را بنده کړه، کليمه مې وويله او د موټر په اکسلېټر مې پښه ټينګه کړه.



له وېرې مې ترشا هم ور نه کتل، دفتر ته نيږدې شوی وم، چې په بيک مې يې سترګې ولګېدې، وارخطا شوم، لکه چې اوس هم دا راسره ناسته وي، او خدايه! دا بيک اوس څنګه کړم، د دې بازار په منځ کې خوېې غورځولی هم نه شم، ژر مې له غاړې څخه د سمال راخلاص کړ او بيک مې پکې ونغښت، تا ته مې ځکه زنګ ووه، چې نور څوک راباندې پوه نه شي او په موټر کې د ښځې د سينګار بيک ونه ويني.

单词 لغتونه

厅，室，馆	〈阿〉[阴]	/ghur'fa/	غرفه
部门；分支	〈阿〉[阴]	/sho''ba, shu''ba/	شعبه
装饰，打扮	[阳]	/singa:r/	سينګار
鱼叉	[阳]	/biak/	بيک
空间，地方；厂房	[阴]	/sa:'ha/	ساحه

被绊，吃绊	［阳］	/ṭə'ka:n/	ټکان
建造的，建设的	〈波〉［形］	/sa:kht-ma:'ni:/	ساختماني
工资，薪金	〈阿〉［阳］	/ma"a:sh/	معاش
颤抖，哆嗦	〈波〉［形］	/laṛ'za/	لړزه
神经	〈阿〉［阳］	/'a'sab/	عصب
推，推开	［阳］	/ṭel/	ټېل
头巾，围巾	［阳］	/das'ma:l/	دسمال

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- ددغه مقاله د عنوان مطلب څه دی؟

۲- انجنیر څه کاربار وکړ؟

۳- د هغه ښځه جوله څنګه ده؟

۴- ممکنه ده چه هغه ښځه څه کاربار وکړ؟

۵- زلمی کومه لاره انتخابه وکړه؟

二、填空题。

۱- یوه شېبه دواړو __________ یو بل ته کتل، په چوکۍ د کېناستو اشاره مې ورته وکړه، ورو مې وویل: خیرت دی؟

۲- انجنیر صیب خدای مې پردې وکړې، نیږدې و، په لوی غم واوړم، په لاره کې یوې ښځې موټر ته __________ راکړ، یوازې وه، زړه مې وربانديې وسوځېد، د شا سېټ ته را وخته، ورته ومې ویل، خاله کومې خواته ځې؟

۳- موټر ته مې ________ ورکړ، آينه مې سمه کړه، ورته ومې کتل: دا يې حرکت، اوس خو ووايه، چې کومې خوا ته ځې؟

۴- د موټر سرعت مې ________، نېژدې ؤ، چه ودرېږي، زړه مې وکړ، په يوه لاس مې د دې د خوا دروازه خلاصه کړه او په بل لاس مې په ټول قوت دا ټېله کړه، له موټر نه ولوېده، دروازه مې را بنده کړه، کليمه مې وويله او د موټر په اکسلېټر مې ________ ټينګه کړه.

۵- دا بيک اوس څنګه کړم، د دې بازار په منځ کې خوېې غورځولی هم نه شم، ژر مې له غاړې څخه ________ راخلاص کړ او بيک مې پکې ونغښت.

三、连线题。

سينګار	انشعاب
معاش	منديل
شعبه	بخت
مصروف	تنخاه
چادر	زينت

四、翻译句子。

۱- په دروازه کې چې هرڅوک دي ورته ووايه، چې زما موټر تلاشي نه کړي، يو پټ راز دی، دومره باور راباندې وکړه، دا راز له تا پرته بل چاته نه شم ويلای.

۲- تا خو ويل چې نن په ساحه کې کار نه لرم، اجازه دې واخيسته، چې کومې خواته لاړ شې او چکر ووهې؟

۳- خير دی، دا خبرې پرېږده، اوس دا ووايه چې معاشونه مو څنګه دي؟ پيسې لږ لږ که ډېرې؟

۴- هو ولې نه، خو چه ځای يې راشي، پيسې خو دې د مصرف لپاره، که نور نه وي، ستا لپاره خو به يې مصرف کړم، موټر مې ودراوه، مخ مې ور واړاوه.

۵- دا ته څه وايې، اعصاب دې خراب دي، که څنګه؟ داسې مه کوه، که غريبه يې نو همداسې به در سره مرسته وکړم، خو دا کار ښه نه دی، هم ستا نوم بد بېږي او هم زما.

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

نوی ژوند

مازدیگر د کور په لور روان وم چې په یو نابلده نمبر زنګ راغي له لږ ځنډ وروسته مې ځواب ورکړ.

«بلی» «آه څوک يې؟ نعمت الله پېژنی؟» «بلی ، پېژنم يې خو تاسو څوک یاست؟»

«زه د پولیسو د قومنداني څخه خبری کوم. تاسو همدا اوس قومندانی ته راشئ ، د نعمت الله په اړه خبری درسره کوم»

ډېر مې فکر خراب شو پريشانه شوم او په چټکو ګامو د قومندانی په لوری روان شوم.

د قومندانی په انګړ کې پولیس ولاړ وو او زما انتظار يې کاوه، کله چې يې زه ولیدم ، د پولیسو قومندان رامخ ته شو او و يې ویل« ته د نعمت الله انډیوال يې؟»

«هو زه یم، څه خبره ده؟» «راځه، موټر ته راوخېژه»

ډېره وبېرېدم په عاجزی سره مې بیا وپوښتل «څه خبره ده؟»

د پولیسو د قومندان غټ برېتونه او غټې سترګی وې او په ډېر قهر او غضب يې مخ راواړاوه او په پنډ آواز يې راته وويل «نعمت الله مړشوی دی،خو موږ فکر کوو چې کوم چا به وژل وی، د وروستی ځل لپاره يې تاته زنګ وهلی و ،ځکه مو ته راوغوښتې»

د دې خبری په اورېدو سره نور هم وارخطا شوم په همدې فکر کې وم چې موټر د یوې هدیرې مخې ته ودرېد ، د روغتون امبولانس ولاړ و ، د پولیسو قومندان نژدی ورغی

« د متوفی د دوستانو څخه څوک را اغلی دی؟» «نه آمرصاحب ، هیڅوک ندي راغلي»

«د عدلی طب راپور آماده شوی دی؟» «نه صاحب ، يو څو ساعته وروسته چمتو کیږي»

د نعمت الله جنازه ښخه شوه او زه يې د پولیسو قومندانی ته بوتلم ، قومندان راته وويل «موږ د متوفی کورنۍ سره اړیکی ونیولې خو جنازې ته هیڅ څوک رانغلل، موږ ته دا قضیه مشکوکه معلومېږي او د وروستی ځل لپاره نعمت الله ستاسره په تیلیفون کې خبری کړي وې ترڅو چې د عدلی طب څخه د ده د مړینی

په اړه راپور راځی غواړم ستا څخه واورم چې موضوع څه ده.»

زه ډیر بېرېدلی وم خو بله چاره نه وه هغه څه چې پدې نږدو کې د نعمت الله په ژوند کې پېښ شوي وه داسي مې پیل کړ.

نعمت الله یوه مهربانه مېرمن ، دوې لونې او دوه زامن درلودل . اولادونه یې ځوانان شوي وو . د ده کاروبار هم ډیر ښه و . د ګاونډی هیوادو او د هیواد د ځینو ولایتو څخه یې تجارتی توکی واردولې خو کله کله به یې د خپل ژوند څخه ماته شکایت کاوه او د بل واده خبری به یې کولې.

یوه ورځ چې دی د کاروبار لپاره بل ولایت ته تللی و . په یوه خصوصی بانک د یوې ښکلی ښځی سره مخامخ شو چې په هغه بانک کې یې کار کاوه . هغی هم په ډیره مینه د ده هرکلی وکړ ، د هغې ژړ وربېښتان،شنې سترګی او اوږده باڼوګانو د نعمت الله په زړه کې د مینې غشی ښخی کړې.

ده به هره ورځ په بیلابیلو بهانو بانک ته ورتلی او د هغې سره به یې لیدل . هغې هم د ده ښه هرکلی کاوه ترڅو چې د دوی لیده کاته د بانک څخه هوټلونو ته ورسېده، ده د دې ښځی سره چې سرینا نومېده ، خوشحالي ورځی تیرولې،هغې به په ډېر ناز سره خبری کولې او کله چې به یې ده ته کتل ، نو باڼوګان به یې ژر ژر رپولې. د هغې دې نازونو د نعمت الله ټول پام ځان ته اړولی و ، دی به چې کله ماښام کوټې ته راغی ، ټوله شپه به د دې په فکر کې ډوب و ، وروسته یې پرېکړه وکړه چې د دې سره یو نوی ژوند پیل کړي.

همدارنګه یې یوه ورځ سرینا ته وویل. «آیا زما سره واده کوې؟»

سرینا چې یوه ډېره چالاکه ښځه وه ، وویل «تاسو خو یوه ښځه او اولادونه لري، بل واده څنګه کولای شی.» «هو ، خو زه اوس خسته شوی یم، غواړم ستا سره یو نوی ژوند پیل کړم»

«خو زه نه غواړم چې د یوه متاهل سړی سره واده وکړم.»

«ګوره سریناجانی ، زه به ستا لپاره جلا کور او ژوند برابر کړم ، هر څه به درکړم»

«هغه خو حتمی خبره ده . خو لویه ستونزه ستا مېرمن ده، زه نشم کولی چې ستاسره واده وکړم.»

دی ډېر پریشانه شو ، کوټې ته راغی او ټوله شپه په همدې فکر کې و چې څه وکړی د یوې خوا مېرمن او اولادونه ، د بلی خوا د سرینا ژړ وربښتان،شنې سترګی ، اوږده بانوګان او دا نازو نزاکت.

نعمت الله خپلی مېرمنی ته طلاق ورکړ او بیرته سرینا ته ورغلی ، خو سرینا د هغه د ښځی په طلاقېدو راضی ونه کړه . د یو لوی کور،موټر،زر او داسی نور قیمتی سامان غوښتنه یې هم وکړه چې نعمت الله ورته پوره کړل. دوی د واده لپاره تیاری نیولې،خو د واده د مراسمو لپاره نورو پیسو ته هم اړتیا پیدا شوه . له دې لپاره نعمت الله اړ شو ترڅو خپل دکان خرڅ کړي . له دې کار سره یې زامن هم بیروزګاره شول،خو ده پیسې واخیستلې او ولاړ، ډېر خفه و په فکر کې ډوب و، له ځانه سره یې وویل هر څه مې له لاسه ورکړل اوس خو د سرینا سره یو نوی ژوند پیلوم .

له موټره کښته شو، د سرینا د کور په لوری روان شو .کله چې کور ته نږدې شو، ګوری چې د کور دروازه خلاصه ده او یو څو نابلده کسان په انګړ کې ولاړ دي . ده شاوخوا وکتل له ځانه سره یې فکر وکړ چې شاید کور یې غلط کړی وی، خو نه، کور هغه و. د پوښتنې نه وروسته دی په دې پوهېده چې سرینا دا کور بل ته خرڅ کړی و .

د دې خبری په اورېدو سره دی پوه شو چې څومره لویه غلطی یې کړې ده.

زه یې یوازنی ملګری وم چې د ټولو حالاتو څخه یې خبرولم ، خو د وروستی ځل لپاره یې چې زما سره خبری وکړې ډیر غمجن او زهیر و او وروستی جمله یې ماته داسی وویل. (ما لویه اشتباه کړې، باید سزا یې هم ووینم،دخدای په امان.) زه هم ډېر وارخطا شوم ،هڅه مې وکړه چې ورشم او مرسته ورسره وکړی ،خو هغه خپل پته رانه کړه. په همدې حال کې د عدلی طب څخه د نعمت الله د مرګ په اړه راپور راغی په راپور کې لیکل شوي وو چې په یوه وخت د زیاتو درملو د خوړلو له کبله یې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

单词 لغتونه

虚，虚弱，弱小，无力	〈波〉[阴]	/'a:ji'zi: /	عاجزي
髭，小胡子	[阳]	/ bret /	برېت

粗野的，粗鲁的，不礼貌的，急燥的，生硬的	[形]	/ pənd /	پنډ
墓地，陵园	[阴]	/ hadi’ra /	هديره
死者	[阳]	/ mutawa’fai /	متوفی
法院的	〈阿〉[形]	/‘ad’li /	عدلی
可疑的，有嫌疑的	〈阿〉[形]	/ mash’ku:k /	مشکوک
职业，事业；事务，工作	[阳]	/ ka:’ru-’ba:r /	کاروبار
睫毛	[阳]	/ ba:’nu /	باڼو
箭	[阳]	/’ghəshai /	غشی
灵活的，敏捷的，麻俐的	〈波〉[形]	/ cha:’la:ka /	چالاکه
疲劳的，疲倦的，疲乏的	〈波〉[形]	/ khas’ta /	خسته
结了婚的，有妻子的，有家室的	〈阿〉[形]	/ mula’a’hil /	متأهل
文雅，优雅，优美，雅致	[阳]	/ naza:’kat /	نزاکت
分离，分开；离婚	〈阿〉[阳]	/ ta’la:q /	طلاق
没有职业的，没有生计的，没有工资收入的	〈波〉[形]	/ be-roz’ga:ra /	بې روزګاره

练习 تمرين

单项选择题。

۱- چا ليکوال ته ټيليفون وکړ؟

(ا) ملګری　　(ب) همکار

(ج) پوليس　　(د) نعت الله

۲- ولی پولیس لیکوال د پولیسو قومندان ته وغوښته ؟

(ا) پولیس اټکل کړ چې لیکوال نعمت الله ووژه .

(ب) نعمت الله مړ شو او د وروستی ځل لپاره یې لیکوال ته زنګ وهلی و .

(ج) د نعمت الله ټیلیفون د لیکوال سره و .

(د) ځکه چې نعمت الله او لیکوال ترمنځ تجارتی جنجال شته .

۳- د متوفی د دوستانو او خپلوانو څخه څوک راغلی و ؟

(ا) یوازې مور یې راغلی وه.　　(ب) یوازې زوی یې راغلی و.

(ج) مېرمن یې راغلی وه　　(د) هېڅوک نه وه راغلی .

۴- نعمت الله څو اولادونه درلودل ؟

(ا) ۱　　(ب) ۲　　(ج) ۳　　(د) ۴

۵- ولی نعمت الله کله کله لیکوال ته شکایت کاوه ؟

(ا) ځکه چې کاروبار یې ښه نه و.

(ب) ځکه چې اولادونه یې ډېر شوخ وو.

(ج) ځکه چې هغه له خپل مېرمن سره خسته شوی و.

(د) ځکه چې لږ ملګري یې درلودل .

۶- نعمت الله لومړی ځل په کوم ځای کې له سرینا سره مخامخ شو ؟

(ا) په باغ کې　　(ب) په هوټل کې

(ج) د نعمت الله په شرکت کې　　(د) د سرینا په شرکت کې

۷- په لاندنیو خصوصیتونو کې کوم خصوصیت سرینا نه درلود .

(ا) ژړ ورېښتان　　(ب) غټې سترګې

(ج) اوږد بانوګان　　(د) نا زو نزاکت

۸- په دې لاندنیو غوښتنو کې کومه غوښتنه د سرینا له خوا وړاندی شوی نه وه ؟

(ا) له خپل مېرمن سره طاق کړي .　　(ب) لوی کور او موټر

(ج) زر او نور قیمتي سامان (د) د واده مراسم باید شاندار وي .

۹- ولی لیکوال د نعمت الله د مرګ مخه ونه نیوله ؟

(ا) ځکه چې لیکوال په هغه وخت کې ډېر بوخت و .

(ب) ځکه چې هغه په دې و نه پوهېده چې نعمت الله چېرته و .

(ج) ځکه چې نعمت الله د لیکوال خوښ نه و .

(د) ځکه چې لیکوال و نه غوښت چې ور سره مرسته وکړي .

۱۰- نعمت الله څنګه مړ شو ؟

(ا) خود کشي

(ب) بل چا وواژه

(ج) په یوه وخت د زیاتو خوراکو د خوړلو له کبله مړ شو .

(د) د مریض له کبله مړ شو .

词汇表

ا		
荣誉，名誉，名声，光荣；尊敬，敬意	［阳或阴，无复］	آبرو
臣民；公民，国民	［阳复］	اتباع
火山	〈波〉［阳］	آتش فشان
支撑，支柱；依靠，指望，指靠	［阴］	اتكأ
小心，谨慎，慎重，思考周到；明理	〈阿〉［阳］	احتياط
召来，叫来，召回；召见（使节）；传……出庭，传到法庭	〈阿〉［阳］	احضار
下一世	〈阿〉［阴］	آخرته
诚心，诚意，真诚；友谊	〈阿〉［阳］	اخلاص
妈妈	［阴］	ادي
宽的，宽广的，辽阔的	［形］	ارت
教导，指导，指示；训	〈阿〉［阳］	ارشاد
（宗教）教义，信条	［阳复］（ركن的复数）	اركان
希望，要求	［阳］	ارمان
欺凌，迫害	〈波〉［阳］	آزار
考验	［阳］	ازميښت
祖先	［阳］	اسلاف
公正，公平，公道；正义；中庸，温和	〈阿〉［阳］u	اعتدال
荣誉，光荣；敬重，尊敬，爱戴	〈阿〉［阳］	اعزاز
光荣，荣誉；自豪，自尊心，骄傲	〈阿〉［阳］	افتخار
使飞翔，使飞行	［及］	الوزول
（表示责备）唉，哎；我的天哪	［叹］	الی
阿门，心愿如此，愿主准我所求	〈阿〉	آمين

瞬间，刹那，瞬息间，顷刻间	〈阿〉[阳]	آن
批评，评论，评价	〈阿〉[阳]	انتقاد
搬，挪，移；运输，运送；输送，传导	[及]	انتقالول
编辑；写作；文体，体裁	〈阿〉[阴]	انشأ
公正，公平，公道；正义	〈阿〉[阳]	انصاف
奖赏，奖励，褒奖；奖金	〈阿〉[阳]	انعام
无花果	[阳，单或复]	انځر
声音，嗓音；唱；回音，回声	[阴]	انګازه
想，认为，以为；想象，设想	[及]	انګېرل
工具，器具；兵器；农具	[阳]	اوزار
捐助，捐献；慷慨，旷达，大方	〈阿〉[阳]	ايثار
发明，创造	〈阿〉[阳]	ايجاد
拖延，推迟；限制，约制	[及]	ايسارول
明显；清楚；出现，显得	[不及]	ايسېدل
梯子；楼梯	[阳]	اړکی
ب		
吹；扬（谷物）；倒，撒（在地上）	[及]	بادول
脸，面孔；面颊	[阳]	بارخو
厨房	〈波〉[阳]	باورچي خانه
睫毛	[阳]	باڼو
炉子，火炉	[阴]	بخارۍ
吝啬的，小气的	〈阿〉[形]	بخيل
不幸的，倒霉的	[形]	بدبخت
破坏，毁坏；灭亡，死亡，毁灭	[形]	برباد
超出的，超过的；高出的	[形]	برسېره
力，力量；威力；威严，威风	[阳]	برم

髭，小胡子	[阳]	برېت
视觉，目力；洞察力，远见	〈阿〉[阳]	بصيرت
监狱看守，狱卒；监狱长	[阳]	بنديوان
（苍蝇，蜜蜂等的）嗡嗡声，营营声；铮铮声；絮语声	[阳]	بنګ
勇敢的，英勇的	〈波〉[形]	بهادر
塞口物	[阴]	بوجه
锯屑，木屑	[阴]	بوره
灌木；植物，草木	[阳]	بوټی
鱼叉	[阳]	بيک
烧砖炉	[阴]	بټۍ
腰带，裤带	[阴]	بډه
（轻便）马车	[阴]	بګۍ
（蚊蝇）嗡嗡作响	[不及]	بنېدل
没有职业的，没有生计的，没有工资收入的	〈波〉[形]	بې روزګاره
پ		
决定，打定注意，下决心	[及]	پتېيل
砖窑；熔炉	[阴]	پجه
平衡，均衡；（秤）称；对比	[阴]	پرتله
戴面罩的	〈波〉[形]	پرده پوش
零件	〈波〉[阴]	پرزه
倒下，被推倒	[不及]	پرزېدل
有节制的，不过分，适度的	〈波〉[形]	پرهېزكار
飞，飞行，飞翔	〈波〉[阳]	پرواز
粗野的，粗鲁的，不礼貌的，急燥的，生硬的	[形]	پنډ
碗	[阴]	پياله

老人;(伊斯兰教的)长老	〈波〉[阳]	پیر
飞行员，航空员	〈英〉[阳]	پیلوټ
毛披肩，毛披巾	[阳]	پټو
绷带	[阴]	پټۍ
段，阶段	[阳]	پړاو
声音	[阴]	پړقا
仰面朝天的，仰面躺下着的	[形]	پړمخ
宽大，宽恕，慈悲，恩惠	[阳]	پېرووالی
工作，习俗	[阴]	پېشه
预言，预告；预报，预测	〈波〉[形]	پېشګوئي
嘲笑，辱骂；讽刺，挖苦；责备，指责，责难，斥责	[阳]	پېغور
担子，货物，驮物；[转]负担，重担	[阳]	پېټی
ت		
水池；池塘	[阳]	تالاو
铜	[阴]	تانبه
(汽车或道路)拐弯	[不及]	تاوېدل
被缠上，被绕上	[不及]	تاوېدل
灾难，灾祸；抢劫，洗劫	[阳]	تاړاک
关卡；哨所	[阴]	تانه
被破坏的，被毁坏的；被毁灭的，被消灭的	〈波〉[形]	تباه
暗淡的，微弱的；深的，暗的	[形]	تت
恢复，重新开始；更新	〈阿〉[阳]	تجدید
改变，变更；过渡，转变	〈阿〉[阳]	تحول
破坏、毁坏	[阳]	تخریب
籽实，籽儿；谷粒，种籽	[阳]	تخم

想象的	[形]	تخيلي
鼓励，勉励，促使，推动	〈阿〉[阳]	تشويق
互相帮助，合作，协作	〈阿〉[阳]	تعاون
(工作)暂停；停止，停顿	〈阿〉[阳]	تعطيل
属于，附属于；关系，联系	〈阿〉[阳]	تعلق
教学的，教务的；有教益的，有教导作用的	〈阿〉[形]	تعليمي
变化，变动，改变，变更	〈阿〉[阳]	تغير
分开，分离；不一致，分裂	〈阿〉[阴]	تفرقه
思考，考虑，想；沉思，瞑想；思维，思想	〈阿〉[阳]	تفكر
优越，优势	〈阿〉[阳]	تفوق
模仿，仿效；追随	〈阿〉[阳]	تقليد
意向，意图，企图，打算	[阳]	تکل
靠，倚，依赖；支撑；支架，支柱	〈阿〉[阳]	تکيه
手枪	[阴]	تمانچه
话语	[阴]	تميزې
工资，薪水	〈波〉[形]	تنخواه
额，前额，脑门	[阳]	تندى
染黑，涂黑，使成黑色；写	[及]	تورول
火箭	[阳]	توغندى
	ټ	
轮胎，车胎(尤指外胎)	〈英〉[阳]	ټاير
家族，宗族；部落，部族	[阳]	ټبر
帽子	[阴]	ټوپۍ
推，推开	[阳]	ټېل
	ج	
(鸟的)嗉囊；瘤子	〈波〉[阳]	جاغر، جاغور

处罚；报应	〈阿〉[阳]	جزأ
身体的，驱体的，肉体的；体力的 ；物质的，有形的	〈阿〉[形]	جسماني
会议，集会，大会	〈阿〉[阴]	جلسه
平原	[阴]	جلگه
飞机	〈阿〉[阳]	جهاز
激动；兴奋	〈波〉[阳]	جوش
宝石，珍珠，珠宝；精髓，精华	〈阿〉[阳]	جوهر
衣袋，兜	〈阿〉[阳]	جيب
چ		
伯母，大娘；婶	[阴]	چاچي
灵活的，敏捷的，麻俐的	〈波〉[形]	چالاکه
大土罐，大桶	[阴]	چاټی
突然袭击，突然侵入，侵犯	[阳]	چپاو
一块	[阴]	چکی
市场	〈波〉[阳]	چوک
使破开，使裂开；爆破，炸开；裂开，破裂；被炸开；被撕开	[及/不及]	چول
ځ		
跑，奔跑；赛跑	[阳]	ځغاست
受折磨,(感到)痛苦；伤心，痛心，不快	[不及]	ځوربدل
仔细地看，细心察看；深思，研究；注意，留心	[阳]	ځير
څ		
家畜，牲口，牲畜	[阳]	څاروی
tsən’dəl, tsan’dəl [及]摇动，摆动，抖动；打落，打掉(如尘土)		څنډل

（纸）条，（布）条；碎片	［阴］	ځيره
外表；面貌，脸；形式，样子；图画；形象；肖像，照片	［阴］	څېره
ح		
计算；算术；算盘	〈阿〉［阳］	حساب
围墙，护墙；包围，封锁	〈阿〉	حصار، ايسار
守卫，保卫；保护	〈阿〉［阳］	حفاظت
权力，权利	〈阿〉［阳］	حق
讲述，叙述	〈阿〉［阳］	حکايت
生命；生存；存在	〈阿〉［阳］	حيات
خ		
爬行，匍匐	［阴复］	خاپوړې
仆人，佣工，雇员	〈阿〉［阳］	خادم
思维，想法，念头	〈阿〉［阳］	خاطر
原棉布；帆布，帐篷布	［阴］	خامتا
主人，所有者；（某种品质，性质的）享有者	［阳］	خاوند
臆造，无中生有，谎言	〈阿〉［阳复］	خرافات
疲劳的，疲倦的，疲乏的	〈波〉［形］	خسته
有同情心的，同情的有怜悯心的，怜悯的	［形］	خواخوږی
不幸的人，可怜人	［阳］	خوارکی
内心的秘密；心里话；坦白的话，不加掩饰的话	［阴］	خواله
分解，解体	［不及］	خورېدل
保存的	［形］	خوندي
开，沸，沸腾；被煮	［不及］	خوټېدل
开，沸，沸腾；被煮	［不及］	خوټېدل
移动；晃动	［不及］	خوځېدل

发酥的；脆弱的	［形］	خوړین
脏的，污秽的；不干净的	［形］	خیرن
浸湿，使潮湿；泡透	［及］	خیشتول
泥，泥土	［阴］	خټه
	د	
大流士	［阳］	داریوش
跳，跳跃	［及］	دانګل
门牙，切牙，(人的)犬牙，(蛇的)毒牙	［阴］	داړه
头巾，围巾	［阳］	دسمال
分贝	［阳］	دسیبل
循环，回转，回旋，转	〈阿〉［阳］	دوران
倒入，倾入，撒，散布，散	［及］	دوړول
魔鬼，恶魔	〈波〉［阳］	دیو
	ډ	
害怕，恐惧，畏缩	［不及］	ډارېدل
武装匪帮，武装匪徒	［阴］	ډاکه
安慰，安抚；保证，确证	［阴］	ډاډګېرنه
邮局，邮政总局	［阴］	ډاکخانه
淹没的，浸没的	［形］	ډوب
	ر	
(官吏的)衔，官衔，官阶，官等，官级；官位，职位	〈阿〉［阳］	رتبه
图纸，图，图画，图样，图案	〈阿〉［阳］	رسم
草绳，绳子	［阴］	رسۍ
缝上，钉上；治疗；修理，修补；修改，改正	［及］	رغول
速度	［阳］	رفتار

走的，进行的，动身的，出发的	［形］	رهی
慢慢地，一步步地	［副］	رو
传闻，传说；故事，轶事，传奇，小说	〈阿〉［阳复］	روایت
根，茎，基础	［阴］	رېښه
ز		
有力的，强有力的，强大的；有权力的，威严的	〈波〉［形］	زبردست
生育，出生	［及］	زوکول
挂，悬，吊起	［及］	زوړندول
仁慈的，善良的；有同情心的；关心的	［形］	زړه سواندی
好消息	［阳］	زېری
ژ		
解放，解除，拯救，使……摆脱；保存，放，保管好，爱护，保重	［及］	ژغورل
生活，生存	［阳］	ژواک
س		
空间，地方；厂房	［阴］	ساحه
建造的，建设的	〈波〉［形］	ساختماني
弄脏的，弄污的，染污的，混浊的，发浑的，不清的	［形］	سپېره
家长（族长）	［阴］	ستانه
平伏，跪倒，礼拜	［阴］	سجده
表面上的，外表的；肤浅的；潦草的，粗心的；轻率的	〈波〉［形］	سرسري
濒死的状态，咽气	［阴］	سلګۍ
［及］装饰，点缀，打扮	［及］	سمبالول
安排好的，整顿好的	［形］	سنبال

疏忽地，粗心地，马马虎虎地；错误地	〈阿〉[副]	سهواً
记录	[阳]	سوابق
燃烧，燃着，着火，怒火	[不及]	سوځېدل
伤心的，不快的	[形]	سوی
江，河；海，洋	[阳]	سین
装饰，打扮	[阳]	سینګار
暴风	[阴]	سېلۍ
	ش	
好样的！好极了！真好！	[叹]	شاباس
（伊朗）国王	[阳]	شاهنشاه
学生，学员	〈波〉[阳]	شاګرد
清凉果汁饮料；用糖和果汁糖浆做的一种甜的饮料	〈阿〉[阳]	شربت
部门；分支	〈阿〉[阴]	شعبه
感觉，知觉；感情	〈阿〉[阳]	شعور
理智的，有意识的，自觉的	〈阿〉[形]	شعوري
嘴唇	[阴]	شونډه
放在各处，分置，拆毁；分开，划分，撕碎，弄破	[及]	شړول
	ښ	
小树枝	〈波〉[阳]	ښاخ
尊敬的，可敬的，受人敬爱的，令人敬重的	[形]	ښاغلی
辱骂，责骂，斥责	[阴]	ښکنځا
	ص	
草原，荒原，荒漠，原野，沙漠	〈阿〉[阳]	صحرا
诚心，诚实；正确；忠心，友谊，友好	〈阿〉[阳]	صداقت
长颈瓶	[阴]	صراحی
清洁，光亮，透明	〈波、阿〉[阴]	صفائی

混合土(粘土、植物细毛和灰的混合物，用来涂地板)	[阴]	صندله
	ض	
失去，失掉；损失，丧失	〈阿〉[阴]	ضائعه
心，内心；良心，天良；打算，愿望	〈阿〉[阳]	ضمير
	ط	
按天性说，生来；当然，自然	〈阿〉[副]	طبعاً
人群；阶级	〈阿〉[阴]	طبقه
分离，分开；离婚	〈阿〉[阳]	طلاق
子午线；经线	〈阿〉[阳]	طول البلد
	ع	
虚，虚弱，弱小，无力	〈波、阿〉[阴]	عاجزي
慈爱，仁慈；同情；情绪；感情	〈阿〉[阴]	عاطفه
世界的；宇宙的	〈波、阿〉[形]	عالمی
法院的	〈阿〉[形]	عدلی
原谅，饶恕，请求；声明，申请 v报告，声明，表示；报告；通知	〈阿〉[阳]	عرض
纬度	〈阿〉[阳]	عرض البلد
决心；顽强；意图，打算；决定	〈阿〉[阳]	عزم
神经	〈阿〉[阳]	عصب
神经的；心理的，心理作用的	〈阿〉[形]	عصبی
现代的；现代化的	〈阿〉[形]	عصری
理智的，智力的；合理的，合乎逻辑的；心理上的，精神的	〈阿〉[形]	عقلی
医治，治疗	〈阿〉[阳]	علاج
建筑物；房屋	〈阿〉[阳]	عمارت
普遍性，共同性，通俗，普及；推广	〈阿〉[阳]	عمومیت

债，债务；条约	〈阿〉[阳]	عهد
	غ	
叛徒，变节者	〈阿〉[阳]	غدار
厅，室，馆	〈阿〉[阴]	غرفه
本能，生性，天性	〈阿〉[阴]	غریزه
箭	[阳]	غشی
浸入，钻进(液体中)	[阴]	غوته
芽，幼芽；蕾，子房	[阴]	غوتی
铺开，展开；摆，布置，安放	[及]	غوړول
	ف	
فتوح 的复数，فتح 的二次复数	〈阿〉[阳复]	فتوحات
方便的时刻，顺利的时刻；机会；余暇；空闲时间	〈阿〉[阳]	فرصت
假想的；假的，虚构的；由宗教或道德规定的	〈阿〉[形]	فرضی
	ق	
接近的	[形][副]	قابو
毛毯；小地毯	〈土〉[阳]	قالین
满足的，满意的	〈阿〉[形]	قانع
赞美颂词，称赞颂扬；感谢	[阴]	قدردانی
宁静，安静，平静，安宁	〈波〉[阳]	قرار،کرار
说话，话语，允诺，许诺，签名，诺言	〈阿〉[阳]	قول
在名册上登记，注册，在书上记载	〈阿〉[阳]	قید
吐，呕吐	〈阿〉[阳]	قی
	ک	
宇宙，天地	〈阿〉[阳复]	کائنات
功绩，丰功伟绩；伟大的英勇行为；所做的事；成就，成绩，成果	[阴]	کارنامه

商队（结队旅行于沙漠之商）	〈波〉［阳］	کاروان
职业，事业；事务，工作	［阳］	کاروبار
异教徒，邪教徒；不信主的，无信仰的	〈阿〉［阳］	کافر
机长，船长	［阳］	کپتان
布，毛巾	［阳］	کپړه
行，队	［阳］	کتار
（挂在驮畜两侧的）驮篮	［阴］	کجاوه
细绒羊毛，绵毛；细羊毛织物	［阳］	کرک
板球	〈英〉［阳］	کرکټ
拖，拉，拽；拔出，抽出	［及］	کشول
小面饼	［阳］	ککوړی
角，角落	〈波〉［阳］	کنج
裂缝，裂痕；接缝，缝合处	［阳］	کند
掘，挖，刨	［及］	کنستل
废墟	［阳］	کنډر
结婚，结婚仪式，订婚，订婚礼	［阴］	کوزده
角，角落	〈波〉［阳］	کونج
泥，泥泞，泥土	［阴复］	کيچړي
有耳平底闷罐	［阴］	کټوه
口袋；卷，把	［阴］	کڅوره
播种	〈波〉［阳］	کښت
聋	［阴］	کڼتيا
香蕉，芭蕉	［阴］	کېله
	ګ	
项链，项圈；装饰物，饰物	［阴］	ګاڼه
搔痒；不住地搔起痒来	［不及］	ګرېدل

左的，左面的，左边的，左侧的	［形］	گس
花瓶	［阴］	گلدانی
穹窿状建筑	［阳］	گنبت
低语，耳语，私语，絮语声	［阳］	گونگوسی
角落；棱角；方面；谦虚；边缘；［形］久远的，疏远的	〈波〉［阴］	گوښه
抱怨	［阴］	گیله
谈话，交谈，会谈	［不及］	گړېدل
ل		
拉丁文，拉丁语	［阳］	لاتین
贪婪；受贿	［阳］	لالچ
袖子	［阳］	لستوڼی
词，语，话，语言	〈阿〉［阳］	لفظ
浓烟	［阴］	لوخړه
烟，冒烟	［阳］	لوگی
颤抖，哆嗦	〈波〉［形］	لړزه
震动，震颤；哆嗦，发抖，颤抖，打颤；战栗	［不及］	لړزېدل
弄上污点，留下污点	［及］	لړل
非常小的，微小的	［形］	لږغوندی
（去叶的）细树枝，树条	［阴］	لښته
可是，但是，然而	〈阿〉［副］	لېکن
م		
物体，物质实体；万物，物质性；物质福利	［阳］	مادیات
行军；进军，长征	［阳］	مارش
行家，专家	〈阿〉［阳］	ماهر
起点，出发点；起源，来历；原则，原理	〈阿〉［阳］	مبدأ

受影响的	[形]	متأثر
结了婚的，有妻子的，有家室的	〈阿〉[形]	متأهل
死者	[阳]	متوفی
新的，重新开始的；重复的，进一步的；更生的，复兴的	〈阿〉[形]	مجدد
苍蝇	[阳]	مچ
爱情；友谊，好感	〈阿〉[阳]	محبت
急需的，需要的，有需求的	〈阿〉[形]	محتاج
被剥夺了……的，不占有……的，没有……的；失去……的	〈阿〉[形]	محروم
无可争辩的，无疑的	〈阿〉[形]	محکم
工作，劳动；重负，困难	〈阿〉[阳]	محنت
讲话的对象，讲话的对方，听者	〈阿〉[阳]	مخاطب
圆锥形的，锥状的	〈阿〉[形]	مخروطی
人，生物，有生命的东西，动物(包括人)	〈阿〉[阳]	مخلوق
时间的长短，持续的时间	〈阿〉[阳]	مد
宗教领袖的支持者(拥护者)，弟子，徒弟	〈阿〉[阳]	مرید
清真寺	[阳]	مزدک
工人；日工，短工，按日计算工资的工人	〈波〉[阳]	مزدور
区间，一段路程；一段(距离)	〈阿〉[阳]	مزل
铜，铜钱	〈波〉[阳]	مس
相等的，相同的，同样的；平等的；等价的	〈阿〉[形]	مساوي
准备好了的，准备就绪的；作好的，现成的	〈阿〉[形]	مستعد
使微笑，使发笑，逗引发笑	[及]	مسکول
顾问，咨议；专家，顾问	〈阿〉[阳]	مشاور
闪闪发光的，闪烁的，光辉的；辉煌的	〈阿〉[形]	مشعشع

辛苦；艰辛	〈阿〉[阳]	مشقت
可疑的，有嫌疑的	〈阿〉[形]	مشکوک
墨水瓶	[阴]	مشوانی
人造的，人工的	[形]	مصنوعی
灾难；不幸；艰难，困苦	〈阿〉[阳]	مصیبت
相似的，类似的，同样的，相同的	[形]	مطابق
工资，薪金	〈阿〉[阳]	معاش
交往，交际，结交，社交	〈阿〉[阳]	معاشرت
建筑学，建筑术；建筑师职业；建筑术的，建筑的	[阴]	معماری
精神状态，精神面貌；观念；理智，理性	〈阿〉[阳复]	معنویات
思想家，哲学家 ；知识分子；[复]知识界，知识分子们	〈阿〉[阳]	مفکر
神圣的，圣洁的，神圣不可侵犯的	〈阿〉[形]	مقدس
范围，规模，程度；标准，准则	〈阿〉[阳]	مقیاس
工人	〈阿〉[阳]	ملازم
意识；思想，想法；区别，不同之点，特点；优越性	〈阿〉[阴]	ممیزه
宣礼塔	〈阿〉[阴]	مناره
散文的	〈阿〉[形]	منثور
站，休息地；车站，停留处，停车场	〈阿〉[阳]	منزل
计划	[阴]	منصوبه
逻辑；逻辑思维；对话，谈话，交谈，发言	〈阿〉[阳]	منطق
诗的，诗体的	〈阿〉[形]	منظوم
爪，脚掌；爪子	[阴]	منگله
水罐	[阳]	منگی

技能，技巧；技艺；熟练手法，本领，本事	〈阿〉[阳]	مهارت
受过教育的，有修养的；文明的；无瑕疵的，精制的；文雅的	〈阿〉[形]	مهذب
赞同，同意；相符合，与……相适应；适用，适宜	〈阿〉[阳]	موافقت
壕，堑壕；土沟；深沟；阵地	[阴]	مورچه
情况，情势，局面	〈阿〉[阴]	موقع
大木橛子	[阳]	موږی
大胆，勇敢，英勇，勇气	[阴]	مړانه
ن		
稀有的，稀少的，罕见的，不常有的，不寻常的	〈阿〉[形]	نادر
细致的，精细的	〈波〉[形]	نازک
排水管	〈波〉[阳]	ناوه
文雅，优雅，优美，雅致	[阳]	نزاکت
家谱的；亲属的，亲戚的；同血缘的	〈阿〉[形]	نسبی
药方，处方	〈波〉[形]	نسخه
(射击，射箭)靶子；目标；证号，符号，标记，标志	[阴]	نشانه
叫喊声，大声吆喝	〈阿〉[阴]	نعره
好意，好感，善意，同情，行善，好意对待	〈阿〉[阳]	نعمت
鼓	[阴]	نغاره
捲搓，捻，拧，拧紧，捲起，撩起，包起来	[及]	نغاړل
现钱；现金	〈阿〉[阳]	نغد
捲，搓，捻，捆，缚，拧紧，捲起；扑倒，推翻，打倒，摆脱	[及]	نغښتل
亏损，亏本，损失，损害，伤害	〈阿〉[阳]	نقصان
孙，堂孙，外孙	[阳]	نمسی

运动(社会的); 发展	〈阿〉[阳]	نهضت
儿媳妇	[阴]	نڊور
	و	
(表示高兴)妙极了，太好了，好极了	[叹]	واه
原因，理由，口实，借口	〈阿〉[阴]	وجه
恐惧，害怕，畏惧	〈阿〉[阳]	وحشت
可怕的，令人畏惧的，吓人的，恐怖的，骇人听闻的	[形]	وحشتناک
野的，野蛮的，凶残的，凶猛的，残暴的	[形]	وحشيانه
建设的，修建好的	[形]	ودان
发展	[阴]	وده
侄，侄子	[阳]	وراره
(山)坡，斜坡	[阳]	ورسک
后脑壳，后脑勺	[阳]	ورمېږ
兄弟关系，兄弟情义	[阳]	وروګلوی
能力; 努力	[阳]	وس
制定，规定，确定; 设立; 状况，状态	〈阿〉[阴]	وضع
遗嘱捐赠的，遗赠的; 献身的，献给的	〈阿〉[形]	وقف
骄傲，光荣，荣幸; 尊重，尊敬，荣誉，敬重，恭敬	[阳]	وياړ
害怕，忧愁，悲伤，痛苦	[阳]	وير
悲痛的，不幸的; 悲剧的，悲惨的; 发愁的，闷闷不乐的	[形]	ويرجن
熔解，熔	[不及]	ويلېدل
毛的，毛制的	[形]	وړين
信任，信赖	[阴]	وېسا

ه		
指示，教训，训导，指导	〈阿〉[阳]	هدایت
墓地，陵园	[阴]	هدیره
医院，病院	〈英〉[阳]	هسپتال
财富，财产，所有物	[阴]	هستی
震惊的，惊倒的，大吃一惊的	[形]	هک پک
努力，勤奋	〈阿〉[阳]	همت
邻人，邻居	〈波〉[阳]	همسایه
航空术，航空学	〈波〉[形]	هوانوردی
本质，实质；个性，特性：民族特性	〈阿〉[阳]	هویت
国家的居民；国民；同乡；同胞	[阳]	هیوادوال
惊异的，诧异的，惊奇的；失望忧郁的，忧愁的，悲伤的；惊恐不安的	[形]	هېښ
ی		
攻击，突击，进犯，侵犯，突然而起，袭来，突来，出其不意	[阳]	یرغل
沸腾起来	[不及]	یشېدل
步调，步伐	[阳]	یون